
# منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه:

## د پولو دواړو غاړو ته تولید او سوداګري او د نیمروز پولې ته څېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې یې رول

ډیویډ منسفیلډ

چنګاښ ۲۰۲۰




د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
AREU
څېړنه د بېه افغانستان لپاره

drugs & (dis)order

لیکوال: ډیوید منسفیلد

ژباړه: احسان الله ځیرک



د خپروني کوډ ۲۰۱۳ پ

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۲-۲۴۱-۲۲۴



©۱۳۹۹ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره دغه څیړنه له انګلیسی نه پښتو ژبی ته ژباړلی ده. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د نړیوالو سازمانونو د هغه نړیوال کنسرسیوم یوه فعاله غړی ده کوم چی دغه څیړنه یی چمتو کړی. په دې څیړنه کې وړاندې شوي نظریات د لیکوالانو دي او د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری، نړیوالو ننګونو د څیړنې بودجې په سازمان، بریتانیا حکومت یا هم همکارو سازمانونو پورې تړاو نه لري.

که چیری دغه خپرونه بیا چاپ، ذخیره او یا بریښنایي بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.



GCRF Global Challenges Research Fund

UK Research and Innovation

# د نشه يي توکي او بې نظمۍ (یا نظم) په اړه

د جګړې وروسته د پاېښت لرونکو اقتصادونو رامنځته کول، چې د نړیوالې ننګونو څلورکلنه څېړنیزه پروژه ده، چې د غیر قانوني مخدره توکو اقتصاد په افغانستان، کلمبیا او میانمار کې په سوليز اقتصاد بدل کړي.

اکنسرسیوم د نړیوالو او پېژندل شویو معتبرو بنسټونو څخه جوړ دی چې په مخدره توکو، شخړه، روغتیا او پراختیا کې غوره او ښه تخصص لري. د دې پروژې مشري د لندن (SOAS) پوهنتون سره ده او د پروژې همکاران د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (Alcis)، (AREU)، د کاچین لېنډ څېړنیز مرکز (KRC)، د لندن حفظ الصحې او ګرمسیري درملو پوهنتون (LSHTM)، د پایداره ودې او څېړنو موسسه (OSDR)، د اکسفورډ پوهنتون د نړیوالو او سیمه ییزو مطالعاتو پوهنځی (OSGA)، مثبت منفی، د شان هیرالډ خري اژانس (SHAN)، لاس اندیس پوهنتون، او د کولمبیا ملي پوهنتونونه دي.

د پروژې موخې:

۱. د مخدره توکو او غیر قانوني اقتصادونو او د دې له امله په وسله والې شخړې، عامې روغتیا او معیشت باندې د اغیزو د نویو شواهدو بنسټ تقویه کول. او دا په افغانستان، کلمبیا او میانمار کې د یو مقایسوي او ریښتیني څېړنې له لیاري چې د دوي په سرحدي سیمو کې په ګډه په لویه پیمانه د نړې په سطحه د هیروئینو او کوکاینو تولیدونکې دي څېړنه کوي.

۲. د نوی پروګرامونو او د پالیسیو اصلاحاتو رامنځته کول چې د مخدره توکو ځپل شویو سیمو کی د تاوتریخوالي په کمولو او دوامداره او عام شموله پراختیایی او معیشتی پروګرامونو سره مرسته وکړی.

۳. د افغانستان، کلمبیا، میانمار او انګلستان څېړنیزو بنسټونو څخه باید د څېړونکو او څېړنې یوه شبکه جوړه شي. د دې پروژې موخه مخدره توکی دي مګر د څېړنی لمنه به وغځول شی چې نور غیري قانوني اقتصادونه هم په کی شامل کړی. دا آجنډا به د څېړنیز کنسرسیوم د جوړیدو له لاری چې د غیرقانوني اقتصادونو اړول دي په مخه به وړانګی. د نشه يي توکي او بې نظمۍ (یا نظم( په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره له دي کورپانې څخه لیدنه وکړئ www.drugs-and-disorder.org او مونږ دلته په Twitter@drugs_disorder تعقیب کړی. په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نورو سازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویدن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The French Medical Institute for mother and children (FMIC), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), and UN Women.

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

Prospect Think Tank Awards
★ WINNER ★
International • Social

# فهرست مطالب


د لیکوال په اړه ..... د

مننلیک ..... ه

لنډیز: ..... و

۱. سریزه ..... ۱

۲. میتودولوژی ..... ۴

۱.۲ د ښېړنې موخې او ښېړنیزه تګلاره ..... ۴

۲.۲ د ښېړنې بڼه او پلي کېدل ..... ۵

۳. شالید: نیمروز ..... ۱۲

۴. د ښېړنې پوښتنو ته ځوابونه ..... ۲۳

۱.۴ فزیکي جغرافیا ..... ۲۴

۲.۴ فزیکي زېربناوې ..... ۳۰

۳.۴ جیوپولټیک ..... ۳۴

۴.۴ تاوتریخوالی ..... ۴۰

۵.۴ تنظیمونکي رژیمونه ..... ۴۳

۲.۴ شبکې او ملاتړ ..... ۴۷

۵. اصلي موضوعات یا د شننې وړ کرښې چې لا زیاتې ښېړنې ته اړتیا لري ..... ۴۸

۲. پایله او پراخ عواقب ..... ۵۲

# د لیکوال په اړه

ډیویډ منسفیلډ یو خپلواک لیکوال او سلاکار دی، چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې سره له ۲۰۰۵ زېږدیز کال را په دېخوا کار کوي. ۲۴ دورې کېږي، چې نوموړی په افغانستان کې د کلیوالي ژوندانه او د کوکنارو د کښت په تړاو څېړنې ترسره کوي. دا څېړنه هم د افغانستان په کلیو او بانډو کې له ۱۲,۰۰۰ ټولشموله مرکو څخه جوړه شوې ده. ښاغلی ډیویډ په پراختیایي څېړنو کې د لندن له ختیځ پېژندنې او افریقایي څېړنو پوهنځي څخه د دکتورا سند لري او (پرشګو د جوړ دولت: اپیمو څنګه افغانستان کمزوری کړی دی) کتاب لیکوال هم دی، ترڅنګ یې په افغانستان کې د کلیوالي ژوندانه دغه راز نشه یي توکو اقتصاد په تړاو له ۷۵ زیاتې څېړنې کړې دي.

# مننلیک

زموږ له اوږدمهاله ملګرو هر یو السیس( Alcis ) ، د پایداره ودې لپاره د څېړنو موسسې دغه راز د افغانستان د څېړنې او ارزونې له ادارې څخه یوه نړۍ مننه کوو ، چې د دغه راپور یا څېړنې په چمتو کولو کې یې له موږ سره هراړخیزه همکاري کړې ده. په تېره بیا د السیس(Alcis ) له ادارې ځانګړې مننه کوو ، چې له سپوږمکۍ څخه د اخېستل شویو انځورونو په شننه کې یې مرسته وکړه او د پایداره ودې لپاره د څېړنو له موسسې څخه د سیمه ییز کار او د څېړنې طرحې د چمتو کولو له پار مننه کوو. د دې ترڅنګ له حاجي سلطان محمد احمدی، ریچارد بریټان، ویلیام بیرد ، پاول فیشتین، انتوني فیتزربیت، غلام رسول، الیکس سوډرهام او د لندن اقتصادي مطالعاتو له پوهنځۍ څخه پر لومړنۍ مسوده د دوی د نظریاتو له کبله مننه کوو.

# لنډیز:

نیمروز ولایت تر ډېره د اوبیزې حوزې، غیرحاصلخیزې دښتې او محدودې کرنیزې ځمکې لرونکي ولایت په توګه چې نفوس یې هم تر ډېره کم دی، پېژندل کېږي. د دې ترڅنګ د تېرو دوو لسیزو په ترڅ کې یاد ولایت د افغانستان لپاره د نړیوالې سوداګرۍ پر اصلي مرکز بدل شوی، چې د حکومت له لوري د ګمرکي عوایدو راټولولو له مخې له ننګرهار، هرات او بلخ وروسته په درېیمه درجه کې ځای لري. د یاد ولایت اقتصادي او ستراتیژیک اهمیت د هغې ناقانونه سوداګرۍ د زیاتې کچې له کبله لا زیات شوی، چې د درې اړخیزې پولې پر سر کېږي او د نیمروز ولایت وګړي په ایران او پاکستان کې له خلکو سره نښلوي. د نیمروز مرکز زرنج ښار چې د ۲۰۰۸ زېږدیز کال په پرتلې په ۲۰۱۹ کال کې له دوه چنده هم زیاته پراختیا موندلې، له فراه او هلمند ولایتونو څخه هم سوداګر راجلبوي. دا کار د په سویل لوېدیځ کې د نیمروز ولایت سیمه ییزه ونډه منعکسوي او ترڅنګ یې حتی د هغو وګړو لپاره هم خوندي چاپېریال دی، چې زیات شتمن دي.

پردې سربېره، د نیمروز له لارې د پولو دواړو غاړو ته د سوداګرۍ مخ په وړاندې زیاتوالی د جیوپولټیکي لومړیتوبونو بدلون په ډاګه کوي، ځکه افغان حکومت په دې هڅه کې دی څو پر پاکستان د سوداګرۍ لپاره خپله تکیه راکمه کړي. په واقعیت کې د نیمروز ولایت اهمیت مستقیماً د ایران او هندوستان حکومتونو له ګټو سره تړلی دی، ځکه د هندوستان حکومت په دې هڅه او لټه کې دی چې له افغانستان سره خپلې اقتصادي او سیاسي اړیکې پیاوړې کړي او له پاکستان سره د افغانستان سوداګرۍ دغه راز د چین- پاکستان اقتصادي دهلیز (سپیک CPEC) لپاره بدیل پیدا کړي. هندوستان د ایران په چابهار بندر او په نیمروز او ایران دواړو کې پر زېربناوو زیاته پانګونه کړې ده څو له افغانستان سره خپله سوداګري پیاوړې کړي او له دې لارې د ګوادر او کراچۍ بندرونو ارزښت راکم کړي. ایران چې د امریکا متحده ایالاتو له لوري د بندیزونو له کبله د کاغذي پیسو په لاس راوړلو هڅه کوي او غواړي څو له افغان حکومت سره د اوبو پر سر خپلې تاریخي شخړې هوارې کړي ترڅنګ یې خپل سرکش بلوچ نفوس هم ارامه کړي، په دې هڅو کې ډېر زیات لېواله دی. بل پلو ایران هم ګڼ شمېر زېربنایي پروژې تمویل کړې دي او د هندوستان – افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ د هڅونې لپاره یې ترجیحي تعرفې هم وړاندې کړې دي. له افغانستان سره پر پوله د اغزن تار او دیوال دغه راز د چابهار او نیمزور ترمنځ د لېږد رالېږد لارو په برخه کې پانګونې د میلاک له لارې د سوداګرۍ مسیر له یو کولو سره مرسته کړې ده او په تهران او کابل کې د دواړو حکومتونو لپاره یې په مساوي توګه عواید هم زیات کړي دي.

دغو ټولو پورته یادو شویو موارد و نیمروز ولایت د اپیمو، کوکنارو او میتافیتامین په څېر د ناقانونه نشه یي توکو او خلکو د قاچاق لپاره د پولو دواړو غاړو ته د ارتباطي سیمې ترڅنګ د ډیزلو، سیمنټو، او ټرانزېټي توکو لپاره په یو لوی دهلیز بدل کړی دی. دا اقتصادي تحرکات یاد ولایت، چې یو وخت لېرې پرته دښته وه د افغانستان له نورو ولایتونو او نړیوالو بازارونو سره نښلوي. پردې سربېره، د دې اقتصادي فعالیتونو ارزښت له ډېر اهمیت برخمن دی او سوداګرو، افغان حکومت دغه راز وسله والو ډلو ته په سلګونه میلیونه ډالر عواید او باج رامنځ ته کوي ترڅنګ یې په دغه اړینه سرحدي سیمه کې د وګړو لپاره هم اړینې دندې او عواید رامنځ ته کړې دي.

دا څېړنیزه رساله د پولو دواړو غاړو ته د سوداګرۍ په لوی مرکز د نیمروز ولایت بدلېدل او د یاد ولایت راپورته کېدو دلایل څېړي؛ ترڅنګ یې د فزیکي جغرافیې، جیوپولټیکي ګټو، زېربنایي پانګونو، تاوتریخوالي دغه راز د رسمي او نارسمي تنظیمي رژیمونو په ګډون هغو بېلا بېلو عواملو ته اشاره کوي، چې د ځانګړو توکو پر سوداګریزو لارو یې اغېز کړی او دا هم په ډاګه کوي چې څوک له دې کار باج ترلاسه کوي. دا څېړنیزه رساله له هغو خلکو سره له ۳۰۰ پر زیاتو مرکو ولاړه ده، چې د ګڼ شمېر توکو په سوداګرۍ کې ښکېل دي او د ارزښتیز ځنځیر په بېلا بېلو ستراتیژیکو نقطو کې پراته دي. دغه راز دا څېړنه د پولو دواړو غاړو ته د سوداګرۍ ارزښتیزو ځنځیرونو د جغرافیې په پېژندلو او په ډاګه کولو کې له سپوږمکۍ څخه د اخېستل شویو لوړ کیفیت لرونکو انځورونو هم ګټه پورته کوي ترڅنګ یې د سیمه ییز کار پایلې مستندوي او چېرته چې امکان لري په لویه جغرافیاوي سیمه کې دغه موندنې په تفصیل سره راسپړي.

د افغانستان په زیاترو برخو په تېره بیا په سویل ختیځ زون کې دا غرونه او د غرونو په منځ کې درې دي، چې د هېواد د ننه او له هېواد د باندې د ټرانسپورټي لارو په بدلون کې ونډه لري. خو دا څېړنه په ډاګه کوي چې په سویل لوېدیځ کې د نیمروز په څېر ولایتونو کې دا د هلمند سیند او وچې دښتې دي، چې د توکو او خلکو د تګ مسیر په وړاندې یې طبعي خنډونه رامنځ ته کړي. د هلمند سیند ژوروالی او پراختیا تردې کچې ده، چې یوازې په ځینو ځانګړو ځایونو کې ترې د تېرېدو امکان شته، هغه هم په هغو ځایونو کې چېرته چې د اوبو جریان ورو دی یا دا چې پل یا هم کښتۍ موجوده وي. په داسې حال کې چې د نیمروز دښته ډېره ګرمه، پراخه او په ډېرې سختۍ د سفر کولو وړ ده، له دې کبله د سفر لپاره باید د یادې سیمې په تړاو کافي اندازه معلومات یو څوک ولري او ښه چمتووالی ورته ونیسي. دې ته په ورته ډول سیند او دښته دواړه په خپلو اوږدو کې طبعي تم ځایونه لري چې په ترڅ کې یې سرحدي سوداګرۍ ته مسیر موندل کېدای شي. دا څېړنه په ډاګه کوي چې په ننګرهار کې د پخواني کار په څېر په نیمروز کې هم عواید او باج د هغو خلکو په لاس کې دي چې پر دغو تم ځایونو ولکه لري او دا وړتیا لري څو پر هغو توکو مالیات وضع کړي، چې له یادو لارو تېرېږي.

پولې ته د څېرمه پرتو نورو ولایتونو او په ختیځ کې د مخکنۍ څېړنې په څېر د دې څېړنې شواهد د دې ناقانونه اقتصاد بیاځل وېش ته اشاره کوي. پر یاده لاره سفر له مختلفو برخو تشکیلېږي چې د لارې په اوږدو کې بېلا بېل ځایي متنفذین په ځانګړو سیمو کې د توکو لېږد رالېږد او سوداګرۍ مسوولیت پرغاړه لري. د پولو دواړو غاړو ته د توکو سوداګرۍ د نیمروز او د پولې هاخوا ته په ایران او پاکستان کې د خلکو لپاره د پام وړ عواید ، باج او کاري فرصتونه رامنځ ته کړي. حتی په زیاترو سوداګریزو معاملو کې له سیاسي او ایډیولوژیکي اړخه یو د بل مخالفې ډلې یې هم سره را یو ځای کړي دي.

دا څېړنه د وسله والو ډلو او دولتي لوبغاړو ترمنځ همکارۍ او جوړجاړي ته هم اشاره کوي او هغه عمومي ګټې په ډاګه کوي چې د سوداګرۍ او باج اخېستنې په پیاوړتیا کې ونډه لري؛ ترڅنګ یې د ځایي سوداګرو او خلکو د شبکې ارزښت ته اشاره کوي. مستندې بېلګې په ډاګه کوي چې سوداګر له طالبانو غواړي څو په غرغوري کې د نابرابرو او تادیبي باج اخېستنو مخنیوی وکړي او له حکومت هم غواړي څو طالبانو ته اجازه ورکړي، چې په زرنج ګمرک کې د مالیاتو راټولولو لپاره خپل یو استازی وګماري. د دې غوښتنې له دوام وروسته طالبان دې ته اړ شول څو داسې یو نارسمي تنظیموونکی رژیم رامنځ ته کړي، چې د سوداګرۍ په وړاندې خنډ ونه اوسي او ځایي سوداګر او خلک دې ته اړ نه کړي، څو له دوی پردې شي او کرکه وکړي.دې لاسوهنې د سوداګرو لپاره یو داسې سیستم رامنځ ته کړ، چې په ترڅ کې کولای شي خپل ګواښونه په سم ډول مدیریت کړي او د سوداګرۍ لګښتونه هم راکم کړي. نورې بېلګې چې دلته په دې څېړنه کې یې یادونه شوې ده، د سوداګرو او لېږدوونکو له لوري هغې اړتیا ته اشاره کوي، چې له مخې یې یو داسې رژیم ومنې چې هم ځانونه ورسره عیار کړي او هم یو ابتکار وي څو باج اخېستل راکم، د توکو حجم زیات او زیاته ګټه ترې په لاس راشي.

دا څېړنه د نیمروز ولایت لپاره د پولې دواړو غاړو اقتصاد د ارزښت ځینې ځانګړې اړخونه هم وړاندې کوي او ترڅنګ یې په افغانستان او سیمه کې د نیمروز ولایت ورځ تر بلې زیاتېدونکی ارزښت په ګوته کوي. د بېلګې په توګه د دې څېړنې اټکل دا دی چې په **۲۰۱۹** زېږدیز کال کې په نیمروز ولایت کې د خلکو له قاچاق څخه **۳۵۲** میلیونه امریکایي ډالر عواید د یو کال په موده کې په لاس راغلي، په داسې حال کې چې دا اندازه په **۲۰۱۵** زېږدیز کال کې **۲۴۳** میلیونه امریکایي ډالر وه، چې هره ورځ به تر **۲۰۰** پورې پیک آپ موټر له زرنج ښار څخه د سویلي کرښې پاکستان پر لور بارېدل. په **۲۰۱۹** زېږدیز کال کې د میلاک له لارې له ایران څخه د ډیزلو سوداګري تر **۱۵۵** میلیونه امریکایي ډالرو پورې وه، چې حکومت ته یې **۱۸** میلیونه ګمرکي عواید او طالبانو ته یې **۲** میلیونه امریکایي ډالر د باج له لارې عواید چمتو کړي وو. په غلطو ټانکرونو او نورو کانټېرونو کې د میلاک له لارې د تېرېدونکو ډیزلو د قاچاق اټکلي ارزښت په یاد ولایت کې د رسمي سوداګرۍ له حجم او ارزښت له کچې هم اوړي. د نیمروز ولایت ستراتیژیک موقعیت د نشه یي توکو مخ په وړاندې زیاتېدونکي ارزښت له کبله( چې او سمهال یو د ودې په حال کې صنعت دی او د اپیډرا بوټي څخه چې په مرکزي مرتفع سیمو کې په وحشي بڼه پیدا کېږي په ګټې اخېستنې د میتافیتامین په تولید کې استعمالیږي ) د پام وړ ګرځېدلی او دې سوداګرۍ د یاد ولایت خلکو ، اړینو سیاسي- نظامي متنفذینو او د افغانستان په نورو برخو کې د نشه یي توکو په سوداګرۍ کې ښکېلو کسانو ته لا زیات عواید ، کاري فرصتونه او د باج زمینې مساعدې کړي دي.

د پولې دواړو غاړو ته د دې ډول سوداګرۍ ګټې ترې دې کچې دي، چې که چېرې دولت یا هم نور لوبغاړي په ځانګړو ځایونو کې د دغو توکو د تولید او سوداګرۍ د مخنیوي یا محدودیت هڅه وکړي، د ځانګړې اقتصادي مافیا له لوري له نیوکې، مقاومت او حتی تاوتریخوالي څخه ډکو اقداماتو سره مخ کېږي. د سون توکو، نشه یي توکو او نورو توکو د قاچاق په برخه کې د افغانستان، ایران او پاکستان پر پولو د حکومت پرله پسې مصلحت په پام کې نیول د دغه ناقانونه توکو بیاځل وېشونکې ماهیت او پولې ته د څېرمه پرتو سیمو د ژوندانه اړتیاوو په تأمین کې د دوی ونډه په ډاګه کوي. پردې سربېره، د هغو خلکو شبکه چې په دې سوداګرۍ کې ښکېل دي، له ولایتي، ملي او سیمه ییز واک او ځواک خاوندانو سره د دوی اړیکې د اقداماتو په برخه کې د رسمي چارواکو او وسله والو ډلو وړتیا رامحدودوي.

بلاخره، دا څېړنه په ډاګه کوي چې د پولې هاخوا په ایران او پاکستان کې د لوبغاړو ګټې د نیمروز په څېر یو ولایت په اقتصادي او سیاسي ثبات کې څومره له ارزښت برخمنې دي. په دې کې شک نشته چې په تهران کې چارواکي په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې د طالبانو رژیم په یاد لري او له هر ډول هغه سیاسي جوړجاړي به وېره ولري، چې په کابل کې د دوی (طالبانو) تر واک لاندې رژیم رامنځ ته کړي. پردې سربېره، په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې له افغانستان سره د ایران سوداګرۍ کچه ۲ میلیارده امریکایي ډالره وه، چې له پاکستان سره د افغانستان د سوداګرۍ دوه برابره جوړوي او د ځینو زېربناوو دغه راز فعالیتونو پر بنسټ د قضاوت له مخې ګڼ شمېر رسمي او نارسمي عبوري نقطې چې د افغانستان–ایران پولې په اوږدو کې لیدل شوي، په اسانۍ سره کولای شي له پاکستان سره په ورته ډول د نارسمي سوداګرۍ له کچې برخمنه اوسي. دا هغه عواید دي، چې ایران یې هېڅکله هم نه غواړي له لاسه ورکړي، په تېره بیا د امریکا متحده ایالاتو له لوري د بندیزونو او کرونا وایروس د بدو اغېزو له کبله په هېڅ صورت هم نه غواړي او په کابل کې د نوي حکومت په رامنځ ته کېدو او د پاکستان په وړاندې د سوداګرۍ نوي سیاست غوره کولو په ترڅ کې ښایي د ایران له سخت غبرګون سره مخ شي. یو بالقوه ځواب به دا وي، چې ایران به د اوبو حقوقو پر سر له رامنځ ته شوې سولې او هوکړې مخ واړوي او د نیمروز، هلمند او فراه په څېر ولایتونو کې به پر لویو خړوبوونکو کانالونو او برېښنا بندونو خپلو بریدونو ته زیاتوالی ورکړي.

د پاکستان اقتصادي او سیاسي ګټې د هغوی له ډلې د بلوڅانو تحرکاتو راکمولو ته اړتیا، چې د چین او پاکستان اقتصادي دهلیز(سیپیک) د زېربناوو په وړاندې یې بریدونه تنظیم کړي، پر نیمروز ولایت هم اغېز کوي. د پاکستان له لوري پر پوله جوړې شوي زېربناوې د ایران له زېربناوو سره ورته والی نه لري، ځکه پاکستان له افغانستان سره پر پوله پر تګ راتګ او د توکو پر لېږد تر ډېره ولکه لري. پردې سربېره، زورواکي ډلې چې د دغه ناقانونه جریان له دوام څخه چې پر پوله د تأسیساتو او زېربناوو په منځ کې د ستراتیژیکې خلاء له کبله یې ترلاسه کوي او په دې څېړنه کې ورته اشاره شوې ده، هم تر اغېز لاندې دی. دا سې لیدل کېږي، چې ایران ته په ورته ډول به پاکستان هم پر پوله د قاچاق مخنیوی وکړي، خو پر ځای به یې د ایران له څېر له نویو جوړو شویو زېربناوو د خپلو عوایدو زیاتولو او په خپل کور د ننه دغه راز افغانستان کې د ستراتیژیکو متحدینو د زیاتولو لپاره ګټه پورته کړي.

# ۱. سریزه

دا څېړنیزه رساله د هغو دوو څېړنیزو مقالو له ډلې لومړنۍ رساله ده، چې په افغانستان کې د نشه يي توکو او نظم – بې نظمۍ پروژې د څېړنې لپاره د لومړني څېړني پړاو مستند سازي کوي. د دې څېړنې مشري د ليکوال له لوري شوې او د پايداره ودې او څېړنې اداري او السيس سره په ګډې همکارۍ پرمخ وړل شوې. دا څېړنه د افغانستان په ختيځ کې د پاکستان پولې ته څېرمه په ننګرهار او بيا په سويل لوېديځ نيمروز ولايتونو کې چې درې اړخيزې پولې ته څېرمه موقعيت لري او له ايران، پاکستان دواړو سره په ګاونډ کې پرته ده، ترسره شوې ده.[1]

د دې څېړنې لومړۍ رساله «پر آسونو، پيک آپ او کانټېرونو لېږد رالېږد: د پولو دواړو غاړو ته توليد او سوداګري او پولې ته د څېرمه ننګرهار ولايت په سياسي اقتصاد کې يې ونډه» د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري له لوري د ۲۰۲۰ زېږديز کال په جولای مياشت کې خپره شوې ده.[2] دا دويمه رساله هغه څېړنه مستند سازي کوي، چې د ۲۰۱۹ زېږديز کال په منځنيو کې په نيمروز ولايت کې ترسره شوې. دې ته په پام چې د څېړنې دا لومړنۍ پړاو راسپړونکی پړاو وو او له عامه تګلارو، ميتودونو او موخو په ګټې اخېستنې پرمخ وړل شوی دی نو حتمي ده چې د دې دوو راپورونو په سريزه او ميتودلوجۍ برخو کې به تر يوې اندازې ورته والی موجود وي. دې ته په ورته ډول دا دويمه څېړنه د ننګرهار په تړاو له لومړنۍ څېړنې سره يو ځای د هغه چا لپاره ګټوره ده، چې غواړي د پولو دواړو غاړو ته د ناقانونه اقتصاد پر لارو چارو پوه شي، يا دا چې په يوازېتوب سره د هغه چا لپاره ډېره ګټوره ده، چې غواړي په سويل لوېديځ نيمروز ولايت کې د ناقانونه نشه يي توکو پر سوداګرۍ پوه شي او معلومات ترلاسه کړي.

د يادونې ده، چې په افغانستان کې د دې څېړنې موخه دا وه څو د هغو فعالانو، توکو او چارو په تړاو پياوړی او متحرک درک رامنځ ته کړي، چې په ننګرهار او نيمروز ولايتونو کې پولې ته د څېرمه سيمو په بدلون کې رول لري. که څه هم په ټوله کې د نړيوالو ننګونو څېړنې د تمويل پروژې تمرکز د افغانستان، کولمبيا او ميانمار هېوادونو پولو ته په څېرمه پرتو سيمو کې له جګړې د سولې پر لور په تګ کې د ناقانونه نشه يي توکو پر ونډې دی، خو په افغانستان کې د دې پروژې څېړنيزې ډلې دا پرېکړه وکړه څو د څېړنې په دې مقدماتي پړاو کې په يادو ځانګړو سيمو کې د ګڼ شمېر اړينو توکو تر توليد، سوداګرۍ او لېږد رالېږد هم وغځوي.

دې پرېکړې څو موخې درلودې. تر ټولو اړينه يې دا وه چې د يادې پرېکړې په ترڅ کې د څېړونکو لاسرسي او امنيت په برخه کې اسانتياوې رامنځ ته شي، خو ترڅنګ يې پولې ته په هره پرته سيمه کې د ګټو او قلنګ لويو سرچينو په پرتلې د نشه يي توکو اړوند ارزښت او اهميت په پوهېدا کې هم د يوې غوره ستراتيژۍ په توګه کار کړی دی. پر دې سربېره دا هم په ډاګه کوي، چې ايا ناقانونه نشه يي توکو د نورو په پرتلې له تاوتريخوالي او بې ثباتۍ سره مرسته کړې او که نه؟ دا هغه فرضيه وه، چې پر پخوانيو زياترو څېړنو يې سيورۍ غوړولی و او پر شته رسمي علمي ادبياتو حاکمه وه. دې پرېکړې ته په پام، د څېړنې لومړنۍ مقدماتي پړاو په دې هڅه کې دی، څو لاندې عمده پوښتنو ته ځواب ووايي:

أ. د منرالونو، نشه يي توکو او نفتو په څېر د اړينو توکو توليد او لېږد رالېږد پولې ته د څېرمې پرتو سيمو پر سياسي او اقتصادي ثبات څه اغېز لري؟

ب. ايا دغه اغېز په ناقانونه توکو د قانوني توکو لېږد او ناقانونه توکو لېږد کې يو تر بله توپير کوي؟

ج. د بېلا بېلو توکو او ترانسپورټي لارو اړوند اهميت د بدلون راز په څه کې دی؟ او دا کار په سياسي او اقتصادي شبکو يا تاوتريخوالي کې له بدلون سره څه تړاو لري؟

---

۱ بيا د السايز(Alcis) له اداري ځانګړې مننه کوو، چې له سپوږمکۍ څخه د اخېستل شويو انځورونو په تحليل کې يې مرسته وکړه او د پايداره ودې لپاره د څېړنو له موسسې د ساحوي کار او د څېړنې طرحې د چمتو کولو په پار مننه کوو. د دې ترڅنګ له حاجي سلطان محمد احمدی، ريچارد بريټان، ويليام بيرد، پاول فيشتين، انتوني فيتزربيت، غلام رسول، اليکس سوډرهام او د لندن اقتصادي مطالعاتو له پوهنځۍ څخه پر لومړنۍ مسوده د دوی د نظرياتو له کبله مننه کوو.

۲ ډيوېډ منسفيلډ» پر آسونو، پيک آپ او کانټېرونو لېږد رالېږد: د پولو دواړو غاړو ته توليد او سوداګري او پولې ته د څېرمه ننګرهار ولايت په سياسي اقتصاد کې يې رول» د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، د ۲۰۲۰، جولای مياشت.

د. کومو لاسوهنو د دغو توکو تولید او لېږد رالېږد کمزوری کړی/ یا یې پیاوړی کړی؟ کومو پرېکړو یې په منځ ته راتګ او تطبیق کې ونډه درلوده؟ او بلاخره دغه لاسوهنې پولې ته د څېرمه پرتو سیمو پر سیاسي او اقتصادي ثبات څه اغېزې کړې دي؟

د څېړنو اړینو اصلونو په پام کې نیول او د نشه يي توکو له ازمایښت ډېره کول دغه راز په څېړنه کې د ښکېلو کسانو امنیت او خوندیتوب د دې څېړنیز کار د بنسټیزې تګلارې لپاره له اهمیت برخمن وو. ترڅنګ یې له سپوږمکۍ څخه له اخېستل شویو آنځورونو ګټه اخېستنه د دې څېړنې د موندنو په اثبات کې ډېره د پام وړ وه دغه راز د هغو اړینو مخبرینو پر مرکو هم تکیه شوې ده چې د ناقانونه نشه يي توکو په برخه کې یې ډېر معلومات درلودل.

دا اړینه ده، څو یادونه وشي چې د ناقانونه نشه يي توکو تولید، پروسس او کارونه پولې ته څېرمه په دغو پرتو سیمو کې د ژوندانه اړتیاوو د پوره کولو لپاره د فعالیتونو او لارو چارو د ټولګې یوه برخه او غالباً د ګڼ شمېر هغو فعالیتونو له ډلې یو فعالیت دی، چې ناقانونه ګڼل کېږي. له دې کبله په دې څېړنه کې له یوې داسې تګلارې کار اخېستل شوی چې « پر نشه يي توکو بحث کوي، نه د نشه يي توکو په تړاو» په دې توګه موږ په دغو لېرې پرتو سیمو کې د اوسېدونکو د ژوندانه اړتیاوو په تامین کې د ناقانونه نشه يي توکو اقتصاد ونډې ته په پراخو پوښتنو کې ځای ورکړی او له داسې مستقیمو پوښتنو مو ډډه کړې، چې د سیاسي مخالفینو له لوري د نشه يي توکو پر قاچاق له تورونو د انکار لامل ګرځي، چې دا خبرې زیاتره په رسمي او علمي ادبیاتو کې ډېرې تر سترګو کېږي.

تجربو ښودلې ده، چې د اپیمو او خشخاشو په تېره بیا د اپیمو د پروسس او قاچاق په تړاو مستقیمې پوښتنې نه یوازې دا چې پام وړ معلومات نه شي لاسته راوړلای بلکې کولای شي څېړونکي له پام وړ ګواښ سره مخ کړي. ترڅنګ یې د سیمې په سیاسي اقتصاد کې د ناقانونه نشه يي توکو د ارزښت په تړاو یو انحرافي درک هم رامنځ ته کوي. له دې سناریو د مخنیوي او په سیمه کې د اړیکو رامنځ ته کولو او پیاوړتیا دغه راز د نورو پراوونو سیمه ییز کارونو او څېړنو لپاره د روښانه لارې د ترسیم په موخه په دې مقدماتي پړاو کې د هغو سیاسي او اقتصادي شبکو پر چېړ تمرکز شوی، چې د نشه يي توکو، کاني موادو، ټرانزیټي توکو او خلکو په ګډون د

یو شمېر توکو د تولید، لېږد رالېږد او پولې هاخوا اړولو په برخه کې اسانتیاوې رامنځ ته کوي. پر دغو ځانګړو توکو د تمرکز ترڅنګ دا څېړنه د افغانستان – ایران پولو په اوږدو کې په هغو اصلي سیمو کې د دغو توکو د تدارک ځنځیر ته هم لاس غځوي، چېرته چې دا توکي تولیدیږي او په رسمي او نارسمي توګه لېږدول کېږي او رالېږدول کېږي. پردې سربېره، پر هغو سیمو او سوداګریزو لارو دغه راز نورو ټرانزیټي توکو هم تمرکز کوي، چې د پولې دواړو غاړو ته زېرمه کېږي او سوداګري یې کېږي. په دې توګه دا څېړنه د مکاني معلوماتو له مخې ډېره غني ده، چې د څېړنې په نورو پړاوونو کې لا پراختیا ورکول کېدای شي او غني کېدای شي.

دا څېړنه په پنځو نورو برخو وېشل شوې. دویمه برخه یې د څېړنیزې تګلارې(مېتودلوجۍ) په تړاو مفصل جزئیات وړاندې کوي. دا برخه د څېړنې تر ټولو ډېر ننګونکي پړاو، ځکه په ډېر ستونزمن امنیتي چاپېریال کې ترسره شوې ده. په دې وروستیو کلونو کې په افغانستان کې په تاوتریخوالي کې د پام وړ زیاتوالی راغلی او له ایران سره پر پوله پرتو هغو سیمو ته لاسرسی چېرته چې قاچاق یوه عادي او معمول موضوع ده، کولای شي څېړونکي له هغو چاروا کو سره په تقابل کې واقع کړي، چې په ناقانونه اقتصاد کې ښکېل دي. د دغو عواملو له منځه وړلو ستراتیژي دلته په ډېرو جزئیاتو بیان شوې ده. د دې څېړنې دریمه برخه ننګرهار ته د پولې په اوږدو کې پروت ولایت تاریخي اهمیت او په افغانستان کې په معاصر تاریخ کې د ملت جوړونې په پروسه کې د یاد ولایت ستراتیژیک اهمیت او د نشه يي توکو په کښت او ولکه کې یې د ونډې دواړو اړخونو له مخې یوه لنډه کتنه کوي.

د څېړنې څلورمه برخه په دې مقدماتي پړاو کې اړینو موندنو ته اشاره کوي. دا برخه په سرحدي نقطو، سوداګریزو لارو، تلاشۍ ځایونو او هغو سیمو کې د مختلفو توکو جریان زیاتوالی او کمښت په ډاګه کوي، چېرته چې توکي تولېدیږي. پردې سربېره، دا هم په ډاګه کوي چې دا بدلونونه پولې ته په څېرمه پرتو سیمو کې د بېلا بېلو سیاسي او اقتصادي متحدینو له لوري پر هغو اړینو ستراتیژیکو نقاطو د اغېز او ولکې د څرنګوالي په باب موږ ته څه راښایي، له کومو ځایونو چې اقتصادي ګټې او قلنګ ترلاسه کېدلای شي. د دې کار ترسره کولو په ترڅ کې د څېړنې دا مقدماتي پړاو دا شونتیا رامنځ ته کوي، چې ښايي ناقانونه توکي د ارزښت او قلنګ له مخې پر پوله د ټرانزیټي سوداګرۍ په تېره بیا د ډیزلو په

پرتلې د حکومت او بلواګرو ډلو دواړو لپاره ډېر کم اهمیت لري. د دې څېړنې دا پړاو دا هم په ډاګه کوي، چې په نیمروز کې د تاوتریخوالي کچه مستقیماً په یاد ولایت کې د نشه يي توکو له تولید او سوداګرۍ سره تړاو نه لري، یا دا چې ووایي څو باید د نشه يي توکو تولید او سوداګرۍ مخنیوی وشي – بلکې د یاد ولایت د تاوتریخوالي کچه مستقمیاً د ایران او پاکستان په څېر د ګاونډیو هېوادونو له جیوپولټیکي ګټو سره تړلې ده، چې دوی غواړي څو په خپله خاروه کې د بلوخ بېلتون غوښتونکو پر سیاسي مشرانو نفوذ وکړي ترڅنګ يې په افغانستان کې پر منابعو او د توکو پر جریان هم نفوذ او اغېز ترلاسه کړي. په دې برخه کې د ایران له لوري د هلمند سیند اوبو ته اشاره کولای شو. د راپور وروستۍ برخه یو شمېر لومړنۍ پایلې وړاندې کوي ترڅنګ يې د لا زیاتې سپړنې او څېړنې لپاره نورې ساحې هم په ګوته کوي.

# ۲. میتودولوژی

## ۲.۱. د څېړنې موخې او څېړنیزه تګلاره

دا څېړنیزه رساله په افغانستان کې د نظم او بې نظمۍ پروژې اړوند لومړنۍ مقدماتي او تشریحي پړاو مستندوي. دغه راز د ننګرهار په ګډون د افغانستان په کلیو او بانډو کې د اصلي څېړونکي له ۲۰ د زیاتو پرله پسې کلونو لپاره څېړنیز کار او د پایداره ودې او څېړنې، السایز او د افغانستان څېړنې او ارزونې اداري سره له یوې لسیزې د ګډ کار تجربې بیانوي. د افغانستان لېرې پرتو سیمو وګړو په ورځنۍ ژوند کې د اپیمو ونډه او هغه عوامل په تړاو د څېړنې دا تجربه، چې په ورځنۍ ژوند یې اغېز لري؛ د افغانستان پولو ته په څېرمه پرتو سیمو کې د نشه یي توکو اقتصاد، جګړې او سیاسي جوړجاړي ترمنځ د اړیکې په ازمویلو کې ننګونو ته اشاره کوي، په تېره بیا:

أ. په لېرې پرتو او جګړه ځپلو سرحدي سیمو دغه راز هغو خلکو د لاسرسي په برخه کې مشکلات بیانوي، چې د نشه یي توکو په پروسس او قاچاق کې ښکېل دي.

ب. د نشه یي توکو پر طلسم د باور لرلو څخه د ډډې کولو اهمیت او د نشه یي توکو په منځپانګه کې د سیاسي اقتصاد مطالعې ته اشاره کوي په داسې ډول چې نشه یي توکو ته د هغو توکو په ډله کې ځای ورکوي، د کومو پر سر چې فعالان او ځایي رسمي یا نارسمي اداري اتحاد کوي، سیالي کوي او ګټې دغه راز باج ترې ترلاسه کوي، او بلاخره

ج. د یوې داسې پیاوړې څېړنیزې تګلارې پر ضرورت ټینګار کوي، چې د «زورواکو - نشه یي توکو قاچاقبرانو او سیاسي لوبغاړو پر روایت» تکیه ونه لري، ځکه دا روایت د نشه یي توکو، جګړې او سیاسي اقتصاد په تړاو د پخوانۍ څېړنې اصلي محور و، بلکې پرځای یې د ناقانونه توکو په تولید، پروسس او لېږد رالېږد دغه راز هغو لاسوهنو په تړاو فزیکي شواهد وړاندې کوي، چې پر نشه یي توکو اغېزې لري.

د یوې پیاوړې میتودولوجۍ په پام کې نیول او د څېړنې د موندنو له کره والي ډاډ ترلاسه کول د لومړیتوب په توګه پېژندل شوي وو. په داسې ځای کې د نشه یي توکو له طلسم مخنیوی کول، چېرته چې نړۍ یوازې د نشه یي توکو د منشور او کنټرول اقداماتو له لارې غواړي د نشه یي توکو مخنیوی وکړي او پراخې ټولنیزې – اقتصادي او سیاسي منځپانګې ته یې ډېره کمه پاملرنه کېږي، هم د یوې پیاوړې څېړنیزې تګلارې په پام کې نیول په دې څېړنه کې اړینه ګڼل شوې ده.[۳] په افغانستان کې د نشه یي توکو تولید او کنټرول هڅو په برخه کې شایعات، حکایتونه او ناسم معلومات په پراخه کچه شته دي او دې کار په رسمي ادبیاتو او د زیاترو څېړونکو په کاري سیمو کې مشروعیت موندلای دی.[۴] د دې ترڅنګ، د یو ناقانونه یا هم عیني فعالیت په توګه د نشه یي توکو اقتصاد په برخه کې د څېړنو ترسره کول ډېر ستونزمن دي، ځکه څوک یې په وړاندې مسوولیت نه اخلي او زیاتره د رسمي چارواکو او یا هم ښکېلو کسانو لکه قاچاقبرانو او سیاسونو له لوري په دې برخه کې د شخصي ملحوظاتو یا هم تو پیرونو له مخې چلند کېږي. دا خبره په تېره بیا د نشه یي توکو او افراطیت ترمنځ د اړیکې په برخه کې ډېر صدق کوي، ځکه په دې برخه کې شخصي ملحوظات او کمزورې میتودلوجي د دې لامل ګرځېدلې څو داسې روایتونه رامنځ ته کړي چې له تاریخي واقعیتونو سره سمون ونه لري او د ترلاسه کېدونکو عوایدو په برخه کې ګمراه کوونکي اټکلونه ترسره کړي.

---

۳ David Mansfield, A State Built on Sand: How Opium Undermined Afghanistan (Oxford: Oxford University Press, ۲۰۱۲).

۴ - د بېلګې په توګه ادعاء کېږي، چې طالبانو په ۱۹۹۴ مېلادي کال کې د نشه یي توکو پر کښت بندیز ولګاوه چې په ترڅ کې یې په ۱۹۹۵ مېلادي کال کې د نشه یي توکو په کښت او تولید کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شو او بیا یې په ۱۹۹۲ مېلادي کال دا بندیز لېرې کړ. دا خبره د ټولو مشاهداتو برعکس ده. بله بې اساسه شایعه د اپیمو د غوټیو په تړاو ده، چې ویل کېږي جېنټیکي بڼه یې اصلاح شوې ده او د اپیمو کښت بڼه دلته د نورو هېوادونو لکه برما، ایټالیا، امریکا متحده ایالاتو او چین په پرتلې متفاوته ده. په ځینو حالاتو کې څېړونکي او د پالیسو شنونکي د دغه ډول ادعاوو له مخې له اغفال سره مخ کېږي او په داسې حالت کې راګیر کېږي، څه ډول چې فرستینبرګ د ځایي میتودلوجۍ منلو ناکره والي په توګه توصیفوي، چې د پالیسۍ او څېړنو په دواړو برخو کې خپلې اغېزې پرځای پرېږدي. وګورئ ډېویډ مانزفیلډ؛ «پر کنټرول او نفوذ پوهېدل: هغه څه چې اپیم او ترې ترلاسه کېدونکي مالیات یې د افغان دولت د لیکنو په تړاو افشاء کوي» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۷) https://areu.org.af/publication/۱۷۲۴/ او ډېویډ مانزفیلډ «لمر په دوو ګوتو نه پټېږي: ناقانونه نشه یي توکي او په افغانستان کې د سیاسي جوړجاړي خبرې» (کابل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۹) https://areu.org.af/publication/۱۹۰۴/;f;

د دغو ننګونو د غوره مدیریت او د هغو ښکېلو اړخونو، توکو او پېښو د لا ښې او غوره پېژندنې لپاره چې په ننګرهار او نیمروز ولایتونو کې پولو ته د څېرمه سیمو په بدلون کې نقش لري، پرېکړه دا وشوه چې د څېړنې په دې پړاو کې نه یوازې دا چې پر ناقانونه نشه یي توکو تمرکز وشي، بلکې په یو شمېر ځانګړو پولو ته څېرمه پرتو سیمو کې د نورو اړینو توکو پر تولید، سوداګرۍ او لېږد رالېږد هم تمرکز وشي. دې پرېکړې له ځان سره څو بېلا بېلې موخې درلودې. لومړۍ موخه یې دا وه، چې د څېړنې سیمه پراخه او هغه قانوني توکي هم په کې راشامل شي، چې په ناقانونه توګه قاچاق کېږي او په دې برخه کې یې ښکېلو حکومتي چارواکو، متنفذینو او افرادو ته د عوایدو ترلاسه کولو لپاره ښه زمینه مساعده کړې ده. ناقانونه نشه یي توکي په تېره بیا د دوی پروسس او له پولو اړول یې د ښکېلو کسانو لپاره ډېره حساسه موضوع ده- د ناقانونتیا ځانګړنه او د چارواکو له لوري د نېول کېدو وېره یا هم د فاسدو چارواکو یا وسله والو ډلو له لوري د معلوماتو شریکولو له کبله په دې سوداګرۍ کې ښکېل کسان له مجازاتو وېره لري. پر پراخو صاداراتي یا وارداتي توکو او د هغوی پر تولید بحث کول د هغو څېړونکو لپاره سیمه رامحدودوي، چې د قانون حاکمیت لپاره پر کار کولو تورن دي او خلک هم زړه نه ښه کوي، څو دې ته په ورته بحثونو کې ګډون وکړي او ځواب ووایي.

دویم، د څېړنیزې سیمې پراخول دا اجازه راکوي څو د بېلا بېلو سوداګریزو شبکو او سوداګریزو لارو او هغو اقتصادي او سیاسي فعالانو په تړاو میداني اطلاعات راټول شي، چې د دا ډول سوداګرۍ په پیاوړتیا کې رول لري. پردې سربېره، د وضعیت هغه کچه هم معلومېدای شي چې سوداګریزې لارې او ښکېل کسان یې په ځانګړو توکو کې د ارزښتیز ځنځیر له تخصص لرونکو سره یو ځای د قانوني او ناقانونه دواړو توکو لپاره د ځای پیدا کولو لپاره کاروي. د هغو ځانګړو توکو، سوداګریزو لارو، شرایطو او پېښو په تړاو پر څېړنو او پلټنو تمرکز کول چې د سوداګرۍ او قلنګ ترلاسه کولو په بدلون کې ونډه لري، ځواب ترلاسه کوونکو ته یو شمېر ښکاره حقایق په لاس ورکوي، چې په ترڅ کې یې کولای شي یو له بل سره تړاو ورکړي او تشریح یې کړي.

دریيم، اټکل دا و چې په څېړنه کې پولې ته په څېرمه پرتو سیمو کې د نورو ګڼ شمېر توکو تولید، سوداګرۍ او پروسس برخې شاملول به له څېړنې سره مرسته وکړي څو پولې ته په څېرمه هره پرته سیمه کې د ګټو او قلنګ ترلاسه کولو نورو لویو سرچینو په پرتلې د اړوند ارزښت او اهمیت په تړاو غوره پوهاوی رامنځ ته کړي. پردې سربېره به دا هم ځانګړې شي چې ایا نشه یي توکو د نورو څېړل شویو توکو په پرتلې له تاوتریخوالي او بې ثباتۍ سره مرسته کړې ده او که نه؟

## ۲.۲ د څېړنې بڼه او پلي کېدل

امنیتي ننګونو دغه راز اساسي سرچینو او د وخت محدودیت ته په پام سره دې څېړنې په لاندې یو شمېر محدودو توکو باندې تمرکز کړی دی: ۱. نشه یي توکي - چې د چرسو، خشخاشو، اپیمو، مورفینو، هروئینو او میتافیتامینو په ګډون ګڼ شمېر نشه یي توکي په ځان کې رانغاړي. ۲. په نیمروز کې کاني مواد، تر ډېره په هلمند کې مرمرین کاڼي (میګنیزیم سلیسایټ) ۳. ډیزل. ۴. کمیاوي کوډ ۵. سیګرټ او ۶. خلک.[۵]

کاني مواد او ناقانونه نشه یي توکي د دوی لوړ ارزښت درلودلو له کبله پام شوي دي، چې د افغانستان په لېرو پرتو او د مرکزي حکومت له حاکمیت د باندې سیمو کې تولېدیږي او زیاتره یې د مخالفو وسله والو ډلو لپاره د عوایدو یوه عمده سرچینه ده.

تالک (سپین کاڼي) د مرمرینو ډبرو پر خلاف، ډېره کمه پانګه تولیدوي او زیاتره یې په لاسونو راویستل کېږي - چې د چور او تالان وړ توکي دي او لا تراوسه هم په پراخه کچه پر سرکونو او بېخ بنسټونو باندې تکیه لري، څو ولېږدول شي او صادر شي. معنا دا چې د تالکو سوداګري له نشه یي توکو سره چې په افغانستان او د افغانستان له پولو هاخوا پر خرو یا اوړو باندې قاچاق کېږي، چې دې ځانګړنې تالک تر ډېره بریده د لېږد وړ ګرځولي او ډېر کم د لېږد رالېږد لپاره پر لویو سوداګریزو لارو او شبکو تکیه لري، له دې کبله له کنټرول او مقرراتو ډېر کم ضرر ګالي.

ډیزل او کمیاوي کوډ (سره) هم قانوني توکي دي خو له دې کبله د دې څېړنې لپاره په پام کې نیول شوي دي، چې په ننګرهار کې د

۵ - ورکشاپ: د افغانستان موضوعي څېړنې په تړاو د همکارو شبکو ترمنځ سلا مشوره، د GCRF او نظم - بې نظمۍ پروژې لپاره د ورکشاپ راپور، ډیوېډ مانزفیلډ، د ۲۰۱۲ کال نوامبر میاشت، د ننګرهار پلان، فېبروي، ۲۰۱۷، نیمروز پلان، فېبروي ۲۰۱۷. د خلکو ګنجایش په برخه یوازې نیمروز ته ځانګړې شوې وه او د پولو دواړو غاړو ته د قاچاقبرانو اندازې ته په کتو به پر قاچاق باندې په لوېدیځه پوله کې په دې څېړنیزه مقاله کې تمرکز وشي.

تورخم او په نیمروز کې د میلاک په څېر لویو رسمي عبوري لارو او په ګڼ شمېر نارسمي لارو کې د عبوري نقطو له لارې افغانستان ته په ناقانونه توګه قاچاق کېږي. پردې سربېره، د دغو توکو د انتخاب لپاره بل معیار دا و، چې د افغانستان د وارداتي توکو په لېست کې ځای لري او له پاکستان او ایران دواړو څخه د پولې ټرانزیټي سوداګرۍ په برخه کې یو عمده توکی و. د بېلګې په توګه په ۲۰۱۸ مېلادي کال کې د ۱۲۲[۶] میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت نېږدې ۰۰۰، ۳۷۳ مېټریک ټنه ډیزل افغانستان ته راوارد شوي و، چې دا واردات په ۲۰۱۰ مېلادي کال کې د ناټو ځواکونو نظامي حضور په اوج کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزېټي سوداګرۍ د هوکړې (APTTA) له مخې د راوراډېدونکو ډیزلو د کچې په پرتلې کمښت په ډاګه کوي.

له نیمروز سره د ځانګړې تړاو له مخې په پاکستان کې د تېلو قیمتونو لوړېدو او د امریکا متحده ایالاتو له لوري پر ایران د بندیزونو له کبله د ایراني ریالو د ارزښت په راټیټېدو سره د ایران او افغانستان ترمنځ د ډیزلو سوداګري وغوړېده. وروستي اټکلونه په ډاګه کوي، چې زرنج ته نېږدې د میلاک بندر له لارې د تېلو رسمي سوداګرۍ اندازه په کال کې تر ۱۵۵ میلیونه ډالرو پورې رسیږي.[۷] پردې سربېره دا اټکلونه هغه ډیزل یا تېل په ځان کې نه رانغاړي چې د زرنج، چهاربرجک او کانګ ولسوالیو د لارو په اوږدو کې د ګڼ شمېر نارسمي لارو څخه قاچاق کېږي یا هم په ټانکرونو او کانتیرونو کې پټ وړل کېږي. په نیمروز کې د دې نارسمي سوداګرۍ کچه ډېره د پام وړ ده او د فراه په ګډون د ایران پولې ته څېرمه په نورو برخو کې د قاچاقي تېلو ترڅنګ ښایي په میلاک کې د رسمي وارداتي ډیزلو اندازه له خپل ټاکل شوي وزن زیاته وي. د تېلو قاچاق لا تراوسه هم د هغو خلکو لپاره د عوایدو اړینه سرچینه ده، چې د افغانستان او ایران پولې ته څېرمه استوګنه لري.

سېګرټ بل قانوني توکی دی، چې افغانستان ته او له افغانستان د باندې د ګڼ شمېر نارسمي لارو څخه قاچاق کېږي.

د سېګرټو د انتخاب په برخه کې باور دا و چې د یو داسې توکي په توګه چې د افغانستان له یوې پولې راوارد ېږي او له بلې پولې یې صادرېږي، کولای شي یو داسې ارزښتناک لیدلوری وړاندې کړي چې د نړیوالو او ملي سیاسي او اقتصادي شبکو ترمنځ تعامل په ډاګه کړي، چې د دغو توکو سوداګري کوي او خپل قلنګ ترې په لاس راوړي. بلاخره په دې څېړنه کې د سېګرټو ځای په ځای کول او د څېړنې بڼه چې د بېلا بېلو څېړنیزو سیمو په پام کې نیولو سره ترسره شوی و، دا جوّته کړه، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې یو اړین توکی و. په دې څېړنه کې په ډاګه شوي، چې په میلیاردونو ډالرو اقتصادي زیان له دې کبله افغانستان ته رسیږي، چې قانوني توکي په ناقانونه توګه قاچاق کېږي او مالیات ترې د دولت کڅوړې ته نه ځي. په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې له پاکستان سره د سوداګرۍ کچه د ناټو ځواکونو له لوري د وارداتو په استثناء، نېږدې ۲.۵ ملیارده ډالره وه.[۸] په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې د ایران او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه تر ۲ میلیارده ډالر وه، چې او سمهال یې زیاتره د نیمروز له لارې ترسره کېده، او له پاکستان (۱.۲ میلیارده) او چین (۱ میلیارد) سره د سوداګرۍ په پرتلې یې اندازه لوړه شوه.[۹]

د انسانانو قاچاق ته د نیمروز ولایت پر سیاسي اقتصاد د ښه پوهېدو په برخه کې د ډېر اهمیت په توګه کتل شوي دي. زرنج په ځانګړې ډول د هغو خلکو لپاره یو مرکزي ځای دی، چې ایران، ترکیې او له هغې لارې بیا اروپا ته تګ غواړي. د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ زېږدیز کلونو پرمهال چې انساني قاچاق په اوج کې وو د جمعې ورځې په استثناء هره ورځ تر ۲۰۰ پورې ډاټسن موټرونه چې هر یو موټر یې ۲۰ کسان ځایول له خلکو باربدل او تر پولې پورې تلل. د هر سړي پر سر لګښت ۵۱۵ امریکایي ډالر و او په کال کې له انساني قاچاق د ترلاسه کېدونکو پیسو اندازه تر ۲۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو وه.[۱۰] حتی د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په منځنیو کې چې د کډوالو شمېر ډېر کم و، بیا هم د په کال کې له

---

۶ - د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت. «د افغانستان کلنۍ احصائیې کتاب، ۲۰۱۸-۲۰۱۹». ګڼه ۴۰، صص ۳۲-۲۳۰، جولای ۲۰۱۹

۷ دا شمېر په اټکلي ډول په ورځ کې د ۳۵ ټانکرونو تګ راتګ له مخې کښل شوي، چې د هر یو ټانکر وزن ۲۳ میټریک ټنه دی او هر میټریک ټن په نیمروز کې ۲۱۵ امریکایي ډالر قیمت لري. په دې کې هغه تېل نه شاملیږي، چې دا ټانکرونه یې په اضافي ټانکیو یا هم په سیټونو کې پټوي.

۸ - د پاکستان د سوداګرۍ شورا، «د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګریزې هوکړې له لاسلیک وړاندې او وروسته سوداګري»، جون، ۲۰۱۵، ۷. https://www.pbc.org.pk/wp-content/uploads/AfghanistansTransitTradePatternsPrePostAPTTA.pdf

۹ Financial Tribune. "Iran Biggest Trade Partner of Afghanistan in ۲۰۱۷-۱۸," ۸ April ۲۰۱۸. https://financialtribune.com/articles/economy-domestic-economy/۸۴۳۰۹/iran-biggest-trade-partner-of-afghanistan-in-۲۰۱۷-۱۸ (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

۱۰ Sune Engel Rasmussen, "On the Edge of Afghanistan." Foreign Policy, ۱۲ September ۲۰۱۷. https://foreignpolicy.com/۲۰۱۷/۰۹/۱۲/on-the-edge-of-afghanistan-taliban-iran-war-united-states/ (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

انساني قاچاق د ترلاسه کېدونکو پیسو اندازه تر **۳۵۲** میلیونه امریکایي ډالرو پورې وه.[۱۱] پردې سربېره د انسانانو قاچاق هغه اقتصادي وسیله ده، چې دا لېږې پروت ولایتي مرکز( زرنج ) په افغانستان کې له بل هر ولایت سره نښلوي او په زرنج ښار کې د هوټلونو خاوندان د هغو خلکو د راټولېدو ځای په توګه خدمات وړاندې کوي، چې له **۳۴** ولایتونو دلته راځي او له دې لارې غواړي ایران او هاخوا نورو هېوادونو ته لاړ شي.[۱۲] د انسانانو قاچاق یو داسې کاروبار دی، چې باید د ایران له لوري د فزیکي زېربناوو او پراخو مقرراتو په ګډون د سرحدي کنټرول دغه راز په نیمروز او نورو سیمو کې د تاوتریخوالي کچې له بدلون سره ځان عیار کړي. په همدې ډول د څېړنې په دې لومړي پړاو کې د انساني قاچاق موضوع ځای پرځای کول په دې ولایت کې د پولې دواړو غاړو ته د سوداګرۍ سیاستونو په بدلون کې د اقتصادي او سیاسي شبکو په تړاو د پراخو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ډېر ارزښتمن جوّت شول.

د توکو له ټاکلو وروسته، اړوند څېړنیزې سیمې په ډاګه شوې دي او د څېړنې لومړني پړاو لپاره سیمه ییزه څېړنې دغه راز له سپوږمکۍ څخه د اخېستل شویو انځورونو شننه او راټولولو ته لومړیتوب ورکړل شوی دی. دا کار د پایداره ودې او څېړنې موسسې او سپوږمکۍ آنځورونو په ګډې همکارۍ ترسره شوی دی. د اړوند څېړنیزو سیمو د ټاکلو په لومړي پړاو کې د لاندې مواردو پېژندل او په ګوته کول ښکېل و:

أ. په نیمروز کې رسمي او نارسمي لویې عبوري نقطې

ب. د څېړل شویو توکو له ډلې د هر یو لپاره یې د لومړنیو تولیدي ځایونو په ډاګه کول، چې سرچینه یې په افغانستان کې وي.

ج. د هر ډول عمده بازار موقعیت، د دې لپاره چې د هر ډول توکي لپاره ارزښتیز ځنځیر ترسیم شي.

یو ځل چې د څېړنیزو سیمو لومړنۍ لېست تیار شو، په هره سیمه کې اوسني فعالیتونه د سپوږمکۍ آنځورونو له مخې ارزول شوي او چېرته چې شتون درلود، د تدارک ځنځیرونو اصلي سیمو ته هم مراجعه شوې ده. دا کړنې د ځینو هغو سیمو په تړاو له شته تاریخي معلوماتو سره هم یو ځای شوي دي،

چېرته چې توکي زېرمه کېدل یا زېرمه کېږي او له یوې نقطې بلې نقطې ته لېږدول کېږي. دغه کار پردې سربېره د وخت په تېرېدو په بېخ بنسټونو او د توکو په مقدار کې بدلون دغه راز د مراجعې ګټورې سرچینو په تړاو هم مشاهدوي سندونه وړاندې کړي، چې د لا زیاتې څېړنې په موخه ورته مراجعه کېدای شي. د لومړنیو څېړنیزو سیمو نقشه په ۱ جدول کې موندل کېدای شي.

د څېړنې په طرحه کې د دغه لومړي مقدماتي پړاو لپاره وروستۍ اقدام د اطلاعاتو راټولولو لپاره د لارو چارو په ډاګه کول او د ځواب ورکوونکو لومړیتوب بندي وه. بیا ځلې په دې پړاو کې هم په افغانستان کې د ناقانونه نشه یي توکو په تړاو تجربې وې، چې په دې لومړي مقدماتي پړاو کې یې زموږ تمرکز ته بدلون ورکړ: څوک باید زموږ څېړنیزو پوښتنو ته ځواب ورکړي؟ دوی ته د څېړنې په کوم پړاو کې څنګه باید لاسرسی وشي ؟ او څه ډول پوښتنې باید وشي؟

تجربې په ډاګه کوي، چې د ناقانونه نشه یي توکو لپاره د بېلا بېلو توکو په ځنځیر کې ښکېلو کسانو ( سوداګرو، پروسس کوونکو، لېږدوونکو، کارخونو مالکانو او کارکوونکو، او د پیسو تبادله کوونکو یا حواله کوونکو ) ته لاسرسۍ به د څېړنې په دې لومړني مقدماتي پړاو کې ډېر محدود او ستونزمن وي. دا خبره په تېره بیا د مورفینو، هروئینو، میتافیتامینو دغه راز د پیسو بدلوونکو او چارواکو په برخه کې ډېره د پام وړ او صدق کوي. دا برخه د څېړنې تر ټولو ډېرو حساسو او جنجالي برخو له ډلې وه، ځکه ښکېل کسان نه غواړي په راحتۍ او ازادانه ډول پوښتنو ته کره ځواب ووايي. تر ټولو اړینه دا چې دا وضعیت به پر ځایي څېړونکو ډېرې زیاتې اغېزې ولري، چې وروسته څېړنې ترسره کوي او هڅې یې هېڅ ډول د قانون حاکمیت له اړخ سره هم تړاو ونه لري. ارزونه دا وه چې په دې مقدماتي پړاو کې به امکان ولري چې لومړني تماسونه ټینګ شي، ځینې موندنې په لاس راشي – که څه هم اړتیا وه چې ډېر په احتیاط چلند وشي – او د نورو پړاوونو لپاره اړیکې رامنځ ته شي، څو په اسانۍ ډېر پیاوړي او کره اطلاعات راټول شي.

۱۱ دا وینا پر هغو راپورونو ولاړه ده چې ویل کېږي، تر ۸۰ پورې موټرونه هره ورځ له زرنج څخه د ډاک پر لوري د پاکستان تر پولې ځي او له هر مسافر څخه تر ایران پورې د تګ په مقابل کې **۷۱۵** امریکایي ډالر اخلي.

۱۲ ".Rasmussen, "On the Edge of Afghanistan

د دې پړځای پرېکړه دا وشوه، چې د اطلاعاتو راټولو په دغه مقدماتي پړاو کې پر هغو اړخونو تمرکز وشي، چې د ښېړنې لپاره په هره ټاکل شوې سیمه کې ورځ تر بلې د هغو توکو په استخراج، لېږد او سوداګرۍ کې ښکېلېږي، چې په دې پړاو کې څېړل شوي دي. د دې لپاره چې د دې څېړنې په وړاندې د ناقانونه توکو یا هم ځمکنیو فعالیتونو اړوند ذاتي ځانګړنو له کبله په مخ کې پرتو ستونزو څخه مخنیوی وشي، د اطلاعاتو راټولولو تمرکز د ژوندانه د تامین پر ستراتیژیو دی، چې: څنګه دغه خلک د خپل ژوندانه اړتیاوو د پوره کولو لپاره پیسې ګټي او هغو شرایطو د وخت په تېرېدو څه ډول بدلون موندلای چې دا وضعیت یې تغییر کړی دی او څنګه؟ تر ټولو مهمه دا چې له ځواب ویونکو سره په خبرو اترو کې په یوه پراخه جغرافیوي سیمه کې پر پېښو او پدیدو د تمرکز پرځای مستقیماً د دوی پر تجربو تکیه شوې ده او لامل یې دا و، چې د دوی ځوابونه هم تر ډېره په شواهدو ولاړ و.[۱۳]

د دې څېړنې د تمرکز بل اړخ پر اړینو مخبرینو باندې و. دا هغه خلک دي، چې په یوه ځانګړې څېړنیزه سیمه کې یې تر ډېره وخت تېر کړی دی او د یادې سیمې تاریخ، سیاسي اقتصاد او هغو پېښو په تړاو یې بشپړه پوهه درلوده، چې د یادې سیمې په بدلون کې یې ونډه درلوده. د لاسرسي ستونزو او د څېړنې ټیم د جوړښت له کبله د څېړنې په دې پړاو کې ځواب ویونکي نارینه و. د دې لپاره چې تر ممکنه بریده د څېړنیزو سیمو د تاریخي شواهدو په باب معلومات ترلاسه کړو، هغو کسانو ته مو ترجیح ورکړې چې عمر یې د ۶۰ او ۷۰ کلونو په منځ کې و، چې د زیاترو عمر یې ظاهرشاهي دورې (۱۹۵۰ او ۱۹۶۰) لسیزې ته ورګرځي. د ننګرهار برعکس په نیمروز ولایت کې د څېړنې په برخه کې د پام وړ ننګونې راپورته شوې دي. ځکه له ایران سره پر پوله پرتو زیات شمېر کلیو او د تګ راتګ نارسمي لارو د پام وړ کډوالي لېدلې ده، چې دا کار د وچکالۍ او پر نارسمي اقتصاد د ایران سرحدي کنټرول د اغېز له کبله دی.[۱۴] په دې معنا چې د دې سیمو زیاترو اوسېدونکو یاده سیمه پرېښودې ده او زرنج، ایران یا هم نورو سیمو ته کډوال شوي دي، چې دې کار موږ ته دا ستونزمنه کړه څو د ۱۹۷۰ لسیزې وړاندې په دغو ځایونو کې مفصل تاریخي جزئیات ترلاسه کړو.

د دې لپاره چې په سیمه ییز کار کې د معلوماتو راټولولو په برخه کې د هغوی ډول له مخې لومړیتوب ورکړل شي، ټینګار په دې و، چې بېلا بېل فعالان مختلفې تجربې او پوهې له ځان سره لري، چې حساب پرې کېدلای شي. د بېلګې په توګه هغه شخص چې له یوې سیمې بلې ته اپیم لېږدوي، تر ایران یا پاکستان پورې د غځېدلې لارې په اوږدو کې په مختلفو ځایونو کې د اپیمو یو کیلو ګرام قیمت په اړه ډېر کم پوهیږي، دوی یوازې په دې پوهیږي چې د ټرانسپورټ، زېرمه کولو او وسله والو ډلو ته د بډې او مالیاتو په نوم څومره پیسې ورکول کېږي. په ورته ډول د اپیمو سوداګر یانې هغه شخص چې د اپیمو مالک دی او پر دوی یې پلوري، له یوې سیمې تر بلې د قیمتونو په توپیر ډېر کم پوهیږي؛ چې قاچاقچي ته څومره ورکول کېږي، مګر ښایي د هغو تلاشي ځایونو او خلکو په تړاو بیا لا ډېر کم وپوهیږي، چې د اړوند خلکو په ولکه کې دي، او په دې اړه به هم کم معلومات ولري، چې په هره سیمه کې د لېږدوونکو موټرو کرایه یا لګښت څومره پرې راځي. که څه هم د اطلاعاتو راټولولو تمرکز د هرې کټګورۍ ځواب ویونکي لپاره د ځانګړې برخې له مخې بنه شوی و، مګر د دې څېړنې جوړښت داسې تنظیم شوی و، چې هغه معمول روایتونه هم په کې انعکاس ومومي، چې د ځواب ورکوونکو، توکو او لارو له مخې د معلوماتو په لا زیات کره والي کې مرسته کولای شي. بشپړ لېست په لومړي جدول کې موندلای شئ.

---

۱۳ - د افغانستان لپاره د سوېډن کمېټه، د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د فارمونو سیستم، د افغانستان کرنیزه سروې، ۱۵ راپور(۱۹۹۲):۱.

۱۴ Karlos Zurutuza, "Afghans Living Under the Shadow of Iranian Guns", Al Jazeera, ۱۵ October ۲۰۱۴. https://www.aljazeera.com/indepth/features/۲۰۱۴/۱۰/afghanistan-shooting-nimroz-iran-taliban-۲۰۱۴۱۰۱۴۷۱۰۲۸۸۸۸۷۵۱.html (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).


د مرکو ترسره کولو پـه برخه کې پرېکړه دا وشوه، چې د اطلاعاتو حساسيت تـه پـه کتو بايد فردي مرکې ترسره شي. له دې کبله د دې لپاره چې لـه توپيري چلند ډډه وشي، پـه کار کې لـه ټولو بوختو خلکو سره لـه کومې ملاحظې پرته مرکې ترسره شوې دي. پـه داسې حال کې چې ډلـه ييزې مرکې ښايي لـه کوم خنډ يا مزاحمت سره مخ شي، نو لـه دې امله لـه ډلـه ييزو خبرو اترو ډډه شوې ده. ځکـه انګېرنه دا وه چې پـه دې برخه کې د ټولني لـه متنفذينو سره خبرې اترې وشي او د اطلاعاتو د حساسيت لـه کبلـه يې پـه لېږې پرتو سيمو کې ځواب ويونکو او څېړونکو دواړو تـه امنيتي ګواښونه راپورته کولای شول.

## د کټګورۍ، توکو او سوداګريزو لارو لـه مخې د ځواب ويونکو شمېر

| سوداګريزه لاره/ بندر | معلومات ورکونکو | سوداګر | | | | | لېږدوونکي | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | اپيم | تېل | ترانزېټ | تالک | کمياوي کوډ | اپيم | تېل | ترانزېټ | تالک | کمياوي کوډ |
| ډاک/ مشخل | ۵ | | | | | | | | | ۲۲ | |
| لوټک | ۹ | | | | | | | | | | |
| ميلاک/زرنج | ۱۷ | | ۲۲ | ۲۲ | | ۵ | | ۳۷ | | | |
| خوابګا | ۸ | ۳ | | | | | | | | | |
| لکاري | ۳ | ۱ | | | | | ۴ | | | | |
| فيروزګي | ۵ | | | | | | | | | | |
| کانګ دين محمد | ۳ | | | | | | | | | | |
| مشترک | ۲ | | | | | | ۲ | | | | |
| محمد | ۲ | | | | | | | | | | |
| خواجه | ۸ | | | | | | ۱ | | | | |
| عبدالرحمن | ۳ | | | | | | | | | | |
| ده رئيس | ۴ | | | | | | ۴ | | | | |
| حاتم | ۲ | | | | | | ۲ | | | | |
| مکاکي | ۲ | | | | | | ۳ | | | | |
| درويشک | ۴ | ۲ | | | | | ۵ | | | | |
| طلايي | ۳ | | | | | | ۴ | | | | |
| ګل شاه | ۲ | ۴ | | | | | ۱۱ | | | | |
| نورمحمدخان | ۵ | ۱ | | | | | ۴ | | | | |
| کروکي | ۱ | | | | | | | | | | |
| مجموعه | ۱۰۰ | ۱۱ | ۲۲ | ۲۲ | ۰ | ۵ | ۴۰ | ۳۷ | ۰ | ۲۲ | ۰ |

سرچينه: سيمه ييز کار

۱ انځور: د ځېرنې په لومړي پړاو کې نیمروز او ځېړنیزې سیمې



په سیمه کې له اړوند ټیمونو، د پایداره ودې او څېړنو په موسسه کې د ټیمونو مشرانو او اصلي څېړونکي ترمنځ د پرله پسې سلا مشورو وروسته د څېړنې په دې لومړي مقدماتي پړاو کې انعطاف هم ښودل شوی دی. دا انعطاف یوازې په دې معنا نه دی، چې د اطلاعاتو راټولولو په وړاندې هر ډول ستونزو د هوارې په برخه کې اقدام شوی او امنیتي ګواښونه تر بحث لاندې نیول شوي دي، بلکې موخه دا ده چې څېړونکی پر لنډمهاله موندنو هم بسنه وکړي. دا بسنه په ځان کې هغه نارسمي عبوري لارې راشاملوي چې د څېړنې په اصلي طرحه کې نه دي په ګوته شوې او د ځانګړو توکو او مالونو د سوداګرۍ په برخه کې بدلون مومي. دا چاره په تېره بیا له دې کبله مهمه وه څو معلومه شي چې د افغانستان او ایران پر پوله سوداګري د ایراني ریالو د ارزښت په راټیټېدو او د ایراني حکومت له لوري پر پوله د دیوال جوړېدو له کبله څه بدلون رامنځ ته شوی دی، او د ګوادر نارسمي سنتي لارې څه ډول پر اقتصاد اغېز کړی دی.

د څېړنې وروستۍ پړاو د پایداره ودې او څېړنې له موسسې سره د لا زیات غور کول او د جغرافیاوي معلوماتو سیستم پیاوړی شننه وه. د جغرافیاوي معلوماتو سیستم لومړنۍ شننه او د نقشو له تولید څخه په دغه غور کولو کې ډېره ګټه اخېستل شوې ده. دې کار له موږ سره مرسته وکړه څو پر هغه نیمګړتیا برلاسي شو، چې اصلي څېړونکي په نیمروز کې د بد امنیتي وضعیت له کبله سیمې ته په تګ کې درلوده دغه راز د همکارانو او ځواب ویونکو دواړو لپاره له اخلاقي اړخه راپورته کېدونکې اغېزې هم راکمې شي. د هرې څېړنیزې سیمې تفصیلي سپټلایټ انځورونو، چې د بېلا بېلو کلونو په ترځ کې اخېستل شوي دي، زموږ د څېړنې ټیم ته دا اسانتیا رامنځ ته کړه څو د هرې ساحې په تړاو ډېر زیات تاریخي شواهد او معلومات ترلاسه کړي او د اړتیا په صورت کې لا ډېرو انځوري شننو ته مخه کړي. په دې پړاو کې دا بیاځلي غور کول د ارزښتیز ځنځیر په اوږدو کې د ټولو څېړل شویو توکو په تړاو له تولیدوونکو، سوداګرو او لېږدوونکو سره پر ترسره شویو مرکو ژوره کتنه شوې ده. بالاخره، د تصویرونو لا زیاته شننه د السیس (Alcis) له لوري د اصلي څېړونکي په غوښتنه ترسره شوې دی. دا اثر له سیمې څخه د ترلاسه شویو پېښو او د سوداګرۍ بدلېدونکو لارو په تړاو د مجازي نښو نښانو ژور تحلیل له ځان سره لري، څو د څېړنې موندنې تایید شي او د امکان په صورت کې لا زیاتې څېړنې پرې وشي.

په ټوله کې د څېړنې دغه لومړني پړاو لپاره په پام کې نیول شوې ستراتیژي استقرایي او ارقامي وه، چې د مشاهداتو، له ځواب ویونکو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو دغه راز د سپوږمکۍ انځورونو له شننې څخه تشکیل شوې وه. پردې سربېره، دا اړینه وه څو د موضوع ځمکني واقعیت ناقانوني والي ماهیت دغه راز امنیتي ستونزو ته په کتو د مېتودونو کارولو، د اطلاتو راټولولو، د هغوی کره والي تایید دغه راز د موندنو شریکولو په برخه کې له اړینې پاملرنې کار واخېستل شي. له ګڼ شمېر فعالانو سره د توکو ګڼ شمېر ځنځیرونو ته په څېرمه موقعیتونو کې مرکې او بیا د سپوږمکۍ انځورونو له شننې سره د دوی ادغام په تړاو داسې انګېرنه او پرېکړه شوې وه، چې د محدودو منابعو په واک لرلو سره به په داسې ننګونکي چاپېریال کې یو ښه څېړنیز عمل وي. په دې توګه د څېړنې دا لومړنۍ پړاو د ناقانونه نشه يي توکو سیاسي اقتصاد ته په داسې منځپانګه کې ځای ورکوي، چې پر سر یې ګڼ شمېر فعالان او ادارې د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره یو له بل سره سیالۍ کوي.

# ۳. شالید: نیمروز

نیمروز ولایت د افغانستان په سویل لوېدیځه څنډه کې موقعیت لري، چې له ایران او پاکستان دواړو هېوادونو سره ګډه پوله لري. یاد ولایت د ۴۲,۴۰۹ کیلومتره مربع خاورې په لرلو سره د چهاربرجک، اصلي چخانسور، کانګ، خاشرود او زرنج له پنځو ولسوالیو جوړ شوی دی، چې مرکز یې د زرنج په نوم یادېږي. دغه ولایت تر ۱۹۷۴ زېږدیز کال پورې د لویې فراه یوه برخه وه. د دې ولایت نفوس په ډېر تیت او پرک ډول خور دی او تر ډېره په زرنج او د زرنج شاوخوا سیمو کې پروت دی، چې په ۱۹۷۰ زېږدیز کال کې رامنځ ته شوی دی.[۱۵] اټکلي ۳۰۹,۰۹۲ وګړي یې ډېری برخه بلوچ دي، چې پښتانه، تاجیک او براهوي بیا د یاد ولایت لږکي جوړوي.[۱۶]

د نیمروز اراضي او اقلیم دواړه د درېیو لویو سیندونو: هلمند، هریرود او خاشرود په درلودو سرېېره، بیا هم وچ او ناملایم دي. د اراضي زیاته برخه یې د دشت مارګو «د مرګ بدنامې دښتې» په ګډون له صحرا جوړه ده. پرله پسې وچکالي او سیلابونه له دې ولایت راچاپېر دي او د ګرم اوړي په موسم کې د مې میاشتې له ۱۵ مې نېټې د سپتمبر تر ۱۳ مې پورې ۱۲۰ ورځني سخت بادونه لري.[۱۷] له دوړو او شګو سره دغه مل توپانونه د ودانیو، لویو لارو، په صحرا کې کوچنیو سرکونو او کوڅو څخه هم تېرېږي، په تېره بیا د تګ په وړاندې خنډونه راپورته کوي.

د نیمروز خلکو ته په پلازمېنه کابل کې د مرکزي حکومت له لوري ډېره کمه پاملرنه کېږي؛ دا هغه عیني واقعیت دی چې د یاد ولایت په زیاترو ټولنیزو – اقتصادي برخو کې تر سترګو کېږي. د روغتیایي خدمتونو (ټولشموله روغتیایي مرکزونو، لومړنیو او فرعي روغتیایي مرکزونو، طبي پرسونل، واکسین کولو، او نورو)[۱۸] دغه راز د زده کړو (لومړنیو زده کړو ته د زده کوونکو نوم لیکنې، منځنیو او لېسې په کچه د زده کړو، د زده کوونکو او ښوونکو شمېر) د پوښښ له مخې په ولایتي نوملړ کې د ټولو ولایتونو په وروستي قطار کې ځای لري.[۱۹] په یاد ولایت کې د ګوتو په شمېر نادولتي موسسې شته دي او د خصوصي سکتور خدمتونه هم تر ډېره محدود دي.[۲۰]

په تېره بیا په یاد ولایت کې د امنیتي او نظامي ځواکونو حضور ډېر کم دی، د پاکستان او ایران سره پر ګډه پوله د دې ولایت ستراتیژیک موقعیت دغه راز ایران ته او له ایران څخه د توکو وارداتو او صادراتو په برخه کې رول دغه راز د انسانانو او ناقانونه نشه یي توکو د قاچاق لوړې کچې ته په کتو دا ډېره د حیرانتیا خبره ده.[۲۱] دا خبره هم د یادونې وړ ده، چې د نورو ولایتونو برعکس د طالبانو رژیم له ړنګېدو وروسته د افغانستان بیارغونې پرمهال په یاد ولایت کې د ولایتي بیارغونې ټیم یا پي ار ټي نه و. که څه هم د ولایتي بیارغونې ټیم د وسله والو مخالفو ډلو له لوري تل تر برید ونو لاندې و او په نښه کېده، خو په هغو ځایونو کې چې مشري یې د امریکا متحده ایالاتو حکومت یا هم نورو لویو لوېدیځو تمویلوونکو

۱۵ Lutz Rzehak, “Remembering the Taliban” in The Taliban and the Crisis of Afghanistan, eds. Robert Crews and Amin Tarzi, (Cambridge, MA: Harvard University Press, ۲۰۰۸), ۱۸۴.

۱۶ This is the population estimate from the World Pop Flowminder project, which draws on high-resolution domestic compound data from Alcis and satellite imagery to map domestic compounds (Flowminder, “Final Population Mapping for Afghanistan ۲۰۱۷,” Unpublished Report, page ۱۸).

۱۷ Anna Larson, “Government structures in Nimroz” AREU Case Study Series, November ۲۰۱۰, page ۲.

۱۸ National Statistics and Information Authority, Islamic Republic of Afghanistan, “Afghan Statistical Yearbook ۲۰۱۸-۲۰۱۹,” ۱۲۵, ۱۲۸-۱۳۲, ۱۳۴-۱۳۶.

۱۹ National Statistics and Information Authority, Islamic Republic of Afghanistan, “Afghan Statistical Yearbook ۲۰۱۸-۲۰۱۹,” ۱۲۵, ۱۲۸-۱۳۲, ۱۳۴-۱۳۶.

۲۰ National Statistics and Information Authority, Islamic Republic of Afghanistan, “Afghan Statistical Yearbook ۲۰۱۸-۲۰۱۹,” ۷۳, ۱۰۰, ۱۱۳, ۱۲۲, ۲۵۰, ۲۵۱.

۲۱ Nimroz is covered by the Afghan National Army ۲۰۵th Corps but they have limited presence there.

کوله، ډېرې پراختیايي مرستې او نظامي همکارۍ یې کړې دي. پر ځای یې د دې ولایت شمال ختیځ ته په دلارام[۲۲] کې د نیمروز کندهار پر لویه لاره محدود شمېر امریکایي ځواکونو حضور درلود، چې اندازه یې ډېره کوچنۍ او د ایران له پولې سره یې په کافي اندازه واټن درلود؛ دې کار بسنه کوله چې په تهران کې د ایراني حکومت غوسه راونه پارول شي، خو د نیمروز د امنیت ټینګښت او ودې لپاره یې هم یو څه کار وکړ.

په نیمروز ولایت کې د ایران نفوذ ډېر د پام وړ دی. ایراني ریال یا تومان (۱۰ ریال له یو تومان سره برابر دي) هغه پولي واحد دی، چې په یاد ولایت کې په راکړه ورکړه کې ډېر کارول کېږي.[۲۳] ایران د نیمروز مرکز زرنج ښار ته برېښنا ورکړې ده او د ګرځنده ټلیفوني شبکو پوښښ خدمتونه هم د ایرانیانو له لوري وړاندې کېږي.[۲۴] د پولې دواړو غاړو ته د استوګنو وګړو ترمنځ فرهنګي، ژبنۍ او کورنۍ اړیکې ډېرې پیاوړې دي، په تېره بیا بلوڅان په ایران او افغانستان دواړو کې خپلوان لري او زیاتره یې د دواړو هېوادونو تابعیتونه لري. د پولې دواړو غاړو ترمنځ اړیکې په ۱۹۸۰ یمه لسیزه کې پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل پرمهال لا ډېرې ټینګې شوې، ځکه د یاد ولایت ځینو سیاسي – نظامي مشرانو لکه عبدالکریم براهوي (په ۱۹۷۹ زېږدیز کال کې د نیمروز جبهې مشر) او درې ځله (له ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۵، بیا له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۵ او دربیم ځل له ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۰) د نیمروز والي په ګډون زیاتره خلک له جګړې د تېښتې په موخه د پولې هاخوا ته کډه شول.

له تاریخي اړخه د افغانستان او ایران ترمنځ د پولې پر سر تل ناندرۍ راپورته شوي او د جګړو لامل ګرځېدلي. په ۱۸۷۲ زېږدیز کال کې د انګرېزانو په ملاتړ هوکړه دا وشوه، چې هلمند (هیرمند) سیند به د دواړو هېوادونو ترمنځ په سویلي برخه کې پوله وي. خو د هلمند سیند د تګلوري تغییر دا اړتیا رامنځ ته کړه څو د دواړو هېوادونو ترمنځ یو دایمي پوله کېکاږل شي. له ۴۰ کلونو څخه له زیات وخت پخوا د افغانستان او ایران ترمنځ د پولې پر سر هوکړه شوې ده او په دې وروستیو کې په ۱۷۲ ډبرو سره په نښه شوې، او د رسمي پولې په توګه پېژندل کېږي. د ځايي خلکو ادعا دا وه، چې دا په نښه کوونکي او سمهال د ایران په خاوره کې ۱ کیلومتر د ننه نصب شوي دي.

د ایران او افغانستان او تر یوې کمې اندازې پورې له پاکستان سره نارسمي تګ راتګ له ډېر وخت را په دېخوا د هغو خلکو د ورځني ژوند برخه ده، چې په نیمروز ولایت کې ژوند کوي. د کلونو په ترخ کې پر پوله ګڼ شمېر د تګ راتګ لارې جوړې شوي، چې ځايي او سېدونکي کولای شي په پښو، اوښانو، کښتیو او ځینو ځایونو کې د موټرو په واسطه پرې تګ راتګ وکړي. پر پوله د انسانانو او نشه یي توکو له قاچاق د مخنیوي لپاره د ایران هڅې او د طالبانو رژیم پرمهال د طالبانو په تړاو د دوی وېرې له کبله ایران د پولې پر ولکه ډېره پانګونه وکړه. د ۱۹۹۰ یمې لسیزې په وروستیو کې د ایران اسلامي جمهوري حکومت پر پوله خندقونه، له خاورو ډکې بوجۍ او څارونکي ټاورنه جوړ کړل ترڅنګ یې ۳۰،۰۰۰ پرسونل هم وګماره. دې کار د پولو دواړو غاړو ته پر تګ راتګ یو څه محدودیت رامنځ ته کړ، خو مطلق مخنیوی یې ونه شو کړای.(۲ انځور وګورئ)[۲۵] پردې سربېره، د دغو زېربناوو له ډلې ځینو یې د افغانستان کلي له خپلو کرنیزو ځمکو څخه بېل کړل، چې د افغان بزګرانو له لوري د پلې تګ یا هم تراکتورونو په واسطه د تګ لپاره یې د تګ راتګ لارو جوړولو ته اړتیا پېښه کړه.

۲۲ December ۱ ,“۲nd Marine Regimental Combat Team. The Diplomat, “Afghanistan’s Forgotten Province This was the
Baba Tim, “The ;(۲۰۲۰ August ۲۷ afghanistans-forgotten-province/ ( accessed/۱۲/۲۰۱۰/https://thediplomat.com ,۲۰۱۰
analysis//۲۴/۰۵/۲۰۱۹/https://thefreqmedia.com ,۲۰۱۹ May ۲۴ ,“۲۰۱۲-۲۰۱۰ ,Counterinsurgency Fight in Zaranj, Afghanistan
.(۲۰۲۰ August ۲۷ accessed)/۲۰۱۲-۲۰۱۰-the-counterinsurgency-fight-in-zaranj-afghanistan/patbristol۷۰

۲۳ https://www.afghanistan- ,۲۰۱۱ August ۲۳ ,“Fabrizio Foschini, “Economy and Development: Bad Lieutenants in Nimroz
.(۲۰۲۰ August ۲۷ analysts.org/bad-lieutenants-in-nimruz/ ( accessed

۲۴ “.۲۰۱۲-۲۰۱۰ ,The Diplomat, “Afghanistan’s Forgotten Province”; Baba Tim, “ The Counterinsurgency Fight in Zaranj, Afghanistan


۲۵ .۸۲-۸۵ :(۲۰۰۹ ,Pierre Arnaud Chouvy, Opium: Uncovering the Politics of the Poppy ( IB.Taurus: London

۲ انځور: د پولې هغه موانعو او جوړښت نقش چې په نیمروز ولایت کې د افغانستان پولې ته څېرمه د ایران حکومت له لورې جوړ شوي دي.



له ۲۰۰۵ زېږدیز کال را په دېخوا د ایران اسلامي جمهوري حکومت پر نورو لویو زېربناوو پانګونه کړې ده، چې د پولې لا زیات ټینګښت لامل ګرځېدلې او له افغانستان سره یې د نیمروز له لارې د ایران رسمي سوداګرۍ په پیاوړتیا کې ډېره مرسته کړې ده.(۳ انځور وګورئ). په دې برخه کې لومړی ګام د زرنج ښار په څنډه کې د هلمند پر سیند په میلاک کې د ابرېشمو پل جوړول و. ورپسې د ایراني لوري څخه د سوداګرۍ د هڅونې په موخه پر پوله د اسانتیاوو رامنځ ته کولو لپاره پانګونه وشوه او د ۷۰ میلو په شاوخوا کې د ۵ متره لوړوالي په لرلو سره دیوال هم جوړ شو، چې په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې جوړ شوي خندقونه او له شګو او خاورو ډکې موانع یې لا پیاوړې کړې او د زرنج له لارې په سوداګرۍ کې د پام وړ رول لري.(۴ انځور وګورئ). د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ زېږدیز کلونو ترمنځ هندوستان د زرنج او دلارام ترمنځ د لویې لارې جوړولو لپاره ۱۰۰ میلونه امریکایي ډالره مرسته وکړه. دا لاره په میلاک کې د پولې له عبوري نقطې سره نښلېږي او تر هرات، کندهار او کابل پورې د سفر لپاره ترې ګټه اخېستل کېږي. ( ۵ انځور وګورئ).[۲۲] پردې سربېره هندوستان د ایران په چابهار بندر او ورڅېرمه زېربناوو باندې هم ډېره پانګونه کړې ده. له دې ټولو پانګونو موخه د هندوستان، ایران او افغانستان ترمنځ د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا او د نړیوالې سوداګرۍ لپاره پر پاکستان د افغانستان تکیې راکمول دي.[۲۷]

**۳ انځور: له ۲۰۰۵ زېږدیز کال وړاندې وخت سره د ۲۰۰۵ او ۲۰۱۹ زېږدیز کلونو ترمنځ په میلاک/زرنج کې د عبوري نقطې فزیکي زېربناوو پرتلنه**





په نیمروز دغه راز ایران کې پر فزیکي زېربناوو پانګونې، نیمروز ولایت د نړیوالې سوداګرۍ لپاره د افغانستان پر یو لوی مرکز بدل کړی دی. د بېلګې په توګه په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې نیمروز ولایت یوازې ۳۷ میلیونه امریکایي ډالر عواید له ګمرکي محصول ترلاسه کړي و، چې د کندهار(۳۲.۵ میلونه امریکایي ډالر) په پرتلې زیات و او له ننګرهار(۱۱۹ میلیونه امریکایي ډالر)، هرات (۱۱۷ میلیونه امریکایي ډالر)، او بلخ(۷۱ میلیونه امریکایي ډالرو) څخه وروسته یې، چېرته چې د تورخم، اسلام قلعه او حیرتانو لوی رسمي بندرونه موجود دي، څلورم ځای خپل کړ.[۲۸]

۲۲ Afghanistan Institute for Strategic Studies, “Strategic Analysis of the Chabahar Port: Afghanistan-Iran-India Relations” 2018-https://www.slideshare.net/RobSentseBc/afghanistan-iran-india-relations-march (accessed 27 August 2020).

۲۷ Thomas Barfield, Afghanistan: A Cultural and Political History (Princeton, NJ: Princeton University Press, 2010), 344-45.


۲۸ د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت. «د افغانستان کلنۍ احصائیې کتاب، ۲۰۱۸-۲۰۱۹».، ص ۲۴۵

۴ انځور: د هغه دیوال عکس چې د زرنج ولسوالۍ په اوږدو کې له ایران سره پر پوله د ۷۰ میلو په اوږدوالي د ایراني حکومت له لوري جوړ شوی دی.



دغو پانګونو په یاد ولایت کې له مخ پروددې غیر کرنیز اقتصاد سره هم مرسته کړې ده، چې د تودوخې لوړېدو ته په پام د دغه ولایت د نفوسو لپاره ځکه له ارزښته برخمنه ده، چې د تاریخ په اوږدو کې یې اقتصاد پر کرنه او مالدارۍ ولاړ و او دوامدارې وچکالۍ او توپانونو وخت ناوخته په دې برخه کې د پام وړ ستونزې راپورته کړې دي.[۲۹] د ببلګې په توګه او بیزې ځمکې لکه په کانګ ولسوالۍ کې هامون پوژاک او له ایران سره پر پوله هامون صبرى – د پولې دواړو غاړو ته د استوګنو وګړو د ژوندانه د ډاډ اړینه سرچینې دي، خو او سمهال د کمښت پر لور روانې دي، چې د کرنې له لاسه ورکولو، کډوالۍ ته اړ کېدو، خاورینو توپانونو او د ایران او افغانستان ترمنځ مخ په وړاندې زیاتېدونکو ناندریو راپورته کېدو لامل ګرځېدلي دي.[۳۰] د وچکالۍ ترڅنګ یاد ولایت د توپانونو او سیلابونو له خطر سره هم مخ دی، چې د کانګ ولسوالۍ په شمال لوېدیځ کې د کروکي په څېر د زیات شمېر کلیو له منځه تګ لامل ګرځېدلي. د یاد کلي د سترګو لیدلی وضعیت او له سپوږمکۍ اخېستل شوي انځورونه دواړه په ډاګه کوي، چې خلک ترې کوچېدلي او په تش ډاګ بدل شوی.

**۵ انځور: د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ زېږدیزو کلونو ترمنځ د زرنج او دلارام ترمنځ اسفالټ سرک د هندوستان حکومت له لوري جوړ شوی دی.**




د چاپېریالي ننګونو ورهاخوا په نیمروز کې د کرنیزو محصولاتو سیستم ډېر ابتدایي او تر سیمې پورې محدود دی، چې په ژمني موسم کې غنم[۳۱] او کوکنار پرې کرل کېږي، په پسرلي کې هندوانې او په اوړي کې بیا پرې لوبیا او ماش کرل کېږي. د نوامبر او مارچ میاشتو ترمنځ سوړ موسم د ګرمسیرو او نیمه ګرمسیرو محصولاتو لپاره موسم ډېر رالنډوي.[۳۲] د

۲۹ Fatemah Aman, "Water Dispute Escalating between Iran and Afghanistan" (Atlantic Council, Issue Brief, August ۲۰۱۲), ۳-۴.

۳۰ ICRA, "Water and Conflict: The Growing Challenge" (Discussion Paper, ۲۰۱۸), ۲۰-۲۲; Fatemah Aman, "Water Dispute Escalating between Iran and Afghanistan."


۳۱ د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت. «د افغانستان کلنئ احصائیې کتاب، ۲۰۱۸-۲۰۱۹». ص ۱۵۹

۳۲ Whitney, John. "Geology, Water, and Wind in the Lower Helmand Basin, Southern Afghanistan", Scientific Investigations Report ۲۰۰۶-۵۱۸۲, US Geological Survey, US Department of the Interior. ۲۰۰۶, ۱۵-۱۶. https://pubs.usgs.gov/sir/۲۰۰۶/۵۱۸۲/pdf/SIR۰۶-۵۱۸۲_۵۰۸.pdf

وچکالۍ له کبله مالداري ډېره سخته زیانمنه شوې او کلني دغه راز د دوامداره باغدارۍ محصولات هم ډېر محدود دي.[۳۳] د مناسبو کرنیزو محصولاتو په نه شتون کې د نیمروز ولایت خلک له ایران او پاکستان سره پر پوله او کرښه د انسانانو، نشه یي توکو، ډیزلو او نورو وسایلو قاچاق ته مخه کوي، څو له دې لارې د خپل ژوند اړتیاوې پوره کړي.

په دې ولایت کې له کرنیزو محصولاتو د ملاتړ په موخه یو کم شمېر هڅې ترسره شوې دي. تر دې مهاله یې تر ټولو اړینه هڅه د کمال خان بند جوړول دي، چې د زرنج ښار سویل ته په ۴۵ میلي کې موقعیت لري (۲ انځور وګورئ). د ۱۰۰ میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت دا پروژه، چې او سمهال یې د رېبم او وروستۍ پړاو تر کار لاندې دی، له بشپړېدو وروسته دا وړتیا لري څو د نیمروز ولایت کرنیز بنیاد ته بدلون ورکړي، چې په جوړېدو سره به یې تر ۱۰۰,۰۰۰ هکتاره ځمکه خړوبه او ترڅنګ به یې ۸.۵ میګاواټه برېښنا هم تولید کړي.[۳۴] خو دا پروژه لا هم نا ندریزه ده، چې له ایران سره د اوبو حقوقو پر سر له شته اختلافونو سره تړاو لري او انګېرنه دا ده، چې د دې پروژې بشپړېدل به د هلمند هامون په ګډون د لاندېنۍ برخې اوبو پر کمښت لا زیاتې اغېزې ولري.

**۲ انځور: د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۹ کلونو په ترڅ کې د زرنج ښار ته نېږدې د کمال خان بند پرتلنه**





حتی د اپیمو د کښت په برخه کې هم نیمروز ولایت له نسبي مزیت برخمن نه دی. په تاریخي لحاظ هم یاد ولایت د اپیمو د تولید کوم لوی مرکز نه و. حتی د ۲۱ پېړۍ په لومړیو کې چې د حکومت له لوري کنټرول هم ډېر کم و او قیمتونه یې اوج ته رسېدلي و، په یاد ولایت کې له ۲,۰۰۰ هکتارو زیاته ځمکه پر اپیمو نه وه کرل شوې (۷ انځور وګورئ). د دې ولایت په زیاته برخه کې د وچکالۍ له کبله کرنه په پراخه کچه اغېزمنه شوې ده، یوازېنۍ سیمه د خاشرود ولسوالي ده، چې د نیمروز شمال ته پرته ده او د ولایت نورو برخو په پرتلې تروې اوبه نه لري او د کرنې لپاره ډېره ښه مساعده ده.[۳۵]

۳۳ د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت. «د افغانستان کلنۍ احصائیې کتاب، ۲۰۱۸-۲۰۱۹». ص ۱۲۵

۳۴ Wadsam, "Completion of Kamal Khan Dam in Nimroz Province", ۳ December ۲۰۱۸. https://wadsam.com/afghan-business-news/completion-of-kamal-khan-dam-in-nimroz-province/۲۳۲ (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

۳۵ Ramin, "Ministry in Quest of Funds for Completing Vital Dam Project", Pajhwok, ۲۹ November ۲۰۱۵. https://www.pajhwok.

۱۷ انځور: له ۱۹۹۹ تر ۲۰۱۹ زېږدیز کال پورې په نیمروز ولایت کې د کوکنارو د کښت کچه




د ۲۱ پېړۍ لومړۍ لسیزې په وروستیو کې د اپیمو کښت کچې مخ په تغییر پیل وکړ او د خاشرود ولسوالۍ په دښتو کې یې وده او زیاتوالی وموند. دلته په دې دښته کې د بکوا ولسوالۍ د دښتې او د بغرا کانال په څېر پخوانۍ دښته ببرته اباده او د ژورو کانالو کیندلو له لارې خړوبه شوه، چې مالي لګښت یې د کوکنارو له عوایدو ترسره کېده.[۳۶] د نیمروز او فراه ولایتونو په اداري پولو کې تغییر د دې لامل شو چې په رسمي اټکلونو کې نوسانات رامنځ ته شي. دلارام سیمه چې د لویې لارې شمال ته پرته ده او د ۲۰۰۹[۳۷] او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ فراه ولایت ته له انتقال وراندې د کوکنارو کښت په لویه سیمه بدله شوه، خو په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې یو ځل بیا له نیمروز سره وتړل شوه.[۳۸] د دلارام سیمې محرومیت د دغو کلونو په ترڅ کې د ولایت په مجموعي کرنه کې له ۳,۰۰۰ هکتارو نیولې تر ۹,۰۰۰ هکتارو پورې د اپیمو کرنې شمېره زیاته کړه.[۳۹]

په ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ زېږدیز کلونو کې د طالبانو له بندیز وروسته، چې د اپیمو کښت د ودې په موسم کې یاني هغه مهال د اپیمو کښت کچه ډېره کمه وه، په نیمروز کې د حکومت یا هم نړیوالو له لورې ډېر کمې هڅې د کوکنارو کښت د محدودیت په موخه شوې دي. د کوکنارو کښت اړولو په وړاندې د افغان حکومت د مبارزې لومړنیو کلونو پرمهال (له ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۷ زېږدیز کلونو پورې) د کوکنارو محصولاتو د کښت له منځه وړلو او اړولو په تړاو په راپورونو کې ډېره مبالغه کېده او بې بنسټه وو. حتی له هغه وروسته هم ډېر کم داسې شواهد موجود دي، چې د محصولاتو زیاتې برخې له منځه وړل ثابت کړي.[۴۰] له هغه راوروسته بیا د کوکنارو د کښت اړولو هڅې کمې شوې او په ډېرو کمو حالاتو کې یې اندازه له ۱۵۰ هکتاره څمکې پورته شوې ده او اغېزې یې هم ډېرې کمې وې( ۹ انځور وګورئ). د کوکنارو په کښت کې د کموالي راتګ لکه د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ او په دې وروستیو کې له ۲۰۱۷ زېږدیز کال راوروسته تر ډېره بریده د افغانستان نورو سویل لوېدیځو سیمو سره سمون درلود، چې لامل یې زیات تولید او په پایله کې د قیمتونو راټیټېدل د غه راز وچ اقلیمي شرایط وو.[۴۱]

.(۲۰۲۰ August ۲۷ ministry-quest-funds-completing-vital-dam-project (accessed/۲۹/۱۱/۲۰۱۵/com/en

۳۶ ۱۷-۱۲ ,۲۰۱۵ David Mansfield, “Still Waters Run Deep: The Transformation of the Deserts of Southwest Afghanistan.”, May

۳۷ https://www.unodc.org/documents/ .۴۴ page ,۲۰۰۹ Kabul: UNODC December) “۲۰۰۹ UNODC, “Afghanistan Opium Survey summary.pdf_۲۰۰۹_crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_opium_survey


۳۸ https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/ .۲۸ .p “,۲۰۱۳ UNODC, “Afghanistan Opium Survey web_small.pdf_۲۰۱۳_Afghan_Opium_survey

۳۹ https:// .۲۲ page ,۲۰۱۸ Cultivation and Production”, UNODC, Kabul, November ;۲۰۱۸ UNODC, “Afghanistan Opium Survey pdf.۲۰۱۸_www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_opium_survey

۴۰ https://www.sigar.mil/ .۹۱-۸۸ page ,۲۰۱۸ SIGAR, “Counternarcotics: Lesson from the US Experience in Afghanistan”, June LL.pdf-۵۲-۱۸-pdf/lessonslearned/SIGAR


۴۱ .۲۰۱۹ October ,“۲۰۱۹ UNODC, “Afghanistan Opium Survey

۸ انځور: له ۲۰۰۳ تر ۲۰۱۹ زېږدیز کال پورې د سویل لوېدیځ افغانستان په دښتو کې د کرنیزو ځمکو پراختیا




منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه: د پولو دوا‌ړو غاړو ته تولید او سوداګرۍ او د نیمروز پولې ته
څېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې یې رول

**۹ انځور: له ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۸ کال پورې په نیمروز کې د کوکنارو اړولو کچه[۴۲]**




د کرنې په پرتلې د نیمروز د نشه یي توکو اقتصاد لپاره د پولو دواړو غاړو ته د قاچاق کچه دغه راز د اپیمو او میتافیتامینو ورځ تر بلې زیاتېدونکی تولید ډېر مهم دی. د دې ترڅنګ په ایران کې د مستهلکینو بازار او د فراه او هلمند په څېر د نشه یي توکو زیاتو تولیدي ولایتونو ترمنځ د نیمروز موقعیت د یاد ولایت ارزښت لا زیات کړی دی.[۴۳] په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې د اپیمو د کنټ چتکه وده د پولو دواړو غاړو ته د سوداګرۍ له غوړېدا او په هېواد کې د اپیمو د تولید د ظرفیت له لوړېدو سره مل وه. دا چې نیمروز ولایت د پاکستان او ایران دواړو هېوادونو پولو ته څېرمه پروت دی او د دواړو پولو هاخوا ته قبیلوي او کورنۍ تړاوونه هم لري، نو د ناقانونه نشه توکو د سوداګرۍ لپاره په اړین مرکز بدل شوی. د دې څېړنې لپاره ترسره شوی سیمه ییز کار په ډاګه کوي، چې د طالبانو واکمنۍ پرمهال په دې ولایت کې اپیم په ازاد ډول د ولایت مقام مخې ته پلورل کېدل. د دې ترڅنګ دا ادعاء کېږي، چې ملا محمد رسول اخند هڅه وکړه څو له ۲۰۰۱ زېږدیز کال وړاندې د نشه یي توکو سوداګري تنظیم او تر خپلې ولکې لاندې یې راولي،[۴۴] مګر ځایي تجربه دا ده، چې دا کار ستونزمن ورته تمام شو، ځکه د سیمې زیاتره خلک د نشه یي توکو په سوداګرۍ، پېر او پلور کې بوخت و/ دي.

په نیمروز کې نور جګپوړي طالبان او نېږدې همکاران یې مستقیماً د نشه یي توکو په سوداګرۍ کې ښکېل دي. د حاجي جمعه خان (د نیمروز یو براهوي) په څېر خلک چې په لومړیو کې په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د امریکایي ځواکونو له لوري ونیول شو او بیا په پرله پسې توګه د امریکایي چارواکو له لوري توقیف شو او په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې په امریکا متحده ایالاتو کې بندي شو، د نړۍ له مشهورو او پیاوړو نشه یي توکو قاچاقبرانو څخه ګڼل کېږي او له طالبانو سره په مالي مرستو او له لوړپوړي مشرتابه سره د زیاتو کلونو لپاره د نېږدې اړیکو په لرلو تورن و، هم د نشه یي توکو په قاچاق کې ښکېل دي.[۴۵] داسې ویل کېږي، چې حاجي جمعه خان په زرنج ښار کې ملکیتونه لري او باور دا دی چې ښایي د هلمند په سرحدي ښار ګوتې برامچه کې د لومړنیو پانګوونکو له ډلې وي، چېرته چې د پام وړ اندازه نشه یي توکي پروسس کېږي او پاکستان ته اړول کېږي، له پاکستان څخه بیا د مکران بندر له لارې خلیج ته لېږدول کېږي. د نوموړي په اړه دا هم ویل کېږي، چې د سی ای اې په ګډون د امریکا متحده ایالاتو حکومت مخبر یا جاسوس هم دی.[۴۶]

۴۲ UNODC, "Afghanistan Opium Survey", October ۲۰۰۳, ۹۲; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", November ۲۰۰۴, ۷۷; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", November ۲۰۰۵, ۵۳; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", October ۲۰۰۶, ۱۴۲-۱۴۷; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", October ۲۰۰۷, ۱۲۵; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", November ۲۰۰۸, ۱۸۲; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", September ۲۰۰۹, ۴۷; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", December ۲۰۱۰, ۱۱۸; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", December ۲۰۱۱, ۱۱۳; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", May ۲۰۱۳, ۱۰۰; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", December ۲۰۱۳, ۱۰۵; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", November ۲۰۱۴, ۲۷; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", December ۲۰۱۵, ۲۹; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", December ۲۰۱۶, ۲۵; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", November ۷۱; UNODC, "Afghanistan Opium Survey", November ۲۰۱۸, ۲۹.

۴۳ David Mansfield, "Denying Revenue or Wasting Money? Assessing the Impact of the Air Campaign Against 'Drugs Labs' in Afghanistan" (London School of Economics, International Drug Policy Unit, April ۲۰۱۹).

۴۴ Lutz Rzehak, "Remembering the Taliban", ۱۸۲; "Afghan Biographies, "Mullah Mohammed Rasul Akhund", ۳۰ November ۲۰۱۸, http://www.afghan-bios.info/index.php?option=com_afghanbios&id=۳۴۲۲&task=view&total=۳۳۵۷&start=۱۹۷۲&Itemid=۲ (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

۴۵ Johnny Dwyer. "The US Quietly Released Afghanistan's 'Biggest Drug Kingpin' From Prison. Did He Cut A Deal?". The Intercept, ۱ May ۲۰۱۸. https://theintercept.com/۲۰۱۸/۰۵/۰۱/haji-juma-khan-afghanistan-drug-trafficking-cia-dea (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

۴۶ James Risen, "Propping Up A Drugs Lord, Then Arresting Him" New York Times, ۱۰ December ۲۰۱۰, https://www.nytimes.

دا یوازې طالبان نه دي، چې د نشه یي توکو په قاچاق کې پر مستقیم لاس لرلو تورن دي، بلکې په نیمروز ولایت کې ورته ډول تورونه د نیمروز ولایت د لوړپوړي مشرتابه په ګډون پر حکومتي چارواکو او امنیتي ځواکونو په تېره بیا افغان سرحدي پولیسو هم دي.[۴۷]

د تېرې لسیزې په ترخ کې په نیمروز ولایت په تېره بیا په خاشرود ولسوالۍ کې د نشه یي توکو پر پروسس د پام وړ تمرکز شوی. یاده سیمه په افغانستان کې د مېشتو امریکایي ځواکونو لپاره په هدفي سیمه بدله شوه، چې د ۲۰۱۸ زېږدیز[۴۸] کال په اپرېل میاشت کې د هروئینو او د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په مې میاشت کې د میتافیتامینو لابراتوارونه د هوا له لارې بمبار شول. د امریکا متحده ایالاتو حکومت هم دا بمبارۍ د طالبانو د عوایدو په وړاندې د کمپاین په توګه تایید کړې دي او انګېرنه دا وه چې طالبان د ناقانونه نشه یي توکو[۴۹] څخه د ترلاسه کېدونکو ټولو عوایدو ۲۰ سلنه له دې ځایه ترلاسه کړي دي، یوې خپلواکې ارزونې بیا راپور ورکړی چې یادو بمباریو ډېر کم اغېز درلود[۵۰]، په داسې حال کې چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان مرستندویه ماموریت (یوناما) بیا د ۳۰ ملکي وګړو د مرګ ژوبلې خبر ورکړی.[۵۱]

په حقیقت کې دا په خپله نشه یي توکي نه بلکې په نیمروز ولایت کې د پولې دواړو غاړو ته د سوداګرۍ په ترخ کې اقتصادي غوړېدا ده، چې په تړاو یې داسې انګېرل کېږي، چې د طالبانو او افغان حکومت په منځ کې کړیو دغه راز د ایران او پاکستان دواړو پر پوله سیاسي متنفذینو لپاره د عوایدو په اړینه سرچینه بدله شوې ده.[۵۲] د نشه یي توکو او انسانانو د قاچاق ترڅنګ د قانوني توکو لکه ډیزلو، سمنټو او ټرانزېټي توکو لېږد ټول د د سیاسي – نظامي لوبغاړو لپاره د باج اخېستنې په یوې سرچینې بدل شوي دي، له دې کبله یې د دغو ډلو ترمنځ د تاوتریخوالي او شخړې سرچینه هم رامنځ ته کړې ده. راتلونکې برخه د پراخ سیمه ییز کار او له سپوږمکۍ څخه د اخېستل شویو لوړ کیفیت لرونکو انځورونو پر پایلو بحث کوي، څو د نیمروز په پراخه کچه سیاسي اقتصاد راوسپړي او د ناقانونه نشه یي توکو، تاوتریخوالي او بې نظمۍ ترمنځ د اړیکې ماهیت معلومولو په موخه د یو شمېر توکو، پېښو، پالیسیو او تاریخونو اړوند اهمیت ته اشاره کوي.

---

com/۲۰۱۰/۱۲/۱۲/world/asia/۱۲drugs.html (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

۴۷ Foschini, "Economy and Development: Bad Lieutenants in Nimroz".

۴۸ Kyle Rempfer, "Airstrikes Against Taliban Drugs Labs Extend to Western Afghanistan", Military Times, ۱۰ April ۲۰۱۸, https://www.militarytimes.com/flashpoints/۲۰۱۸/۰۴/۱۰/airstrikes-against-taliban-drug-labs-extend-to-western-afghanistan/ (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰). Khaama, "NDS Special Force Storm Taliban Hideout, Prison and Drug Lab in Nimroz Province", ۱۴ March ۲۰۱۹, https://www.khaama.com/nds-special-force-storm-taliban-hideout-prison-and-drug-lab-in-nimroz-province-۰۳۴۸۳/

۴۹ U.S. Department of Defense News Transcript, Department of Defense Press Briefing by General Nicholson in the Pentagon Briefing Room, ۲ December ۲۰۱۷. https://www.defense.gov/Newsroom/Transcripts/Transcript/Article/۱۰۱۹۰۲۹/department-of-defense-press-briefing-by-general-nicholson-in-the-pentagon-brief/

۵۰ Mansfield, "Denying Revenue".

۵۱ United Nations Assistance Mission Afghanistan and United Nations Human Rights, Office of the High Commissioner, "Afghanistan Protection of Civilians in Armed Conflict, Special Report: Airstrikes on Alleged Drug Processing Facilities, Farah ۵ May ۲۰۱۹", (Kabul, October ۲۰۱۹).

۵۲ Khalili Noorzai and Mohammed Habibzada, "Taliban Looking for New Means to Support Insurgency in Southern Afghanistan", Voice of America, ۷ January ۲۰۱۸, https://www.voanews.com/extremism-watch/taliban-looking-new-means-support-insurgency-southern-afghanistan (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰); Mohammed Habibzada, "Taliban Rebels Impose Taxes on Media Outlets in Restive Ghazni", Voice of America, ۲۱ February ۲۰۱۸, https://www.voanews.com/extremism-watch/taliban-rebels-impose-taxes-media-outlets-restive-ghazni (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

# ۴. د خېړنې پوښتنو ته ځوابونه

بارفیلډ د هغو سوداګریزو لارو په تړاو څېړنه کړې، چې په افغانستان کې پرې سوداګریز توکي لېږدول کېږي او رالېږدول کېږي او د هېواد په سیاسي اقتصاد او فرهنګ کې حیاتي اهمیت لري:

> «... په داسې حال کې چې د غرونو خلک په یوه داسې نړۍ کې ژوند کوي، چې د ژوندانه د لومړنیو اساسي ستونزو تر اغېز لاندې ده؛ په غرونو کې زیاتره د لېږد رالېږد لارې د نړیوالې سوداګرۍ کانالونه دي چې په پرله پسې توګه یې دغو سیمو ته د بهرنیو راکشولو او کلتور راوړلو هڅه کړې ده. د یو لوړ ولتاژ لرونکي بریښنایي مزي په څېر دا سوداګریزې لارې له دا ډول سیمو تېرېږي، له دې کبله نه چې له حیاتي ارزښت برخمنې دي، بلکې له دې کبله چې سیمې یو له بل سره نښلوي. په پایله کې دوی د مختلفو سیمو ترمنځ د اقتصادي او فرهنګي نښلولونکو کرښو په توګه کار کوي. دا لارې بیا اقتصادي، کلتوري او سیاسي اغېز له منځه وړي.» [۵۳]

ښايي چې د بارفیلډ وینا دلته د هغو توکو پولې ارزښت بیان کړي، چې په افغانستان کې تولیدېږي، په تېره بیا ناقانونه نشه یي توکي، چې د خاشرود په څېر سیمو کې په نیمروز ولایت کې تولیدېږي، مګر ترڅنګ یې د سوداګرۍ تاریخي اهمیت او په ځايي او ملي اقتصاد کې د قلنګ یا باج ګیرۍ ونډې ته هم اشاره کوي. دغه راز دا بیانیه هغه ننګونې هم په ګوته کوي، چې فزیکي جغرافیا یې د هغو خلکو په وړاندې راپورته کوي، چې غواړي د افغانستان له لارې د هند او چین له بازارونو څخه ایران، منځنۍ آسیا او اروپا ته یا برعکس صادرات وکړي. د فزیکي جغرافیې دښمنۍ محدودیتونو له مخې چې سوداګریزې لارې محدودوي دغه راز د مرکزي حکومت اراده چې پر سیمو حاکمیت نه لري، زیاتره سوداګر د وسله والو ډلو او سختو مقرراتو دغه راز باج ګیریو له کبله له تاوتریخوالو ډکو اقداماتو او بریدونو سره مخ کوي. د دغو ګواښونو د مدیریت په موخه اړتیا ده څو ګڼ شمېر قبیلوي، کورنیو او سوداګریزو شبکو ته بیاځل کتنه وشي، چې د وسله والو ډلو له لوري ترې باج اخېستل کېږي او دغه راز لوجستیکي زیرکتیا ته هم پاملرنه وشي او کوم مهال چې یوه سوداګریزه لاره له ډېر ګواښ او لګښت سره مخ کېږي، د بلې پیداکولو پر لارو چارو فکر او اقدام وشي.

هغه څه چې په دې څېړنه کې ډېر اړین دي سوداګریزې لارې دي، چې د نورو لارو په پرتلې د وخت په مختلفو پړاوونو کې له ډېر اهمیت برخمنې دي. هغه عوامل چې د توکو د لېږد په وړاندې خنډ ګرځي، سوداګر دې ته مجبوروي څو له یادو لارو ډډه وکړي او دغه لارې وروسته یوازې د خلکو تګ راتګ پر لارو بدلېږي. په سیاسي اقتصاد کې د افغانستان، ایران او پاکستان ترمنځ د پولې سوداګرۍ پر اهمیت د لا زیاتې پوهېدنې لپاره دا ډېره اړینه ده څو د پولو دواړو غاړو ته د مختلفو سیاسي او اقتصادي شبکو ونډه تشریح او روښانه شي، چې د ځانګړو کانالونو او عبوري نقطو له لارې یې د توکو لېږد رالېږد ته زمینه مساعده کړې ده. پردې سربېره دا هم اړینه ده څو په دې وپوهېږو، چې دوی څه ډول پر نورو لارو د توکو د لېږد مخنیوی کړی دی او په ځینو حالاتو کې یې د بشپړ بندولو هڅه هم کړې ده. پولې ته د غه څېرمې سیمې نشه یي توکو اقتصاد د منځپانګې له مخې دا هم ډېره اړینه ده څو په ډاګه شي، چې ایا د نشه یي توکو تولید، سوداګري او لېږد د نورو توکو په پرتلې ډېر توپیر لري او که نه؟ په تېره بیا د تاوتریخوالي لوړې کچې د نورو توکو لکه کاني موادو، تېلو، کمیاوي کوډ او ترانزېټي سوداګرۍ په پرتلې له نشه یي توکو سره ډېره مرسته کړې ده.

دا برخه د دې څېړنې لومړنې پړاو موندنې په ډاګه کوي، چې فزیکي جغرافیا، زېربناوې، جیوپولټیک، تاوتریخوالی، رسمي او نارسمي قواعد او ملاتړې شبکې یې په نیمروز کې د سوداګرۍ بڼې په بدلون کې لوبوي. څرنګه چې د میتودلوجۍ په برخه کې تشریح شوي دي، د دې څېړنې لومړنۍ موندنې پر هغو ۳۰۳ مرکو او له سپوږمکۍ څخه د اخېستل شویو لوړ کیفیت لرونکو انځورونو پر تحلیل ولاړې دي چې د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په سپرلي کې د نیمروز ولایت په ۱۹ څېړنیزو سیمو کې ترسره شوي دي.(۱ انځور او ۱ جدول وګورئ). د یوې راسپړونکې څېړنې په توګه د دې څېړنې دا موندنې لومړنۍ دي.

۵۳ Barfield, Afghanistan: A Cultural and Political History, ۴۲-۴۵.

## ۱.۴ فزیکي جغرافیا

پر ننګرهار او پاکستان راچاپېر غرونه د خلکو او توکو د لېږد رالېږد په وړاندې ښکاره خنډ دی؛ د غرونو درې طبعي تم ځایونه دي، چې کنټرول يې انحصاري سوداګرۍ او باج اخېستنې ته لار هواروي. د افغانستان سویل لوېدیځه څنډه له لېرې بیا متفاوته لیدل کېږي، یانې دا چې داسې ښکاري چې یو تش ډاګ دی. له دې کبله د سوداګرۍ او توکو لېږد رالېږد په وړاندې هغه ډول خنډونه نشته، څه ډول چې په ختیځ کې له پاکستان سره پر فرضي کرښه لیدل کېږي. د ایران، پاکستان او افغانستان ترمنځ درې اړخیزه پوله چې د بلوچ قوم په واک کې ده، تر ډېره له خلاوو ډکه ده.

په واقعیت کې فزیکي جغرافیا د نیمروز او سویل لوېدیځ زون د سوداګرۍ او سیاست په تاریخ کې اړینه ونډه لوبوي. د دې ترڅنګ د هلمند (هیرمند) سیند د سوداګرۍ په وړاندې تر ټولو اړینه طبعي خنډ او د اقتصادي دغه راز سیاسي لوبغاړو لپاره د باج اخېستنې فرصت رامنځ ته کوونکی دی. د یاد سیند مسیر له ختیځ د لوېدیځ په لور دی او کمال خان بند ته څېرمه په **۵۰** میلو کې شمال ته تر ګرځېدو وړاندې د مارګو په پراخه دښته کې د سویل خوا ته **۲۰** میله بهېږي. دغه راز په چخانسور ولسوالۍ کې ختیځ ته تر ګرځېدو وړاندې د زرنج ولسوالۍ په اوږدو کې له ایران سره **۱۵** میله پوله هم جوړوي. په نیمروز ولایت کې د مرکزي هلمند پورتنۍ برخې په څېر ستونزې نه راپورته کوي، د چهاربرجک په ځینو برخو کې یې عرض **۲۵۰** متره او په زیاترو برخو کې له **۱۰۰** مترو اوړي.

په یاد ولایت کې نور طبعي خنډونه جهیلونه او تالابونه دي، که څه هم د هلمند سیند په څېر ننګوونکي نه دي، خو بیا هم د ځینو اندازه ډېره لویه ده. په کانګ ولسوالۍ کې هامون پژاک هغه تالاب دی چې د خاشرود، فراه رود او هلمند له سیندونو خړوبیږي. موسمي بارانونو او په مرکزي افغانستان کې د واورو وېلې کېدو ته په پام هامون پژاک د ژمي په وروستیو او سپرلي موسمونو کې د **۳** متره عمق په لرلو تر **۱۵۰۰** کیلومتره مربع ځمکې پوښي.[۵۴] د خوږو اوبو بل جهیل ګود زرې دی، چې د چهاربرجک په سویل کې د **۲,۰۰۰** کیلومتره مربع په شاخوا کې ځمکه پوښي او د هغو خلکو په لار کې خنډ دی، چې له پاکستان سره پر سویلي پوله تګ راتګ کوي.

دا او بیزې لارې د تګ راتګ وړ دي، خو د هلمند سیند پراخوالي له کبله د تګ راتګ په برخه کې کښتۍ ته اړتیا ده او هغه څوک چې غواړي په زیاته اندازه توکي پرې ولېږدوي راولېږدوي نو د سیند په دواړو غاړو کې د بارولو او تم کېدو مناسبو ځایونو ته اړتیا لري، چې دا اړتیا د یو شمېر متنفذینو لپاره د باج اخېستنې زمینه مساعدوي. په چهاربرجک کې ګڼ شمېر ځایونه شته، چې دا کار په کې ترسره شوی دی (۱۰ او ۱۱ انځورونه وګورئ). کوچنی اندازه توکي زیاتره یې په اسانۍ د لېږد وړ توکي یا هم د لوړ ارزښت لرونکي کم وزنه توکي لکه نشه یي توکي په ډېرې اسانۍ په پښو او لاسونو دغه راز ساده کښتیو کې د لېږد وړ دي، چې د پولو دواړو غاړو ته قاچاق تر ډېره بریده پاشل کېدو ته لار هواروي.

---

۵۴ John Whitney, "Geology, Water, and Wind in the Lower Helmand Basin, Southern Afghanistan", (Scientific Investigations Report ۲۰۰۶-۵۱۸۲, US Geological Survey, US Department of the Interior. ۲۰۰۶), ۳۲.





۱۰انځور: د نیمروز ولایت اړوند د چهاربرجک ولسوالۍ په مرکز کې د سیند جریان



۱۱ انځور: د هغه کښتۍ عکس چې د نیمروز ولایت اړوند د چهاربرجک ولسوالۍ په دکماشخیلو سیمه کې د هلمند پر سیند چلیږي.
سرچینه موسسه: د پایدارۍ ودې مطالعاتو موسسه

د وچ موسم یا اوږدمهاله وچکالۍ پرمهال د زرنج ولسوالۍ له سرحدي سیمو او د کانګ ولسوالۍ له زیاترو برخو څخه په اسانۍ تګ راتګ کېدلای شي، چې دا کار ځینې برخې لکه درویشک او تیلای د قاچاق لپاره په مشهورو ځایونو بدل کړي.(۱۲ انځور وګورئ). ځینې ځایونه خو حتی په ډېرو متمرکزو سیمو بدل شوي چې هوټلونه، بس تم ځایونه او د مستریانو په څېر د کارګرانو او خدماتو تدارک هم لري. د بېلګې په توګه د ځینو اړینو مخبرینو او سوداګرو په وینا د کانګ ولسوالۍ شمال او هامون پڅاک ته څېرمه پروت د کروکي کلۍ په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو کې مستقیما د ایران ځینو برخو ته د وچکالۍ موسم پرمهال او په سپرلي کې له کښتیو په ګټې اخېستنې د ډیزلو، نشه یي توکو، غالیو او برېښنایي وسایلو تر ټولو عمده ځای و. انځورونه او د سترګو لیدلی حال په ډاګه کوي، چې یاده سیمه په ۲۰۰۴ زېږدیز کال کې د سیلابونو د تخریب له کبله ترک شوې ده (۱۳ انځور وګورئ).

۱۲ انځور: په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۹ زېږديز کلونو کې د وچکالۍ پرمهال د هلمند سيند پرتله



۱۳ انځور: د کانګ ولسوالۍ اړوند د کروکي کلی، چې یو وخت د پولو دواړو غاړو ته د تېرېدو لپاره لوی تم ځای و، خو اوسمهال د سیلابونو له کبله پرېښودل شوی دی.



په نیمروز ولایت کې د سوداګرۍ جریان په وړاندې بل طبعي خنډ دښته ده. د هلمند حوزه د وچ اقلیم په توګه پېژندل کېږي او په نیمروز کې یو شمېر دښتې دي، چې ډېر وچې او خنډ ایجادوونکې دي.[۵۵] د بېلګې په توګه مارګو (د مرګ دښته) په نړۍ کې ۲۰ مه لویه دښته ده، چې ډېره برخه یې د چخانسور په ولسوالۍ کې ده او د چهاربرجک زیاتره برخې هم تر پوښښ لاندې راولي. بله لویه دښته د جهنم دښته ده، چې د مارګو دښتې او غولغوله غیر حاصلحیزو سیمو ترڅنګ موقعیت لري او د هلمند سیند شمال ته په چهاربرجک او سویلي زرنج کې زیاتې سیمې تر پوښښ لاندې راولي. له دې کوچنۍ دښتې لکه سرسبز دښته او سرپات دښته د چهاربرجک په ولسوالۍ کې د هلمند سیند سویل ته همواره ځمکه او د ډاک دغه راز روبات په ښارګوټو کې تر پولې پورې لویه لاره په ځان کې رانغاړي.

په جولای میاشت کې چې د کال تر ټولو معتدله میاشت ده، په دغو دښتو کې د هوا تودوخې منځنۍ کچه تر **۳۵** سانتي ګرېډ پورې ده، مګر تودوخه یې تر **۵۰** درجو پورې هم لوړېږي.[۵۶] له خاشرود تر برامچه پورې غځېدلې لاره (چې په هلمند کې پولې ته څېرمه اړین ښارګوټي دي او د نشه یي توکو د تولید او سوداګرۍ مرکز دی) د مارګو دښتې له لارې د هلمند سیند له لارې **۱۵۰** کیلومتره اوږدوالی لري او بیا په هلمند کې د راجستان دښتې له لارې **۱۵۰** کیلومتره نوره هم اوږده ده. له بکوا تر کانګ پورې د لارې اوږدوالی **۱۵۰** کیلومتره دی، چې له مالامال، ارتومې او زولک دښتو څخه تېرېږي. د انساني قاچاقبرانو لپاره سفر تر ډېره ننګونکی دی، چې له زرنج تر چهاربرجک پورې د جهنم دښتې له لارې په پیک آپ موټرو کې ۷۰ کیلومتره سفر کوي، له هلمند سیند تېرېږي او بیا د پاکستان پولې ته څېرمه تر ډاک پورې ۲۰۰ کیلومتره نور سفر کوي.

په دغو دښتو کې سفر کول ډېر ستونزمن دی. سړکونه په ننښتو نه دي پوښل شوي او موټرونه په اسانۍ سره تر پرله پسې خاورو او دوړو لاندې کېدای شي، په تېره بیا په اوړي موسم کې ډېر په دوړو کې پټېدای شي. دا چې پر پیاده لار سفر زیاتره د ماسپښین او ماښام پرمهال کېږي، چې لمر کمېږي او هوا سړېږي، نو ډریوران هم ورکېږي او موټرونه یې په شګو او دوړو کې بند پاتې کېږي. پر پیاده لاره د سفر کولو لپاره د نومړې سیمې په تړاو معلومات لرل ډېر حیاتي اهمیت لري او په سنتي توګه د پولو دواړو غاړو ته او تر سویل پورې سوداګري د بلوچو قوم په واک کې ده (۱۴ انځور وګورئ).

**۱۴ انځور: د نیمروز اړوند په چهاربرجک کې د دښتې د دوړو او شګو موقعیت بدلون عکس. سرچینه: د پایداره ودې لپاره د څېړنو موسسه**



۵۵ Whitney, "Geology, Water, and Wind," ۱۵.

۵۶ Whitney, "Geology, Water, and Wind," ۱۲.

## ۲.۴. فزیکي زېربناوې

پر فزیکي زېربناوو پانګونه د پولو دوارو غاړو ته سوداګرۍ په وړاندې د اسانچاري او مانع دوارو ونډه لوبولای شي او د ځینو سوداګریزو لارو (او د عمومي سوداګریزو لارو ترڅنګ فرعي لارو) لپاره د نورو لارو په پرتلې یو شمېر ګټې لري. د بېلګې په توګه د یو ځانګړي پُل، سرک، یا هم ګمرکي اسانتیاوو په څېر د سرحدي کنټرول لپاره د بودجې اختصاص کولای شي د دې پرځای چې له ګڼ شمېر لارو توکي صادر او وارد شي له یوې ځانګړې لارې په قانوني توګه په پراخه کچه توکي صادر او وارد شي. په ورته مهال کې د اغزن تار، دیوال یا هم خندقونو په څېر د پولې اړوند زېربناوې کولای شي د یوې ځانګړې لارې په اوږدو کې د خلکو او توکو د لېږد رالېږد مانع شي او د خوښې وړ عبوري نقطې له لارې په سوداګرۍ کې مرسته وکړي. د کورنۍ پانګونې په څېر نورې زېربنایي پانګونې کولای شي د توکو په تولید او استخراج دغه راز کورنیو او بهرنیو بازارونو ته د هغوی په لېږد کې مرسته وکړي.

د ننګرهار په څېر د نورو ولایتونو برعکس په ۲۰۰۲ زېږدیز کال کې د افغانستان د زېربنایي پروژو له پیل تر دې دمه په نیمروز ولایت د فزیکي زېربناوو په برخه کې ډېره کمه پانګونه شوې او حتی له یاد وخت د وړاندې دورې په پرتلې هم کمه وه. هغه په لویه کچه پانګونې چې په یاد ولایت کې ترسره شوي لکه د میلاک پُل او هغه سرک چې زرنج له دلارام سره نښلوي، ستراتیژیکې پانګونې دي، چې موخه یې ایران ته د صادرېدونکو او له ایران څخه د واردېدونکو توکو لپاره په لوی سوداګریز مرکز د یاد ولایت په تېره بیا د زرنج ښار بدلول دي. په واقعیت کې پر فزیکي زېربناوو تر ټولو ډېرې او اړینې پانګونې په خپله په ایران کې ترسره شوې، دا پانګونې یوازې په چابهار بندر کې نه بلکې له افغانستان سره تر پولې پورې د ټولې لارې په اوږدو کې شوې دي.

د عیني شاهدانو په وینا پر له افغانستان سره پر ۹۲۱ کیلومتره پوله د تاسیساتو او نورو موانعو لکه دیوالونو جوړولو، اغزن تار تاوولو او خندقونو کېندلو په برخه کې پانګونه د ۱۹۹۰ لسیزې په وروستیو کې د ایران له لوري پیل شوه. دا کار په افغانستان کې د طالبانو له رژیم سره د ناندریو راپورته کېدو لامل شو، په تېره بیا هغه مهال چې طالبانو په ۱۹۹۸ کال کې د افغانستان شمالي ولایت بلخ ونیو او د ایران قونسلګرۍ یې تر محاصرې لاندې راوسته، چې په ترڅ کې یې تر ۹ پورې ایراني ډیپلوماتان یې ووژل. په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې د پولې پر سر ودانیو په برخه کې لومړنۍ پانګونه د اغزن تار په تاوولو سره بیاځل پیل شوه، چې د پولې په اوږدو کې نور تاسیسات او موانع رامنځ ته شول دغه راز په زرنج کې د رسمي عبوري نقطې شمال او جنوب دوارو غاړو ته د ۳۵ میلو په اوږدوالي د دیوال جوړول هم په کې شامل وو.

د ایران له لوري پر پوله د موانعو جوړولو، د میلاک پُل او له زرنج تر دلارام لویې لارې دغه راز د پولو دوارو غاړو ته پر سوداګرۍ او سفر حاکمو مقرراتو په ټوله کې په ګډه په نیمروز ولایت کې د قانوني او ناقانونه دوارو توکو د سوداګرۍ بڼه بدله کړې ده. تر ټولو اړینه دا چې دغو اقداماتو د زرنج له لارې د قانوني محصولاتو د سوداګرۍ په متمرکزولو کې د پام وړ رول لوبولای دی (هغه که په قانوني توګه یا هم ناقانونه توګه لېږدول کېږي). په داسې حال کې چې له دې وړاندې د عیني شاهدانو په وینا توکي له ایران څخه د نیمروز له لارې په پېټو، خرو او کښتیو کې په بېلا بېلو لارو راواردېدل یا صادرېدل، ترڅنګ یې سوداګري مستقیماً د میلاک له لارې ترسره کېده چې په ورځ کې تر ۲۰۰ پر کانټېرونو بار موټرو پر پوله تګ راتګ کاوه. خو دې کار د نارسمي عبوري لارو څخه د قاچاق پر اهمیت کومه اغېزه ونه کړه. په حقیقت کې د سون توکو په څېر د بېلا بېلو اقلامو قاچاق تر دې دمه هم دوام لري خو د میلاک او زرنج له لارې د سوداګرۍ حجم په پراخه کچه په نیمروز کې د سوداګرۍ ماهیت او له دې لارې ترلاسه کېدونکو ګټو ته بدلون ورکړی دی.


د بېلګې په توګه له ایران څخه د راواردېدونکو تېلو یو ټانکر حجم ۲۳ میټریک ټنه دی، چې د ۲۸،۵۲۰ لیټرو معادل دی. عیني شواهد په ډاګه کوي چې دغه ټانکرونه دوه نورې فرعي ټانکۍ هم له ځان سره لري، چې ۵ میټریک ټنه (د ۲،۲۰۰ لیټرو معادل) اضافي تېل په قاچاقي بڼه واردوي. د تېلو ټانکر خپله د سون ټانکي (چې میلاک ته تر رارسېدو مخکې په ایران کې ډکېږي) او ګڼ شمېر نور بوتلونه (له ۱ تر ۳ لیټرو پورې) چې په سیټ کې پټېږي، د میلاک رسمي عبوري نقطې له لارې تېل له خپل وزن او اندازې زیات راواردوي. دا هغه څه دي، چې په نیمروز کې په ورځنۍ ډول له نارسمي عبوري نقطو تر ۸۰ لیټرو پورې لارې لېږدول کېږي او هر یو بزګر کولای شي د کانګ په دروېشک کې خپل تراکټور له ځان سره د ایران تر اغزن تار پورې راوړي یا هم تر ۱۲۰۰ لیټرو پورې د قاچاقبرانو یا کوچنیو سوداګرو له لوري په پیک اپ موټرو د ماکې په بادوکې راوړل کېږي او زرنج ښار ته د خرڅلاو لپاره وړل کېږي. په سوداګریزو لارو کې دغه بدلون او د لېږدولو بڼې د لویو سوداګرو په لاس کې د شتمنۍ او فرصتونو

د راغونډېدو لامل ګرځېدلي دي. په دې اړه په ګډه کې یو عیني شاهد وویل: «پخوا هر کس کولای شول د پولو دوارو غاړو ته سوداګرۍ لـه کبله خپل کاري چاپېریال بدل کړي خو او سمهال د ځوانانو لپاره هېڅ راز کاري فرصتونه شتون نه لري.»

پـه ورتـه ډول بدلـون د ناقانونه نشـه يي توکو پـه لېږد رالېږد کې هم تر سترګو کېږي، که څه هم تل په داسې ډول نه وي. د بېلګې پـه توګـه پخوا د انسـانانو په قاچاق کې د ښـکېلو کسـانو ملاتړ زرنـج تـه نېږدې پر پولـه د ځايـي متنفذينو له لـوري کېده، چې دې کار پـه سویل کې له پاکستان سره تر پولې د لېږد رالېږد لاره بدلـه کړه، لومړی د روبات له لارې یاد قاچاق تر پولې پـورې کېږي، بيا ډاک تـه رسېږي، له ډاک وروسـته د مشـخېلو له لارې ایـران تـه د ننه کېږي.[57] په داسې حال کې چې د دې څېړنې موندنـې پـه ډاګه کوي چې د انسـانانو په قاچاق کې او سمهال هم د ډريوارانو پـه ګډون ګڼ شمېر خلک ښـکېل دي، خو ياده سوداګري او تـرې ترلاسه کېدونکې ګټې تر ډېره په زرنج کې هوتـل لرونکو او د هغـوی اسـتازو دغه راز پـه چهاربرجک او زرنـج ولسـواليو کـې د لارې په اوږدو کې د ولسـوالۍ چارواکو او ملي امنيتـي ځواکونو پـه ګډون د دوی ارتباطي اشـخاصو لاس ته ورځي.

يـوازې د انسـانانو قاچاق نـه، بلکې د ناقانونه نشـه يي توکو سوداګرۍ هم د ايران لـه لوري پر پولـه د ولکې پـه وړاندې غبرګـون لـه ځان سره درلـود. د ۱۹۹۰ يمې لسـيزې پـه ترڅ کې پر پولـه د موانعـو رامنځ تـه کولـو لومړنيو اقداماتو پـه دې برخه کې تـر يـوې اندازې محدوديت رامنځ ته کـړ خو پـه بشـپړه توګه يې د پولـو دواړو غـاړو تـه د چرسـو او اپيمو د سـوداګرۍ مخنيوی ونـه شـو کړای او سـوداګر تراوسـه هم کولای شـي څو لـه موټرو پـه ګټـې اخېسـتنې ايران ته نشـه يي توکي ولېږدوي، پـه تېره بيا دا کار پـه کانګ او د چهاربرجک پـه کښـتنيو برخو کې ډېر اسـانه دی، چېرتـه چې پـر پولـه موانع د بسـنې وړ نـه وي، تخريب شـوي دي او کـوم څارونکـي نـه لري (**۱۵ انځور** وګورئ). خو وروسـته بيـا د ايران لـه لوري د نور اغـزن تار تاوولو او د ديوال بشـپړولو دغـه راز د پولـو پـه اوږدو کې د ايران سرحدي پوليسـو له لوري د ګرځنده څارونکو ټيمونـو د ګمارلـو لـه کبله کمښـت وموند او تر ډېره يې مخنيوی وشو.

**۱۵ انځور: عکس د نيمروز ولايت په چهاربرجک ولسوالۍ کې د ديوال ترمنځ تشه په ډاګه کوي.**




۵۷ Luke Mogelson, “The Scariest Little Corner of the World”, The New York Times Magazine, ۱۲ October ۲۰۱۲. https://www.nytimes.com/۲۰۱۲/۱۰/۲۱/magazine/the-corner-where-afghanistan-iran-and-pakistan-meet.html (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰).

په داسې حال کې چې پولې ته څېرمه ځايي افغان قاچاقبران کولای شي له زینې په ګټې اخېستنې او د ایران او افغانستان دواړو هېوادونو له سرحدي پولیسو سره د جوړجاړي له مخې کمه اندازه نشه یي توکي ایران ته ولېږدوي، خو دوی شکایت لري چې یاده سوداګري اوس د پخوا په څېر اسانه نه ده او ډېره خطرناکه ده؛ په تېره بیا که چېرې د ګرځنده ایراني ځارونکو له لوري ولیدل شي، چې نه د یادې سیمې دي او نه هم په سیمه کې خپلوان لري، مستقیماً پر هغو خلکو ډزې کوي، چې غواړي له پولې تېر شي.[۵۸] ځینو قاچاقبرانو بیا لویې غولکې جوړې کړې دي، چې کولای شي یو کیلوګرام وزن د پولې ها خوا تر ۲۰۰ مترو پورې واړوي، چې د دوی دا کار د نیول کېدو او ټپي کېدو خطر د غه راز ایراني سرحدي پولیسو ته د رشوت ورکړې لګښت راکموي (۱۲ انځور وګورئ).

۱۲ انځور: د منجنیق انځور چې ۱ په ۱.۵ کې سور او لوړوالی لري او له ایران سره پر پوله د خشخاشو، اپیمو او میتافیتامینو د قاچاق لپاره کارول کېږي. سرچینه: د پایداره ودې لپاره د څېړنو موسسه



له ایران سره پر پوله د پرمختللو موانعو پر شتون سربېره، هغه قاچاقبران چې په لوی حجم نشه یي توکي قاچاق کوي اړ کېږي څو په کانتېرونو یا هم د موټرو په سیټونو کې د نشه یي توکو په پټولو سره د زرنج له رسمي لارې یا هم له پاکستان سره تر سویلي کرښې پورې د برامچې له لارې په لویو موټرونو کې خپل توکي ولېږدوي. په هر حال دا لارې چارې په لویه کچه پانګونې او د پولې دواړو غاړو ته د رسمي چارواکو په ګډون له ځواک او واک لرونکو ملاتړو شبکو سره د اړیکو ټینګولو ته اړتیا لري. دا کار د هغو متمرکزو او تخصصي شرایطو بېلګه په ډاګه کوي چې د ایران له لوري پر پوله د ولکې له کبله پر سوداګرۍ وضع شوي دي.

د دې جریان اغېزې ډېرې ژورې دي. د اقلیمي شرایطو خرابوالی په تېره بیا اوږدمهاله وچکالي او په تېره لسیزه کې له ایران سره د نارسمي لارو د قانوني او ناقانونه توکو د لېږد رالېږد په حجم د غه راز د هغو عوایدو په کچه کې کمښت چې د کوچنیو سوداګرو له لوري ترلاسه کېدل د پراخ شمېر کډوالۍ د تحریک لامل ګرځېدلی. په نیمروز کې هغه ګڼ شمېر کلي چې پولې ته د دواړو غاړو په سوداګرۍ کې یې په سنتي ډول د پام وړ ونډه اداء کړې ده، د بېلا بېلو مهمو مخبرینو د خبرو په استناد تر ۷۰ سلنه پورې د نفوس له کمښت او کډوالۍ سره مخ شوي دي.[۵۹]


په دې توګه د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګریزو اړیکو په رسمي کېدو او په میلاک کې د بندر په پرانېستل کېدو سره د دغو سرحدي سیمو بنې هم بدلون موندلای دی. یادې سیمې اوس نورې هغه پخوانۍ سیمې نه دي، چې د پولې دواړو غاړو ته استوګن وګړي په خپله خوښه وکولای شي د ایران او افغانستان پولې دواړو غاړو ته تګ راتګ وکړي او د ژوندانه د تأمین لپاره د تکیې وړ کرنیزو محصولاتو په نه شتون کې د تېلو، غالیو، نشه یي او استهلاکي توکو په څېر ګڼ شمېر توکي او وسایل ولېږدوي راولېږدوي. او سمهال د ایران او افغانستان ترمنځ پر پوله ولکه زیاته شوې ده؛ پر پوله له سوداګرۍ ترلاسه کېدونکې ګټې کمې دي او دواړو غاړو ته د قانوني توکو د لېږد لپاره د پام وړ اړتیا ده څو په کافي اندازه عواید ترې ترلاسه شي.

۵۸ Mogelson, "The Scariest Little Corner of the World"; Zurutuza, "Afghans Living Under a Shadow of Iranian Guns."

۵۹ Zurutuza, "Afghans Living Under A Shadow of Iranian Guns."

قاچاقبران او سمهال له پاکستان سره پولې ته ډېره ترجيح ورکوي، په تېره بيا هغه کسان چې د نشه يي توکو او انسانانو د قاچاق په څېر د ناقانونه توکو په لېږد کې لاس لري، مګر ياده پوله هم تر ډېره تر ګواښ لاندې ده ځکه پاکستاني حکومت په بلوچستان کې پر پوله اغزن تار تاووي. دغه راز له سپوږمکۍ څخه اخېستل شوي تصويرونه په ډاګه کوي، چې د افغانستان په خاوره کې د ننه هم ځينې واټونه موجود دي (۱۷ انځور وګورئ). راتلونکې برخه هغه جيوپولټيکي عوامل راسپړي، چې د پولو دواړو غاړو ترمنځ د اړيکو په بدلون کې يې رول لوبولی دی ترڅنګ يې پر هغو اغېزو هم رڼا اچوي چې يادو عواملو پر سوداګريزو لارو او تم ځايونو درلودې او دا په ډاګه کوي چې خلکو يې په وړاندې څه ډول غبرګون ښودلی دی.

۱۷ انځور: له پاکستان سره ډيورنډ کرښې ته څېرمه سيمه چې د پاکستان حکومت له لوري په ۲۰۱۹ زېږديز کال کې د اغزن تار تاوول په ډاګه کوي.



## ۳.۴. جیوپولټیک

له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان سیاسي اړیکو پولې ته په څېرمه پرتو سیمو کې د سوداګرۍ په بڼه او لارو کې برخلیک ټاکونکي ونډه لوبولای او د یادو سیمو سیاسي اقتصاد ته یې بدلون ورکړی دی. د نیمروز ولایت لپاره له ایران سره اړیکې ډېرې اړینې دي. له ۱۹۸۰ یممې لسیزه وړاندې د دغو دوو هېوادونو ترمنځ اړیکې دوستانه وې او ایران په افغانستان کې د واک پر سر د ظاهرشاه (۱۹۳۳-۱۹۷۳) او داوودخان (۱۹۷۳-۱۹۷۸) دواړو حکومتونو ته د اسلام قلعه له لارې په لویه پیمانه تېل صادرول.[۲۰] په ایران کې اسلامي انقلاب او پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل دا اړیکې له ځنډ سره مخ کړې. د ایت الله خمیني تر مشرۍ لاندې ایراني حکومت په کابل کې خپل سفارت وتړه؛ د افغانستان خلق ډموکراټیک ګوند تر مشرۍ لاندې افغان حکومت هم په تهران کې ورته اقدام ترسره کړ.

په نیمروز کې د دواړو حکومتونو ترمنځ دښمنۍ د ایران له لوري د مجاهدینو په تېره بیا د عبدالکریم براهوي تر مشرۍ لاندې د نیمروز جبهې د ملاتړ له کبله زور واخېست. د عیني شاهدانو په وینا تهران خپله پوله مجاهدینو ته پرانېسته او د نیمروز سرحدي سیمو ګڼ شمېر اوسېدونکي د کمونېستي حکومت د واکمنۍ پرمهال په ایران کې د کډوالو په توګه اوسېدل، یوازې له هغه وروسته هېواد ته راستانه شول چې په ۱۹۹۲ مېلادي کال کې د ډاکټر نجیب الله حکومت سقوط وکړ. لا تر اوسه هم زیاتره خلک د دواړو هېوادونو تابعیت لري او د کورنیو یوه برخه یې له پولې هاخوا په ایران کې اوسېږي.

د ۱۹۹۰ یمې لسیزې په وروستیو کې له افغانستان سره د ایران اړیکې خصمانه وې. په تهران کې شیعه حکومت د طالبانو له رژیم سره مخالف و. له شیعه لږکیو دغه راز بلوڅانو سره د طالبانو چلند او د اوبو حقوقو پر سر رواني شخړې – چې د ۱۹۹۰ لسیزې په وروستیو کې د سختې وچکالۍ پرمهال د طالبانو له لوري ایران ته د هلمند سیند جریان په پرېکون سره یې لا شدت وموند – د دې لامل شوې څو ایران د طالبانو له مخالفینو د بېلګې په توګه د افغانستان د نجات لپاره متحده اسلامي جبهې چې زیاتره د شمالي ټلوالې په نوم پېژندل کېږي؛ ملاتړ وکړي.

دا اړیکې هغه مهال لا زیاتې ترینګلې شوې، چې په ۱۹۹۸ زېږدیز کال کې طالبانو په مزارشریف ښار کې د ایران پر قونسلګرۍ برید وکړ او په کې شته ټول ډیپلوماټان یې ووژل.[۲۱] هغه وخت داسې راپورونه وو، چې شاوخوا ۱۰۰،۰۰۰ ایراني عسکر له افغانستان سره پولې ته څېرمه اعزام شوي دي، او په کور د ننه افغانستان کې هم داسې ویل کېدل، چې پوله مطلق، حتی د قاچاقبرانو په وړاندې هم تړل شوې ده او له ایران سره د جګړې نظرونه کښته پورته کېدل.[۲۲] د اړیکو دې ترینګلتیا له ختمېدو وروسته هر رژیم یو د بل د نفوذ مخنیوي پر لارو چارو په برخه کې اقدامات ترسره کړل. د بېلګې په توګه ایران پر پوله دیوال جوړ کړ، چې په تېره برخه کې مو پرې بحث وکړ؛ او طالبانو د ملا رسول تر والي توب لاندې د نیمروز مرکز له زرنج ښار څخه غورغوري ته چې د ایران له پولې سره ۹۳ کیلومتره واټن لري، انتقال کړ.[۲۳]

---

۲۰ Anna Patterson, "Understanding Markets in Afghanistan: A Study of the Market for Petroleum Fuels", (Afghanistan Research Evaluation Unit, Case Study Series, October ۲۰۰۵), ۵.

۲۱ Mogelson, "The Scariest Little Corner of the World".

۲۲ په دغه وخت کې لیکوال د نشه یي توکو له سوداګرو سره په هلمند کې او کندهار ولایتونو کې له نېږدې د څېړنې لپاره کار کاوه.

۲۳ Casey Garret Johnson, "A Good Taliban, Bad Taliban Strategy for the US and Afghanistan?", The Diplomat, ۲۸ May ۲۰۱۲. https://thediplomat.com/۲۰۱۲/۰۵/a-good-taliban-bad-taliban-strategy-for-the-us-and-afghanistan/ (accessed ۲۷ August ۲۰۲۰); Rzehak, "Remembering the Taliban", ۱۸۲; "Afghan Biographies, "Mullah Mohammed Rasul Akhund".


د طالبانو رژیم له ړنګېدو وروسته له افغانستان سره د ایران اړیکې په بې ساري ډول پراخې او پیاوړې شوې. څرنګه چې ایراني حکومت له ډېر وخت راهیسې د شمالي ټلوالې او شیعه لړکیو په څېر د دواړو ډلو ملاتړ کاوه، او وروسته یادو ډلو په لنډمهاله اداره (۲۰۰۱-۲۰۰۳) او د کرزي حکومت (۲۰۰۴-۲۰۱۴) کلونو پرمهال د پام وړ سیاسي واک او په امنیتي سکتور کې نفوذ درلود ترڅنګ یې په ډېر ښه موقعیت کې هم وو، څو د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له نوي تاسیس شوي حکومت سره کار وکړي.

له ایران سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې په تېره بیا هغه مهال وغوړېدې چې د کرزي حکومت په وروستیو کلونو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې خرابې شوې او بیا د ولسمشر غني حکومت پرمهال (۲۰۱۴) کې یې همداسې دوام وموند. له نورو نړۍ په تېره بیا هندوستان سره د سوداګریز دهلیز په توګه د افغانستان تکیې راکمولو ته په پام افغان حکومت په بې ساري ډول ایراني لوري ته پاملرنه زیاته کړه. دا کار د دې لامل شو، چې د ایران او افغانستان ترمنځ په اقتصادي او سیاسي اړیکو او د ایران په سویل کې د هرمز په تنګي کې د عباس په زیاته کچه بوخت بندر له لارې تر اسلام قلعې – هرات پورې د رسمي لارې څخه د راوارېدونکو / صادرېدونکو توکو په حجم کې یو څه توازن رامنځ ته شي.[۲۴]

په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې د ایران او هندوستان حکومتونو په ملګرتیا افغانستان رسماً په عمان خلیج کې د چابهار بندر له لارې رسمي سوداګریز دهلېز پرانېست (۱۸ انځور وګورئ). دې کار هغو افغاني توکو ته په چټکۍ سره تر هندوستان او نورو بازارونو پورې د رسېدو اجازه ورکړه، چې پخوا د پاکستان له لارې لېږدول کېدل. دغه راز ایران هم تعرفې او وارداتي مالیات راکم کړل څو د افغان سوداګرو او افغانستان ترڅنګ د مرکزي آسیا نور هېوادونه هم دې ته وهڅوي څو د پاکستان له لوېې لارې څخه – چې د چین – پاکستان اقتصادي دهلېز د نوښت تر چتر لاندې د بلوچستان اړوند د مارکان په ګوادر بند کې له چین سره په ملګرتیا جوړه شوې ده، مخ واړوي. هندوستان په نیمروز دغه راز ایران کې د لویو فزیکي زېربناوو د تمویل له لارې د چابهار بندر او ترانسپورتي دهلېز په پراختیا کې د پام وړ اړینه ونډه اداء کړې ده (۱۹ انځور وګورئ). یاد هېواد د چابهار بند مدیریت په خپل لاس کې اخېستی دی. په دې کار سره هندوستان له افغان حکومت سره خپلې اقتصادي او سیاسي اړیکې لا زیاتې ټینګې کړې او پر پاکستان باندې یې د سوداګریز شریک په توګه د افغانستان تکیه راکمه کړه، چې په خپل وار سره په سیمه کې د هندوستان له جیوپولټیکو موخو سره ډېره مرسته کوي.[۲۵] تر دې بریده، چې په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې له ایران سره د افغانستان د سوداګرۍ کچه تر ۲ میلیارده امریکایي ډالرو ورسېده او د پاکستان په پرتلې هم زیاته شوه، ترڅنګ یې په زیاته کچه ډیزل د پاکستان پرځای د ایران له لارې واردېدل.


۲۴ https://csis-prod.,۲۰۱۹ Asha Sawhney, “Chabahar Port: Unlocking Afghanistan’s Potential”, New Perspectives, April Sawhney.pdf Khesrew Omid Farooq. “Chabahar Port_amazonaws.com/s۳fs-public/NewPerspectives_APRIL۲۰۱۹.s۳ /۰۷/۲۰۱۹/https://thediplomat.com ,۲۰۱۹ July ۳ ,a Step Toward Connectivity for India and Afghanistan”, The Diplomat .(۲۰۲۰ August ۲۷ chabahar-port-a-step-toward-connectivity-for-india-and-afghanistan/ (accessed

۲۵ ,۲۰۱۹ July ۳ ,Khesrew Omid Farooq. “Chabahar Port a Step Toward Connectivity for India and Afghanistan”, The Diplomat ۲۷ chabahar-port-a-step-toward-connectivity-for-india-and-afghanistan/ (accessed/۰۷/۲۰۱۹/https://thediplomat.com .(۲۰۲۰ August




۱۸ انځور: نقشه له زرنج ښار څخه تر عباس بندر او چابهار بندر پورې لارې په ګوته کوي

۱۹ انځور: پورته عکس د ۲۰۱۷ او ۲۰۲۰ زېږدیز کلونو ترمنځ د چابهار بندر پراختیا په ډاګه کوي



د ایران او افغانستان ترمنځ د سیاسي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا اساس یو شمېر سیاسي ننګوني دي، چې مستقیماً د نیمروز پر سرحدي سیمو اغېز کوي. لومړی، له خپلو لږکیو سره د ایران ستونزې د افغانستان له نیمروز ولایت او ترڅنګ یې د افغانستان له لوېدیځ سره د عکس العمل په ښودلو کې د پام وړ رول لري. بلوڅ قوم چې په درېیو هېوادونو کې وېشل شوی دی، د ایراني حکومت لپاره په یو سرخوږي بدل شوی. بلوڅان د سني مذهب پلوي مسلمانان دي چې په تهران کې د شیعه حکومت له لوري له سیستماتیک تبعیض او د بلوچستان په سیستان ولایت کې له کمې پانګونې څخه سر ټکوي.[۲۶] د دې ترڅنګ دوی ۸ میلیوني نفوس لرونکې لږکۍ ډله ده، چې په درېیو هېوادونو کې وېشل شوي دي، له دې ډلې زیاته برخه (۲ میلیونه) ی ې په پاکستان کې، تر ۲ میلیونه یې په ایران کې او د اټکل له مخې ۵۰۰،۰۰ یې په افغانستان تر ډېره نیمروز ولایت کې مېشت دي او یوه ملت پاله بېلتون غوښتونکې ډله ده. په پاکستان او ایران دواړو هېوادونو کې له حکومت سره د دوی مخالفت په پاکستان د بلوچستان د ازادۍ غوښتنې اردو او د بلوچ خلکو د ازادۍ جبهې په څېر د بلوچ ملت پالو خوځښت تر چتر لاندې او په ایران کې د ایران د خلکو د مقاومت غورځنګ، چې په جندالله هم مشهور دی، له تاوتریخوالي د ډک عکس العمل لامل ګرځېدلی دی.[۲۷]

تهران هڅه کوي څو د بلوڅانو نظامي ځواک تسلیم کړي او په سیستان بلوچستان کې د دوی ترمنځ د تفرقې اچولو هڅه کوي. له موږ سره په خبرو کې د سیمې اوسېدونکو ویلي دي، چې د تېرو څو لسیزو په ترڅ کې د دې پالیسۍ پلي کېدلو بدلون موندلی او پولې ته د څېرمه وګړو د ملاتړ په موخه په لوړه کچه پر پوله د قاچاق په وړاندې له تحمل یا مصلحت د ګټې اخېستنې څخه یې په سیمه کې د پانګونې پر لور تغییر کړی دی، چې د هندوستان له لوري په فزیکي زېربناوو او د نیمروز له لارې د رسمي سوداګریزې لارې په پرانېستل کېدو سره یې ملاتړ شوی دی.[۲۸] پر دې سربېره د بلوچستان د سیستان ولایت له وګړو سره د خوراکي موادو سبسایډۍ په تېره بیا د تېلو په بڼه یو شمېر مرستې کېږي، چې له بلوڅانو د ملاتړ لارې په توګه ورته کتل کېږي او د تهران په څېر سیمو ته د کار په لټه کې د دوی کډوالۍ او بې ځایه کېدو انګېزې په راکمولو کې ترې ګټه پورته کېږي. په ځایي کچه د تېلو په برخه کې سبسایډۍ او په کور د ننه مصرف دغه راز د صادراتو لپاره د ډیزلو په قیمت کې توپیر او ترڅنګ یې د ایراني سرحدي ګارډ له لوري د پولې دواړو غاړو ته د کوچنۍ کچې توکو په لېږد کې د اسانتیاوو رامنځ ته کول د سیستان بلوچستان او نیمروز دواړو ولایتونو لپاره ډېر حیاتي اهمیت لري او ایراني حکومت په کمه اندازه قاچاق څخه پولې ته د څېرمه وګړو د ژوندانه د تامین اړتیاوو د یوې ستراتیژۍ په توګه ګټه پورته کړې ده.

له افغانستان سره د ایران اړیکو لپاره دویم اړین عنصر د اوبو حقوق او د ایراني حکومت د لید لوري او باور څرنګوالی دی، یانې دا چې د فراه (بخش آباد)، هرات (سلما) او نیمروز (کمال خان) په پورتنۍ برخه کې د افغان حکومت له لوري د برېښنا بندونو او ډمونو جوړول دغه راز د شته (په هلمند کې د کجکې برېښنا بند) پیاوړي کول به څرنګه په منفي توګه د سیستان بلوچستان پر وګړو اغېز وکړي. له هریرود، خاشرو او هلمند سیندونو څخه پر بهېدونکو اوبو د ایران حقوقو پر سر شخړه ډېره پخوانۍ او تاریخي ده، چې یوازې په ۱۹۷۳ زېږدیز کال کې د اوبو دوه اړخیز تړون په ترڅ کې هواره شوه، خو په افغانستان کې د کودتا، د ایران انقلاب، وروسته د شوروي اتحاد له لوري پر افغانستان د یرغل او بیا د افغانستان کورنۍ جګړې له کبله هېڅکله هم تصویب یا پلي نه شوه.

د ایران او افغانستان ترمنځ د اوبو پر سر د اختلاف اهمیت تر دې بریده دی، چې د دواړو هېوادونو ولسمشرانو له لوري د عامه څرګندونو او د ایران مذهبي مشر علي خمیني دغه راز ولسمشر غني ترمنځ د خبرو اترو لامل ګرځېدلې. ایران په دې باور دی، چې ۸۵۰ متر مکعب اوبو ته لاسرسی د تړون له مخې د دوی حق دی او د دوی بلوڅ اقلیت د ژوندانه په تامین کې حیاتي رول لري دغه راز به په یاده اندازه اوبه له سیستان بلوچستان څخه د وچکالۍ او طوفان په مخنیوي کې مرسته کوي، دا هغه څه دي چې تهران یې لېوالتیا لري، چې مخنیوی یې وکړي.[۲۹] ایراني حکومت په ځلونو په دې تورن شوی چې چې

---

۲۶ Edward Joy Hernandez, "Balochistan and Nationalism" (Report for Master of Arts, University of Texas, Austin, December ۲۰۱۲)، ۱۲.

۲۷ Hernandez, "Balochistan and Nationalism"، ۱۹، ۲۵.

۲۸ Hernandez, "Balochistan and Nationalism"، ۱۲.

۲۹ ICRA, "Water and Conflict"، ۲۵.

په سویل لوېدیځ کې د طالبانو پخواني والي ملا رسول (چې په ۱۹۹۰لسیزه کې ایران وروسره یو څه نېږدې اړیکې هم لرلې) په ګډون د طالبانو له ډلو ملاتړ کوي څو د سلما او کمال خان پر بربښنا بندونو بریدونه وکړي او رغنیزې چارې یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي.[70] د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو په پراختیا او په دې اړیکو کې د نیمروز ونډې ته په کتو داسې لیدل کېږي، چې دا به د ایران له لوري د مذاکراتو یوه برخه وي، چې له افغانستان وغواړي څو د پورته یاد شوي تړون له مخې خپله وجیبه ترسره کړي او په بدل کې به یې ایران چابهار بندر ته د لاسرسي اجازه ورکړي.[71]

وروستۍ سیاسي ننګونه چې د ایران او افغانستان ترمنځ د دغو سوداګریزو اړیکو په پیاوړتیا کې ونډه لري له امریکا متحده ایالاتو سره د ایران اړیکې دي. دا اړیکې له ډېر پېچلي وضعیت برخمنې دي، چې د ۲۰۲۰ زېږدیز کال په جولای میاشت کې د ایران قدوس ګارد مشر جنرال قاسم سلیماني په وژل کېدو او ورپسې په عراق کې د امریکا متحده ایالاتو پر نظامي اډې د ایران له توغندیزو بریدونو سره لا ترېنګلې او په ښکاره دښمنۍ بدلې شوې. د نیمروز په تړاو باید وویل شي، چې د ایران او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ ژورې بدګمانۍ او د تقابل حداقل کچې ته رارسولو د لېوالتیا له کبله په یاد ولایت کې د بهرنیو ځواکونو شتون ډېر کم دی، چې یوازې امریکایي ځواکونو په دلارام کې یوه کوچنۍ لرله او د غربي پانګې د جلبولو لپاره خورا اړینه وه.

پردې سربېره د نیمروز خلکو لپاره د امریکا متحده ایالاتو او ایران د اړیکو تر ټولو مهم عنصر هغه بندیزونه دي، چې امریکا متحده ایالاتو پر ایران د اټومي هوکړې له پرېښودو وروسته د ۲۰۱۸ کال په اګست میاشت کې ولګول. دې بندیزونو د ایراني ریالو ارزښت په زیاته کچه راټیټ کړ، چې د نیمروز پر وګړو یې هم د پام وړ اغېزې درلودې، ځکه د دوی له ډلې زیاتره یې د موسمي کارونو په برخه کې پر ایران تکیه لري یا دا چې د زیاترو کورنۍ په ایران کې په دایمي ډول استوګنه لري. دا اغېزې یوازې پر قانوني اقتصاد نه، بلکې د نشه یي توکو او انسانانو پر قاچاق هم وې. د بېلګې په توګه د ډالرو او افغانۍ په وړاندې د ایراني ریالو ارزښت په راکمېدو ډېر کم شمېر افغانانو دا هڅه کوله څو ایران ته د مزدورۍ او کار کولو په موخه په قاچاق لاړ شي. د دې ترڅنګ د نشه یي توکو قاچاقبرانو هم زړه نه ښه کاوه، څو اپیم، خشخاش یا میتافیتامین د پولې هاخوا پر هغو سوداګرو وپلوري، چې په بدل کې یې ورځ تر بلې د ارزښت بایلونکي کرنسي ورکوي.

د کاغذي پیسو لپاره اړتیا هم د نیمروز او افغانستان په وړاندې د سوداګرۍ په برخه کې د ایران پر پالیسیو اغېز درلود. له یوې خوا یادې اړتیا ایرانیان له افغانستان سره سوداګریزو اړیکو او په دې اړیکو کې د نیمروز اړینې ونډې منلو ته وهڅول، له بلې خوا د افغان سوداګرو لپاره د سوداګرۍ لګښتونه لوړ شول، ځکه دوی د ویزې، خط السیر کتابچې او ډیزلو قیمتونه په ډالرو یا هم یورو وټاکل. په سیمه کې ځینو خلکو خو موږ ته دا هم ویلي دي، چې دا کار د قاچاق سوداګرۍ او زرنج ته څېرمه د رسمي پولې له لارې د مستقیمې سوداګرۍ هڅې پر بیا نوې کېدو د کتنې او سختوالي رامنځ ته کېدو لامل هم شو.

۷۰ "Johnson, "A Good Taliban, Bad Taliban Strategy.

۷۱ Aman, "Water Dispute Escalating," ۴-۵.

## ۴.۴ تاوتریخوالی

له تاوتریخوالو ډکو پېښو او شخړو په نیمروز ولایت کې د سوداګرۍ پر مسیر او د توکو پر نوعیت ډېرې کمې مستقیمې اغېزې لرلې دي. نیمروز هغه ولایت دی، چې د افغانستان نورو ولایتونو په تېره بیا د سویل او سویل لوېدیځ په پرتلې یې ډېر کم تاوتریخوالی او شخړې لیدلي دي. د سیمې ډېری اوسېدونکو په خبره، چې نیمروز ولایت د تاوتریخوالي تر ټولو لوړه کچه د کمونیستي رژیم پرمهال تجربه کړې ده، چې ایران ته د یاد ولایت د زیاترو وګړو د کډوالۍ لامل شو. خو دا تاوتریخوالی په داسې وخت کې و، چې د نیمروز له لارې ډېره کمه سوداګري کېدله، څو دا معلومه شي، چې تر کومې کچې یې پر سوداګرۍ اغېزه درلوده.


د دې ترڅنګ نیمروز د ناقانونه نشه یي توکو د سوداګرۍ له کبله هم ډېر کم تاوتریخوالی لیدلی دی. ګڼ شمېر لوبغاړي تر پولې پورې د اپیمو، خشخاشو، تریاکو دغه راز میتافیتامینو د لېږد لپاره د فراه، نیمروز او هلمند له ګڼ شمېر دښتو ګټه اخلي او د بوختیا لپاره د سوداګرۍ ډولونه هم زیات دي. څرنګه چې په تېره برخه کې ورته اشاره وشوه، په نیمروز کې د اپیمو د کروندې اړولو په برخه کې هم ډېر کم اقدامات ترسره شوي، یوازې په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې په دلارام او خاشرود کې تر یوې اندازې د قانون حاکمیت او کروندې اړولو لپاره هڅې ترسره شوې، خو یادې هڅې هم د نشه یي توکو لابراتوارونو په وړاندې د امریکایي ځواکونو هوایي بمبارد او کمپاین له لارې وې.

د دې پرځای داسې انګېرل کېږي، چې نیمروز په نورو ولایتونو په تېره بیا ګاونډیو فراه او هلمند ولایتونو کې له تاوتریخوالي په غیرمستقیم ډول ګټه ترلاسه کړې ده. په دغو دوو ولایتونو کې جګړې د دې لامل شوي څو شتمن خلک زرنج ښار ته لاړ شي، چې د دوی په پرتلې ډېر امن او د ودې په حال کې ښار ګڼل کېږي (۲۰ انځور وګورئ). دې کار له ځان سره په ملکیتونو او سوداګریو کې پانګونه راوړې، چې د نورو له لوري یې هرکلی شوی دی.

پر دې سربېره، تاوتریخوالي د نیمروز له لارې د سوداګرۍ د تراکم په زیاتوالي کې مرسته کړې ده. د بېلګې په توګه د سیمې اوسېدونکو په وینا د ډاکټر نجیب الله تر واکمنۍ پورې ایران ته د انسانانو د قاچاق یوازینۍ لاره د هلمند خانشین وه، چې له یادې لارې پاکستان او بیا ایران ته قاچاق کېدل. د مجاهدینو حکومت پرمهال په دې سیمه کې جګړو زور واخیست او د دې لامل شوې څو زرنج ښار مستقیماً ایران ته د انسانانو د قاچاق په مرکز بدل شي. یاد موقعیت د ایران له لوري د پولې له ولکې سره سره د نیمروز له لوري تر نن پورې په خپل حال ساتل شوی دی.

محدود شمېر تاوتریخجنو اقداماتو او د لارې په اوږدو کې غلاوې د انسانانو قاچاقبران اړ کړي څو له زرنج څه تر پولې پورې په صحرايي ساحه کې پر یو شمېر ځانګړو لارو له تګ ډډه وکړي. په چهاربرجک کې د درې هېوادونو پولې ته څېرمه سیمه، چې تر ډېره د خوښې وړ خو ستونزمنې لارې په توګه ورته کتل کېږي، ځکه په زیاته اندازه افغان ملي امنیتي ځواکونه په تېره بیا سرحدي پولیس د دې لپاره ګمارل شوي څو د کمال خان ډم د جوړېدو برخه وساتي؛ او د ایران/افغانستان/پاکستان پولې د سویل خوا ته وسله والو غلاوو ترسره کېدو ګواښ هم شته دی (۲۱ انځور وګورئ). انساني قاچاقبران د دې لارې په پرتلې د هلمند ولایت په دیشو کې د ډاک له لارې تر ټولو اوږدې خو امن لارې ته ترجیح ورکوي، چېرته چې طالبان نفوذ لري او په دې وروستیو کې یې له وسله والو غلاوو سره مقابله کړې ده او له منځه یې وړي دي.

۲۰ انځور: پورته انځورونه د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۹ کلونو ترمنځ د نیمروز ولایت په زرنج ښار کې وده په ډاګه کوي.



۲۱ انځور: نقشه د زرنج په سویل کې کمال خان بند ته څېرمه د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د اډو موقعيت په ګوته کوي.



## ۵.۴ تنظیموونکي رژیمونه

د تولید، سوداګرۍ او پولو دواړو غاړو ته د توکو پر لېږد حاکم مقررات او قواعد هغه لارې چارې دي، چې په ترڅ کې یې ګڼ شمېر دولتي او نادولتي لوبغاړي له ځانګړو سوداګریزو لارو توکي لېږدوي. پردې سربېره، د مالیاتو او تسهیلاتي فیس په ګډون د بېلا بېلو تادیاتو لپاره هم فرصت رامنځ ته کوي دغه راز د ملاتړو شبکو او ښکېلو کسانو لپاره د عوایدو ترلاسه کولو فرصتونه هم منځ ته راوړي. په ځینو سوداګریزو لاو کې دا قواعد رسمي بڼه لري او د دولت له لوري پلې کېږي، خو بل پلو په ځینو نورو کې بیا دا ځایي تړولني، خصوصي سکتور او وسله والې ډلې دي، چې د دې قواعدو پلي کیدل یې په واک کې دی.

په زیاترو حالاتو کې دولت د نورو ډلو له لوري د دې قواعدو د پلي کېدو دغه راز د قانوني او ناقانونه توکو په قاچاق کې د ښکېلتیا تورونو او ترې ترلاسه کېدونکي باج په وړاندې له مصلحت ګټه اخلي. دا مصلحت د هغه څه په ډاګه کوونکی دی، چې هولانډ (۲۰۱۴)[۷۲] یې د انعطاف یا مصلحت په نوم یادوي، چې په ترڅ کې یې دولت په خپلو داخلي سیمو کې د د ناقانونه اقتصاد توزیعي اړخونه په ضمني توګه په رسمیت پېژني او هغه خطرونه په پام کې نیسي چې اجباري اقدامات یې کولای شي دغو سیمو او په خپله دولت ته متوجه کړي، چې په پایله کې یې دولت نه غواړي خو قوانین په یادو سیمو کې له خپل اجرائیه ځواک په ګټې اخېستنې پلي کړي. له دې کبله ادعاء کېدلای شي، چې دا د تړولو اړخونو په ګټه ده، څو هر اړخ تر یوې اندازې ګټې ترې په لاس راوړي. نو په دې دلیل د قواعدو هغه پلي کیدل چې د باج ګیریو مخنیوی کوي یا هم د توکو د لېږد مخه نیسي د دولت یا هم نادولتي لوبغاړو له لوري، زیاتره په ځایي کچه ورته د یوې داسې هڅې په توګه کتل کېږي، چې لنډمهاله بڼه لري او د ګټو پر وېش یې خبرې اترې یا مذاکرات کېدلای شي، پرته له دې چې د یوې داسې هڅې په توګه وکتل شي چې د قانوني یا ناقانونه توکو سوداګري په دایمي توګه بنده کړي.

رسمي قواعد او مقررت په قوانینو کې تسجیل شوي او د دولتي ادارو له لوري پلي کېږي، چې په دې وروستیو کلونو کې یې په نیمروز ولایت کې د سوداګرۍ پر بڼو د پام وړ اغېزې لرلي دي. څرنګه چې په مخکنیو برخو کې هم ورته اشاره وشوه، د میلاک رسمي بندر له پرانېستل کېدو او د دواړو هېوادونو له لوري په رسمیت پېژندل کېدو دغه راز د زرنج له لارې د سوداګرۍ او راکړې ورکړې پر سر له هوکړې او په یاده سیمه کې له پانګونې وروسته په نیمروز کې د سوداګرۍ په برخه کې ژور بدلونونه رامنځ ته شول. د پولې فزیکي جوړښت، چې مخکې پرې بحث وشو، هم له دې کار سره مرسته کړې ده، خو د دې ترڅنګ د ایران له لوري وضع شوي نظارتي لارو چارو د نیمروز له لارې تر ایران پورې په سوداګرۍ کې د مرکزي نقطې په توګه د زرنج اهمیت د پام وړ ګرځولی دی.

د رسمي قواعدو تر تړولو ښکاره او غوره بېلګه په میلاک کې په رسمي بندر کې پیدا کېدلای شي. تر ۲۰۱۵ زېږدیز کال پورې افغان لوري ته کمېساري او ګمرکي سیستم او ایراني پلو ته یې ورته تاسیسات موجود نه وو.(۲۲ انځور وګورئ). حتی د ۲۰۱۲ کال تر وروستیو پورې په میلاک کې کوم مسلکي کارکوونکي، اسانتیاوو او نه هم داسې اسانچارې سیستم موجود و، څو په لوی د توکو لېږد ته داسې لار هواره کړي، لکه په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې؛ د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په منځنیو کې هره ورځ له میلاک څخه ۱۵۰ باروړونکي موټرونه تېرېدل، له دې ډلې ۴۰ یې د سیمنټو، ۳۵ یې د ډیزلو، ۱۵ یې د او سپنې او ۱۰ یې د خوراکي موادو وو، مګر په دې موټرو کې د موټرو پرزې چې له دوبی راوړل کېږي (۲ موټرونه) او له برازیل څخه راوارېدونکي غوښه (یو موټر) هم شامل وو. د نیمروز له لارې د رسمي سوداګرۍ اندازې تر ډېره له راټولو شویو مالیاتو سره مطابقت درلود. په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې له میلاک څخه د تېرېدونکي موټرونو پر سر ګڼ شمېر مالیات وضع شوي و، چې د ډیزلو له یو ټانکر څخه ۱,۴۰۵ امریکایي ډالره او د سیمنټو له یو موټر څخه ۷۵۰ امریکایي ډالره ګمرکي محصول ترلاسه کېده او د افغان حکومت لپاره یې د پام وړ عواید راټول کړي وو. دې کار د رسمي سوداګرۍ د پراختیا لپاره د انګېزې په پیاوړتیا کې ډېر د پام وړ رول درلود.

---

۷۲ Alisha Holland, "Forbearance: Theory and Measurement in the Study of Enforcement Politics," 2 October 2014. http://cpd.berkeley.edu/wp-content/uploads/2014/10/CP_Holland_14.2.10.pdf

۲۲ انځور: د زرنج ښار په میلاک بندر کې د پولو دواړو غاړو ته د تګ راتګ اسانتیاوې، ۲۰۱۹ زېږدیز کال.



د پولې بلې غاړې ته ایراني حکومت هم هڅه کړې څو سوداګرۍ ته د میلاک رسمي بندر له لارې تګلوري ورکړي او له دې لارې څخه د عواید و ترلاسه کولو او کاغذي پیسو په لاس راوړلو تمه لري. د بېلګې په توګه د تنظیمي اقداماتو له ډلې چې زیاترو ځواب ویونکو ورته اشاره کړې ده، هغو افغانانو ته د وېزې ورکړې په برخه کې کنټرول دی، چې غواړي ایران ته لاړ شي. که څه هم د پاسپورت او وېزې قواعدو ته هر وخت اړتیا وه، خو د سرحدي کنټرول تر رامنځ ته کېدو پورې نه پلې کېدل. تر هغه وخت پورې افغانان په ډېرې اسانۍ له پولې تېرېدلای شول او سیستان بلوچستان ته یې تګ راتګ کولای شو. د وېزې لګښت چې ۴۳۰ امریکایي ډالره دی، زیاتره یې د ورکړې توان نه لري او په دې اند دي، چې دا کار د سوداګرۍ او ایران ته د تګ په وړاندې یو خنډ دی. پردې سربېره ایراني حکومت د خط السیر اجازې لپاره (۲۵۳ یورو) او د موټرو لپاره د تېلو پر (۱۲۰) امریکایي ډالر وضع کړي دي، چې په ایران کې یې د سوداګرۍ لګښت لوړ کړی دی، او زیاتره په دې اند دي چې د کوچنیو سوداګرو لپاره د سوداګریزو فرصتونو په برخه کې یو محدودیت او خنډ دی.

چېرته چې رسمي څارنیز سیستمونه موجود دي، تر څنګ یې ورسره موازي نارسمي سیستمونه هم کار کوي چې زیاتره وخت د عوارضو رامنځ ته کېدو لامل هم کېږي. د ډیزلو په برخه کې د څارنې دا نارسمي اقتصادي سیستم تر ډېره د ایران په واک کې دی، چې په ملي کچه د لګښت او بهر ته د صادراتو لپاره یې اندازه ټاکي. په ځایي کچه دا خبره په رسمیت پېژندل شوې چې په کورنیو بازارونو (تر ډېرې کچې په سیستان بلوچستان) کې د خرڅېدونکو تېلو کیفیت بهر ته د صادرېدونکو تېلو د کیفیت په پرتلې لوړ دی. دا کار د دې لامل شوی څو له ایران څخه هغه تېل له پوې د بخوا قاچاق شي، چې د کورني خرڅلاو لپاره ځانګړي شوي دي؛ د تېلو اقتصاد په نیمروز کې د استوګنو وګړو د ژوند اړتیاوو د تامین لپاره ډېر مهم دی، ځکه ډیزلو ته د یادې سیمې د لومړني پولي واحد په توګه ورپسې ریالو او بیا افغانیو ته د پولي واحد په توګه ته کتل کېږي. د نیمروز ولایت په میلاک او د زرنج، کانګ او چهاربرجک ولسوالیو د زیاترو نورو دودیزو لارو څخه په بوتلونو (۱ څخه تر ۳ لېترو) او بوشکو (۲۰ لېتره) کې قاچاق کېږي. له هغه ځایه بیا زرنج ته لېږدول کېږي، هلته پر لویو سوداګرو پلورل کېږي، لوی سوداګر یاد تېل له کم کیفیت

لرونکو راوارد شویو تېلو سره کابل ته د هغوی تر لېږد وړاندې مخلوطوي. له پولې څخه تر زرنج ښار پورې د لارې په اوږدو کې په هره برخه کې د ځمکو مالکینو، سرحدي پولیسو او ملي پولیسو په ګډون ګڼ شمېر چارواکي او متنفذین خپل باج اخلي. دا ټوله باج اخېستنه په سرحدي سیمو کې د قواعدو او مقرراتو د کم تطبیق له کبله ده.

د باج اخېستنې ورته ډول سیستمونه د ناقانونه توکو پر لېږد رالېږد هم حاکم دي. دا سیستمونه د ځانګړو سوداګریزو لارو په ګټه کار کوي. څرنګه چې په مخکنۍ برخه کې مو تشریح کړل انساني قاچاقبران د چهاربرجک له لارې د انسانانو قاچاق او توکو لېږد رالېږد ته ترجیح ورکوي، ځکه که څه هم په اوږدو کې یې ځایي زورواکي، طالبان او حکومتي چارواکي حاکم دي چې ښایي هر یو له خپله اړخه پرې عوارض وضع کړي، خو بیا هم یاده لاره یو څه د ډاډ وړ او امن ده. که څه هم یاده لاره ډېره اوږده ده (د ایران پاکستان او افغانستان درې اړخیزې پولې ۱۵۰ کیلومتره لارې په پرتلې ډېر یانې د پاکستان/ایران پولې ته څېرمه تر مشخل پورې ۵۸۰ کیلومتره اوږدوالی لري) خو دا لاره ډېره امن او خوندي ثابته شوې ده. د لارې دې اوږدوالي د قاچاق پر لګښت هم اغېز کړی دی. د بېلګې په توګه په ۲۰۰۵ زېږدیز کال کې د ایران له لوري د سرحدي ولکې تر وضع کېدو وړاندې دا سې ویل کېږي، چې خلکو تر پولې پورې د قاچاق لپاره له ۱۵۰ تر ۱۸۰ امریکایي ډالرو پورې ورکول.[۷۳] په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې هر کډوال تر ایران پورې د قاچاق په مقابل کې ۷۱۵ امریکایي ډالر ورکول.

همدې ته ورته خوندیتوبونه له بکوا او دلارام څخه د پاکستان تر پولې پورې د لویې اندازې ناقانونه توکو د لېږد لپاره هم وړاندې کېږي. خو په مقابل کې یې تر هرې اندازې چې د توکو مقدار راکمېږي، باج پرې زیاتېږي او خوندیتوب یې راکمېږي او سوداګري له خنډ سره مخ کېږي. ښایي دا کار تر ډېره په زرنج او کانګ کې له نارسمي لارو د ناقانونه نشه یي توکو د کمې کچې دودیز قاچاق په برخه کې ډېر مروج وي. یادې سیمې یو مهال ازاد بازار و خو نن ورځ تر ډېره په نظارتي او محدودونکو مقرراتو لرونکو سیمو د بدلون په حال کې دي. د ایران له لوري پر پوله د تاسیساتو استحکام او پر پوله له سیمې سره د محدود و یا هېڅ تړاو لرونکو امنیتي ځواکونو ګمارلو د پولو دواړو غاړو ته د نشه یي توکو د لېږد لګښت او ګواښ لوړ کړ. د ایران او افغانستان دواړو هېوادونو سرحدي پولیسو ته د بډې

[۷۳] Elca Stigler, "Transnational Networks and Migration from Herat to Iran" (AREU Case Study Series, January ۲۰۰۵).

ورکړې دغه راز له بکوا څخه د ایران پولې هاخوا د خرڅلاو تر ځای پورې د اپیمو لګښت له کبله ګټه ډېره کمه پاتې کېږي، تر دې چې د یو کیلوګرام ګټه ۴۰ امریکایي ډالر کېږي.

چېرته چې د باج اخېستنې کچه متوسطه ده، هلته په کافي اندازه مالي او سیاسي ګټه هم ترلاسه کېږي او سوداګر کولای شي له تنظیمي قواعدو او اصلاحاتو سره ځان عیار کړي. د بېلګې په توګه داسې راپورونه و چې په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې د طالبانو له لوري په خاشرود کې پر توکو مالیات وضع شول له دې کبله سوداګر اړ شول څو په زرنج او کابل کې حکومت دغه راز طالبانو ته هم مراجعه وکړي، څو په دې هوکړې ته سره ورسیږي، چې طالب وسله وال په میلاک ګمرک کې د مالیاتو راټولولو لپاره خپل استازي وټاکي. دا فوق العاده حرکت د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۷ زېږدیز کلونو ترمنځ د زرنج–دلارام لویې لارې په اوږدو کې د طالبانو له لوري پر بار وړونکو موټرو د بریدونو له کبله ترسره شو. سوداګرو شکایت درلود، چې د دوی موټرونه هر وخت د طالبانو له لوري درول کېږي او پیسې ترې غوښتل کېږي، حتی له ځینو موټرو خو په بېلا بېلو سیمو کې د طالب قوماندانو له لوري له یو ځل زیات هم پیسې شوي دي. ځینې ډریوران خو حتی وهل کېدل او ټپي کېدل او ځینې نور یې له بار موټرو سره یو ځای دښتې ته لېږدول کېدل او هلته تر څو شپو ورځو پورې بند ساتل کېدل. بیا وروسته د طالب قوماندانو له لوري د دوی د مال له مالکانو سره اړیکه نیول کېده او د دوی د توکو او ډریورانو د خلاصون په بدل کې ترې پیسې غوښتل کېدې.

داسې ویل کېږي، چې پر دې ناهیلۍ سربېره چې د طالبانو دا کار د سوداګرو کار او زیار ته ډېر تاوان اړوي او قعطیت راکموي، د سوداګرو استازو پلازمېنې کابل ته له راتګ وړاندې د نیمروز والي ته مراجعه وکړه څو له مرکزي حکومت سره د طالبانو د مالیاتي رژیم د تنظیم او رسمیت پېژندل په برخه کې خبرې اترې وکړي. داسې ادعاوې موجودې دي، چې له دغو خبرو اترو وروسته هوکړه وشوه چې یو سوداګر–ځایي بلوڅ به د میلاک په ګمرک کې کېني څو د طالبانو لپاره مالیات راټول کړي. دې کار یوازې تر ۹ میاشتو دوام وموند او کله چې د ۲۰۱۸ کال په جولای کې طالب قوماندانان دې ته متوجه شول چې یوازې کم شمېر موټرونه د میلاک له لارې اوړي او نور یې له سرحدي سیمو تګ راتګ کوي. له دې وروسته د شپږو اونیو لپاره د طالبانو له لوري بندیان او ۱.۱۲ میلیونه امریکایي ډالر جریمه شول، نو سوداګر ایران ته وتښتېدل او طالبانو په غورغوري کې خپل ګرځنده تلاشي رامنځ ته کړه، چې له ایران څخه پر راوارد بډونکو بېلا بېلو توکو یې مالیات وضع کړي وي. دا مالیات او سمهال د هغو سوداګرو د لګښتونو یوه برخه ده، چې په زرنج کې سوداګري او کاروبار کوي، خو د حکومت د نرخ په پرتلې کمه ده او د کښته برخې په قیمتونو کې ځای پر ځای شوي دي.

دا او هغه نورې بېلګې چې دلته یې یادونه وشوه، د سیاسي او اقتصادي شبکو جال په ډاګه کوي، چې پولې ته د څېرمه سیمو د اقتصاد بنسټ ړدي. د طالبانو او حکومت په څېر له زورواکو سره تر مخ کېدو ورهاخوا، دوی له خپل اقتصادي او سیاسي نفوذ او ځواک ګټه پورته کوي، څو له دې لارې د سوداګرۍ جریان څخه مالي ګټې ترلاسه کړي او د زیات کنټرول وضع کېدو پرمهال پر خبرو اترو لاس پورې کوي. دا مطلقاً د درک وړ خبره ده، چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې سوداګر د طالبانو سرسخت پلویان وو، ځکه له دوی څخه د مجاهدینو حکومت او ګڼ شمېر ډلو د لارې په اوږدو کې پیسې اخېستې، خو طالبانو داسې یو تنظیمي رژیم ورته رامنځ ته کړ، چې دا لګښتونه او ګواښونه یې راکم کړل. سوداګر او هغه خلک چې له دې لارې د خپل ژوند اړتیاوې پوره کوي، دقیقاً همدې ته ورته ګټې لري.

## ۲.۴ شبکې او ملاتړ

د ملاتړو ډلو شبکې هغه بل عامل دی، چې په نیمروز ولایت کې یې د باج اخېستنې او موټرونو خالي کېدو ځایونو ته بدلون ورکړی دی. د بېلګې په توګه داسې ادعاوې کېږي، چې د مجاهدینو واکمنۍ پرمهال او بیا وروسته د کرزي حکومت په لومړنیو کلونو کې د بلوڅانو پیاوړي قوماندان کریم براهوي د نفوذ او حاکمیت له کبله ټوله ګټه بلوڅ قبیلې په تېره بیا د براهوي خپلې شبکه ته تلله. خو له ۲۰۱۲ کال وروسته نیمروز ته د نوموړي پښتون ځای ناستو هر یو امیر محمد اخندزاده او ورپسې محمد سمیع الله په تګ سره داسې ویل کېږي، چې د بلوڅو او پښتنو قبیلو ترمنځ د واک توازن بدلون موندلی دی. په فراه او هلمند کې د ناامنیو له کبله نیمروز ولایت ته د شتمنو پښتنو تګ هم په نیمروز کې د پښتانو سوداګرو له ورځ تر بلې زیاتېدونکي نفوذ سره مرسته کړې ده.

د پښتانو د حاکمیت زیاتېدو ښکاره بېلګه د انسانانو د قاچاق په سوداګرۍ کې تر سترګو کېدای شي. ځکه پخوا له زرنج څخه تر پولې پورې د انسانانو د قاچاق تنظیمونکې ډلې او چارې ټولې د بلوڅانو په واک کې وې، خو له ۲۰۱۴ کال وروسته له هلمند او فراه څخه د پښتانو سوداګرو په ورتګ سره یې بدلون وموند. د عیني شاهدانو په وینا په لومړیو کې د پښتانو شبکې د رامنځ ته کېدو په وړاندې مقاومت وشو او حتی په بازار کې د تاوتریخوالي او ناندریو راپورته کېدو دغه راز د ۱۵ ورځو لپاره د سوداګرۍ په ټپه درېدو لامل شو. د شخړې هوارې لپاره د دواړو قبیلو مشران سره کېناستل او په دې هوکړه وشوه، چې د پښتانو مسافرتي اجسنې دې هم جوړه شي. په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د دې سوداګریو له ډلې کم شمېر یې د بلوڅو په لاس کې وې او ځایي پښتانه په لویه کچه تر سویلي پولې پاکستان پورې د کډوالو په لېږد کې ښکېل وو.

پردې سربېره، بلوڅان د انسانانو په قاچاق کې پیاوړی لاس لري. د کریم براهوي زوی په چهاربرجک کې ولسوال دی، چې سویل ته د خلکو د لېږد په ګډون د توکو وړلو لپاره مهمه لاره ګڼل کېږي. د دېشو په ډاک کې له تېرېدو وروسته تر ایران پولې پورې کنترول د پاکستاني بلوڅانو په لاس کې دی. خو او سمهال بلوڅان نه هم د انسانانو په قاچاق او نه هم په نیمروز کې بله سوداګري په خپل انحصار کې لري. له دې په ډاګه کېږي، چې د افغانستان پولو ته څېرمه د سیاسي او اقتصادي قدرت جریان څه ډول دی.

# ۵. اصلي موضوعات یا د شنني ورکربنې چې لا زیاتې څېړنې ته اړتیا لري

د څېړنې دا لومړنۍ برخه د څېړنې څلور اصلي پوښتنې په ځان کې لري:

لومړۍ پوښتنه: د اساسي موادو تولید او لېږد لکه، معدني مواد، نشه يي او د سون توکي څنګه کولای شي پولې ته د څېرمه سیمو پر سیاسي او اقتصادي ثبات اغېز وښندي؟

دویمه پوښتنه: ایا دا اغېزې د لاندې توکو په شتون پورې تړلې: الف: غیرقانوني توکي یا ب: هغه قانوني توکي چې په غیرقانوني بڼه لېږدول شوي دي؟

دریمه پوښتنه: د بیلابېلو توکو او ترانسپورټي لارو د نسبي اهمیت د بدلون لپاره دلیل څه کېدای شي؟ او څنګه بیا د اقتصادي او سیاسي شبکو یا تاوتریخوالي سره تړاو لري؟

څلورمه پوښتنه: کومو لاسوهنو د دې توکو په تولید او لېږد کې مرسته کړې ده؛ کومو پرېکړو د دوی په طرحه او پلې کېدو کې رهنمايي کړې ده؛ نهایتاً څنګه دې لاسوهنو د پولو په سیاسي او اقتصادي ثبات اغېز وکړ؟

د څېړنې لومړۍ پوښتنې ته په کتو یانې دا چې د اساسي موادو تولید او لېږد لکه، معدني مواد، نشه يي او د سون توکي څنګه کولی شي چې د مرزي سیمو پر سیاسي او اقتصادي ثبات اغېر وښندي؟ د څېړنې دا لومړۍ مرحله یو شمیر لومړنۍ پایلې په ګوته کوي. تر ټولو اړینه دا چې دا څېړنه په مرزي برخو کې د غیرقانوني اقتصاد د نه مننونکې توضع ماهیت څرګندوي؛ او هغه درجې چې په هغو کې ټولنه او ډلې په مستقیم او یا غیر مستیقم ډول د قاچاقو په تولید او لېږد کې د سرحد په پورې غاړه کې دخیلوي. دا اقتصاد له څو قسمتي سفرونو څخه رغېدلی دی چې په هغو کې مختلفي سیمه ییز لوبغاړي په ځانګړو سیمو کې د تجارت او د اجناسو د حمل او نقل مسوول دي. دا اقتصاد د ولایت په سطحه د پام وړ عایدات او د اجارې پیسې بیلابیلو ډلو ته چمتو کوي. د بېلګې په توګه انساني قاچاقبران په هغو ولایتونو کې چې کډوال ترې راځي کمېشنکارانو دغه راز د زرنج په هوټلونو کې کارکوونکو او د مسافرتي اجنسیو استازو ته خپل کمېشن یا فیس ورکوي

او ګڼ شمېر ګروپونه د زرنج په ډاک کې د پیک آپ ډاټسنو او کښتیو له لارې له زرنج څخه د افغانستان – پاکستان تر پولې د لېږد رالېږد اړتیاوو په پوره کولو کې ښکېل دي. د لارو په اوږدو کې د ځمکو مالکانو، مفسدو چارواکو او طالبانو په ګډون په اته ځایونو کې نورو ډلو ته پیسې ورکوي د دې ترڅنګ نور سفر ته هم اړتیا پېښېږي او په موټرسایلکو یا هم پلې توګه خلک تګ کوي او له افغانستان څخه د پاکستان تر پولې بیا د پاکستان له پولې د ایران تر پولې هم پیسې ورکوي. د نشه يي توکو قاچاق هم په ورته بڼه ترسره کېږي، چې ګڼ شمېر ځایي متنفذین، زورواکي، چارواکي او وسله والې ډلې ترې خپل باج اخلي.

په دې شمېر ښکېل کسان، عواید او باج اخېستنې د اقتصادي څرخ تحرک دغه راز د دولت یا هم نورو خواوو له لوري پر دې ډول سوداګرۍ او تولید د محدودیت وضع کولو پرمهال د اعتراض، خبرو اترو او حتی له تاوتریخوالي د ډکو اقداماتو لپاره یوه پیاوړې فضاء رامنځ ته کړې ده. د دې ګروپونو له ډلې د زیاترو شبکه چې ځینې یې په ولایت یا مرکز کې له زورواکو سره هم اړیکې لري د دوی په وړاندې د چارواکو له لوري د اقداماتو ظرفیت رامحدودوي. د دې ځايي شبکې تر ټولو غوره بېلګه په نیمروز کې د سوداګرو هغه هڅه ده، چې غوښتل یې څو په غورغوري کې طالب قوماندانان تر فشار لاندې راولي چې د دوی له موټرو څخه باج اخېستو ته منظم سیستم رامنځ ته کړي او حتی له دولت یې وغوښتل چې په میلاک ګمرک کې د طالبانو یو استازي ته د کېناستو اجازه ورکړي. له ایران او پاکستان سره د افغانستان پر پوله د تېلو، نشه يي توکو، خلکو او نورو توکو د قاچاق په وړاندې د حکومت دوامداره مصلحت دا په ډاګه کوي، چې د دغو توکو ناقانونه اقتصاد توزیعي ماهیت لري او پولې ته د څېرمه پرتو سیمو د ژوند اړتیاوو په تاءمین کې مرسته کوي.

دویمه پایله چې د څېړنې له دې لومړني پړاو ترلاسه شوې ده، دا ده چې له افقي درزونو په برخمن اقتصاد کې د سوداګرۍ ترسره کولو لګښت خورا لوړ دی، چې ګټې او باج اخېستل دواړه راکموي او رامحدودوي. څرنګه چې په پورتنیو بېلګو کې ورته اشاره وشوه، د لارې په اوږدو کې د لېږدوونکو، کمېشنکارانو

او حتی د ځمکو خاوندانو په ګډون بېلا بېلې ډلې دي، چې پايد پيسې ورکړل شي. د دې ترڅنګ يو شمېر نورې ډلې بيا د خپلې زوراکۍ له مخې پيسې اخلي. د سوداګرۍ خورا لوړ لګښت او د افغانستان-ايران پر پوله، پوله ساتو ځواکونو او چارواکو ته د رشوت ورکړې له کبله ګټه ډېره راکمېږي، چې دې کار د کانګ په ولسوالۍ کې د نشه يي توکو له قاچاق سره مرسته کړې ده او سوداګر له غولکو په ګټې اخېستنې خپل خشخاش، اپيم او ميتافيتامين د ايران تر پولې اړوي.

دا څېړنه دا هم په ډاګه کوي چې د باج اخېستلو پر سر معمولاً مذاکرات او چانې وهل کېږي، او دې ته ګوري چې د زياتو مالياتو او باج وضع کول به د توليد مخه ونيسي او د عوايدو له لاسه ورکولو لامل به شي. د باج اخېستلو او مالياتو زياتولو لپاره يوه ستراتيژي هغه مهال ډېره اغېزناکه تمامېداى شي، چې له توليد ملاتړ وکړي او په لويه کچه د توکو په لېږد رالېږد کې مرستندويه ثابته شي. لکه د ننګرهار په څېر په نورو سرحدي سيمو کې چې باج اخېستل او حاکم مقررات د مذاکرې وړ او د نفوذ تابع دي، په نيمروز ولايت کې سوداګر د لارې په اوږدو کې د خونديتوب او امنيت په لټه کې دي او غواړي پر نامشخصو او زياتو مالياتو او باجونو مذاکرات وکړي او خپل توکي دغه راز خلک له هغو لارو ولېږدوي، چې تر يوه بريده ډاډمنې وي. د سوداګرۍ د اسانتيا په موخه پر فزيکي زېربناوو پانګونه او د رسمي تنظيمي رژيمونو رامنځ ته کول ( لکه د ميلاک په ګمرک کې د طالبانو له لوري د استازي ګمارلو مسئله ) د خصوصي برخې سوداګرو ته ډاډ ورکوي او دا فرصت ورته چمتو کوي څو د پولې دواړو غاړو ته په بازارونو کې د قيمتونو نوسانات او په ياد چاپېريال کې د سوداګرۍ پرمخ وړلو لوړ لګښتونه په غوره ډول مديريت کړي.

دا څېړنه په ډاګه کوي، چې ورته انګېزې د دې لامل شوي څو انساني قاچاقبران خپله تګ لاره له درې اړخيزې پولې څخه د هلمند ولايت ډاک ته بدله کړي. د زيات واټن او په ترڅ کې يې د ډيزلو لګښت لوړېدل او د سفر وخت پر زياتېدو سربېره دا لاره د انساني قاچاقبرو لپاره دا فرصت مساعدوي چې د تاوتريخوالي او غلا د خطر کچه او کمال خان بند ته څېرمه افغان سرحدي پوليسو ته د پيسو ورکړه چې له شک پرته د دوی پر ګټه هم اغېز لري، راکمه کړي.

د څېړنې دويمه پوښتنه په دې لټه کې ده څو معلومه کړي چې ايا پر سياسي او اقتصادي ثبات باندې د قانوني او ناقانونه توکو د اغېزو ترمنځ کوم توپير شته او که نه؟ په دې ځای کې د توکو د قانونيت او د سوداګرۍ کچې ترمنځ يو انشعاب تر سترګو کېږي. دا څېړنه موږ ته په ډاګه کوي چې په نيمروز ولايت کې د پولې دواړو غاړو ته د قانوني او ناقانونه توکو سوداګري له ايران سره د نارسمي سوداګرۍ دغه راز پر پوله د تا.سيساتو او حاکمو مقرراتو په نه شتون کې تر ډېره بريده پاشلې وه او ازاده بڼه يې لرله. که څه هم دا کار د ۲۰۰۵ زېږديز کال په لومړيو کې د ميلاک پل په جوړېدو او د نړيوال بندر په توګه د زرنج له پېژندل کېدو سره سم پيل شو ، خو اغېزې يې تر هغه مهاله نه وې محسوس چې په ۲۰۱۰ زېږديز کال کې ايران او افغانستان پر پاکستان د تکيې راکمولو له کبله د خپلو اقتصادي اړيکو پياوړتيا ته مخه کړه. د دې ترڅنګ هندوستان ته لاسرسی او په چابهار بندر کې د دوی پرله پسې پانګونه د دې لامل شوه څو د نيمروز ولايت اقتصاد په بې ساري ډول وغوړېږي او نيمروز ولايت د سوداګرۍ لپاره پر نړيوال دهليز بدل شي، چې په ۲۰۱۸ زېږديز کال کې يې د کندهار په پرتلې ډېر ګمرکي عوايد راټول کړي وو.

په همدې ډول د پولې پر اړوند تا.سيساتو پانګونې او په ميلاک/ زرنج کې د سوداګرۍ مقرراتو د نيمرزو سياسي اقتصاد ته بدلون ورکړ. د ايران له لوري پر پوله د کنټرول زياتوالي په تېره بيا د زرنج ولسوالۍ پولې ته څېرمه د ديوال جوړولو د ميلاک له لارې د سوداګرۍ په ترسره کولو کې مرسته کړې ده او د هغو قانوني او ناقانونه توکو کچه يې رامحدوده کړې ده، چې کېدلای شي د زرنج، کانګ او چهاربرجک په ولسواليو کې د نارسمي لارو څخه ولېږدول شي. د ميلاک او زرنج له لارې د قانوني توکو د سوداګرۍ له تنظيم سره د افغانانو لپاره د ويزې سيستم اجباري کولو او د افغانستان او ايران دواړو له لوري د تا.سيساتو جوړولو مرسته کړې ده. د دغو تا.سيساتو او موانعو اغېز پولې ته پر څېرمه سيمو ډېر جوت دی. پر پوله د قاچاق ګوابښ او لګښت په ډراماټيک ډول لوړ شوی دی او د اوږدمهاله وچکالۍ د اغېزو ترڅنګ له زياترو هغو سيمو يې د بې شمېره خلکو کډوالۍ ته لار هواره کړې ده، چې په ۱۹۹۰ يمه لسيزه کې يې د پام وړ وده کړې وه. دې کار د ناقانونه توکو پر لېږد هم اغېزې کړې دي، چې له پاکستان سره پر سويلي کرښه يې د ګڼ شمېر نارسمي سوداګريزو دهلېزونو پرانېستو ته لار هواره کړې ده، چې د طالبانو او خصوصي سکتور له لوري تر کنټرول لاندې ځايونو څخه تېرېږي. دا سې ښکاري چې په بلوچستان کې د پاکستان کرښې ته څېرمه د اغزن تار تاوول به دا سوداګريزې لارې له خطر او ګوابښ سره مخ کړي او سوداګر به دې ته وهڅوي څو د نويو سوداګريزو لارو د پيداکولو په لټه کې شي او ممکن دا کار له نيمروز په بشپړ ډول د پام اوښتو لامل شي، چې پر ځايي اقتصاد به هم ژورې اغېزې ولري.

د څېړنې دريېمه پوښتنه د دې ارزونه کوي چې د سوداګرۍ د بېلابېلو توکو د نسبي ارزښت او لېږد را لېږد د لارو تر منځ دلايل څه دي، او دا چاره څرنګه په اقتصادي او سياسي شبکو کې له بدلونونو او/ يا تاوتريخوالي سره تړلې ده. په دې برخه کې لومړنۍ څېړنه په فضا او زمان کې د سوداګريزو لارو د بدلون په هکله قوي او اساسي شواهد وړاندې کوي چې له يو لړ ژيوپولوټيکو، په زيربناوو باندې د پانګونې او شخړې له فکټورونو سره په ارتباط کې دي.

د پولو په سوداګرۍ کې د ژيوپولوتيک ونډې ته په کتو، په دې څېړنه کې جوته شوې چې جيوپولټيک د نيمروز له لارې د افغان حکومت په هغو هڅو کې ځومره اړين دی، چې غواړي د ايران او هندوستان دواړو په ملاتړ په دې وروستيو کې د افغانستان په سياسي او سوداګريزو اړيکو کې ځومره اړين دی. ايران او هندوستان د سوداګرۍ لپاره د نويو لارو په پرانبسته کې خپلې ګټې لري او له سيپيک سره د دوی د سيالۍ په پياوړتيا کې مرسته کوي. هغه پانګونه چې دوی په ميلاک کې د پل، له زرنج تر دلارام پورې د لويې لارې او چابهار بندر (له چابهار څخه تر زاهدان پورې د رېل پټلۍ) په ګډون پر زېربناوو کړې ده د دواړو هېوادونو مالي او سياسي ګټو ته اشاره کوي او ترڅنګ يې افغانستان ته د دخولي بندر په توګه د نيمروز رول پراخوي. يوازې د نيمروز له لارې نه بلکې د فراه ماهيرود او د هرات اسلام اقلعه له لارې له ۲ ميلياردو څخه د رسمي سوداګرۍ او د پام وړ نارسمي سوداګرۍ له کبله ايران په کابل کې په داسې حکومت کې ګټې لټوي، چې د تهران په ګټه کار وکړي. ايران په دې هڅه کې دی څو د امريکا متحده ايالاتو له لوري پر دوی د بنديزونو په ترڅ کې کاغذي پيسې ترلاه کړي او له افغان حکومت سره له نېږدې کار کولو ته لېواله دی څو د اوبو پر سر ورسره خپله تاريخي شخړه پای ته ورسوي او د سرکشو بلوڅانو غوسه راکمه کړي، له دې کبله به په افغانستان کې د ايران ستراتيژيکې ګټې د افغانستان پر روان سياسي جوړجاړي يانې سولې مذاکراتو له شک پرته خپلې اغېزې ولري - په تېره بيا په هغو خلکو چې په نيمروز کې دي د ايران سياسي او اقتصادي وضعيت او ګټې پرې ډېره اغېزه لرلای شي.

په ورته ډول له پاکستان سره اړيکې هم د نيمروز سياسي اقتصاد لپاره اړين دي. څرنګه چې د ايران له لوري پر پوله تاسیاستو او ديوال جوړولو د سوداګريزو اړيکو بڼه بدله کړه، د پاکستان له لوري پر پوله د اغزن تار تاوول چې په ۲۰۱۹ زېږديز کال کې بشپړ شو، حتماً به د ياد ولايت پر سياست او سوداګرۍ اغېزې ولري. خو د دغو دواړو هېوادونو د پولې نښلېدو په ځای کې يوه ستراتيژيکه خلاء موجوده ده، چې د ناقانونه نشه يي توکو او خلکو قاچاق ته لار هواروي او د پولو دواړو غاړو ته شبکې له دې ارزښتيز ځنځير عوايد او باج ترلاسه کوي. دا لا تراوسه روښانه نه ده، چې دا خلاء ولې پاتې ده او په دې نقطه کې د سرحدي کنټرول په نه موجوديت کې د چا ګټې تر ډېره خوندي کېدای شي.

د څېړنې دا پړاو په ډاګه کوي، چې شخړو او تاوتريخوالي د نيمروز پر اقتصاد يو څه مستقيمې اغېزې لرلې دي. خو ترڅنګ يې نيمروز تر ډېره له دې واقعيت ګټه پورته کړې، چې امن او خوندي دی. د نجيب الله رژيم پرمهال د جګړې له کبله د انساني قاچاق مسير بدلون او ورپسې له ۲۰۰۸ وروسته له فراه او هلمند ولايتونو څخه د نا امنيو له کبله د شتمنو خلکو ورتګ د ځايي اقتصاد د غوړېدا لامل ګرځېدلي دي. د وسله والو غلاوو په څېر محدود تاوتريخوالی د پولې له اقتصاد سره يو ځای شوی دی، نو سوداګرو له بديل لارو ګټه پورته کړې ده، او حکومتي چارواکو يا طالبانو د ګواښونو له منځه وړلو په وړاندې اقدام کړی دی، له دې کبله يې خپل ځان ته د باج اخېستنې لپاره لار هواره کړې ده. ښکاره بېلګه يې د چهاربرجک صحرا ده، چې طالبانو د غلو او تښتوونکو په وړاندې اقدام وکړ. دا ډول کړنې او د امنيتي ضمانتونو يا خونديتوب په تامين کې يې ونډه د باور رامنځ ته کولو لپاره ډېره اړينه ده، په تېره بيا د هغو خلکو لپاره چې د ناقانونه نشه يي توکو په قاچاق کې ښکېل دي.

د څېړنې څلورمه او وروستۍ پوښتنه د دې پلټنه کوي چې کومو لاسوهنو د دې توکو توليد او ټرانسپورټ کمزوری کړ؛ کومې پربکړې د دوی طرحې او د هغو پلې کېدو ته لاره هواره کړه؛ او په نهايت کې دې لاسوهنو د سرحدونو سياسي او اقتصادي ثبات څنګه تر خپل اغېز لاندې راوست؟ نهايتاً دا خبره د دې څېړنې دويمې پوښتنې ته په ځواب ورکړه کې ثابته شوې ده، چې پرېکړې څنګه ترسره شوې. لومړۍ پايله اخېستنې هغه اساسي رول ته اشاره کړې ده چې په فزيکي زيربناوو کې د توکو د توليد په هڅونې او ممانعت دواړو کې يې ونډه لوبولې، په ځانګړي ډول د معدني موادو سوداګري چې د هغو د استخراج اندازه او د حمل و نقل حجم ډېر اړين دی.

په ننګرهار کې د څېړنې په څېر دا دویمه څېړنه هغه ونډه په ډاګه کوي، چې زېربناوو نه یوازې د سوداګریزو لارو په بیا راژوندي کولو بلکې بیارغونه کې هم لوبولای دی. په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې له خندقونو، دیوال جوړولو، اغزن تار تاوولو، څارونکو ټاورونو نیولي بیا پر پوله د ګرځنده امنیتي ټیمونو تر ګمارلو پورې د ایران له لوري د ګواښونو په وړاندې وروستیو اقداماتو ته د هغو خلکو له لوري د لوبې بدلوونکي په توګه کتل کېږي، چې د خپل ژوند زیاته برخه یې د افغانستان او ایران پر پوله په قاچاق کې تېره کړې ده.

د میلاک پل او د توکو لېږد رالېږد لپاره د ګڼ شمېر اسانتیاوو ترڅنګ د دلارام سرک جوړولو د رسمي پولې او بندر له لارې د سوداګرۍ په تنظیم کې مرسته کړې ده او د تېلو، خلکو او نشه یي توکو د قاچاق په وړاندې یې لوی خنډ او محدودیت رامینځته کړی دی. د بازار خطرونو او لګښتونو لوړېدل د ګټو کمښت له ځان سره درلود، چې پر عمده او لوی شمېر توکو باندې یې زیات فشار وارد کړی دی. ځکه په لویه کچه سوداګري زیاتې پانګې او ځواکمنو ملاتړو شبکو ته اړتیا لري. په ورته ډول دودیز کوچني سوداګر چې د پولو دواړو غاړو ته سوداګري کوي، ډېر زیات شوي، او د ناقانونه نشه یي توکو په قاچاق کې پر داسې نوښتونو تکیه کوي، چې د دوی لګښتونه راټیټ کړي او کاروبار یې په خپل حالت پاتې شي.

له نشه یي توکو سره د مبارزې اقداماتو په خپل ذات کې د دې ولایت پر سیاسي او اقتصادي ثبات کومه مستقیمه اغېزه نه ده لرلې. د ننګرهار، هلمند او بلخ په څېر په نیمروز کې د کوکنارو پر کښت د بندیزونو لګولو کومه هڅه نه ده ترسره شوې. د کرنیزې ځمکې کمښت او د نیمروز ولایت په اوبو کې د مالګې زیاتوالي له کبله د ژورو څاګانو کېندلو له ټکنالوجۍ پراخ هرکلی شوی دی او په یاد ولایت کې کرنه تر ډېره د بازار شرایطو ته په کتو ترسره شوې ده. د هروئینو د تولید کارخونو له منځه وړلو هڅو هم ډېرې محدودې اغېزې لرلې دي. خو پر پوله د ایران له لوري تاسیساتو په یاد ولایت کې د نشه یي توکو پر سوداګرۍ د پام وړ اغېزې لرلې دي. پردې سربېره، د سوداګرۍ کچې ته له پام پرته پر پوله دیوال او اغزن تار تاوولو د سوداګرۍ په سیستماتیک کولو کې رول لوبولی دی، او سوداګري یې یوازې د هغو خلکو لاس ته غورځولې ده، چې کافي پانګه لري، زورواکي دي او له لوی ملاتړ برخمن دي. دوی د کاروانونو له لارې د پاکستان له پولې یا هم د میلاک بندر له لارې خپل توکي قاچاق کوي. د نشه یي توکو د قاچاق پاشلې سوداګرۍ بڼه چې پخوا رایجه وه او پولې ته د څېرمه زیات شمېر وګړو د ژوند اړتیاوې یې پوره کولې، نن ورځ ډېره له خطر او لګښت سره مل ده ځکه د قاچاق په بڼو کې نوښت رامنځ ته شوی.

# ۶. پایله او پراخ عواقب

د څېړنې دا لومړنۍ مرحله اکتشافي وه. دا طرحه په ځانګړي ډول د جګړې په سیمو کې د غیرقانوني اقتصاد په اړه د څېړنو پر اړوندو خنډونو د غلبې او د نشه يي توکو په اړه د حاکمو رسمي او علمي ادبیاتو په اړه جوړه شوې ده. په دغو څېړنو کې د نشه يي توکو د برخې د معتبرو سازمانونو لکه د ملګرو ملتونو سازمان د نشه يي توکو او جرمونو ضد دفتر او نورو ادارو له شمېرنو څخه کار اخېستل شوی دی او په معمول ډول شخړې او یا د هغو د کنټرول لپاره هڅې د اقتصادي فعالیتونو د اصلي عامل، د ټولنیزو بدلونونو او په سرحدي سیمو لکه نیمروز کې د جګړې د لومړني چلوونکي په توګه وړاندې کوي. په ورته ډول د ناقانونه نشه يي توکو کښت، تولید او تجارت یا د مخدره توکو ضد لاسوهنې، د ټولنیزو ناورینونو، بې ثباتۍ او جګړو یوازینۍ لامل په داسې حال کې رامنځته کېږي چې د مختلفو لومړنیو څیزونو تولید او سوداګري روانه وي.

د دې څېړنې موخه په هغه حالت کې د غیرقانوني نشه يي توکو د ونډې معلومول نه دي، چې د پراخ سیاسي اقتصاد په منځ کې یې کښت، پروسس او سوداګري ترسره کېږي ؛ بلکې د افغانستان، پاکستان او ایران په ګډه پوله په فزیکي، سیاسي او اقتصادي ساحه کې په کلکه توګه د نشه يي توکو کشفول یې موخه ده. د نورو اجناسو په تولید او سوداګرۍ کې د شامل استعلام پراختیا د یوې وسلې په چمتو کولو کې مهمه وبلله چې له مخې یې د مختلفو اجناسو، لارو، لوبغاړو او د اختلال د دورو نسبي اهمیت ځانګړی کوي چې ایا کوم ځانګړي څه د غیرقانوني نشه يي توکو د اقتصاد په اړه او یا هم نور څوک شته دي چې خپل تولید او سوداګري د نورو توکو له زنځیرونو څخه په دې د بحث وړ سرحدي سیمو کې وړاندې کړي.

د څېړنې دا لومړۍ مرحله د میتودولوژۍ د پېژندنې پر اساس جوړه شوې چې د څو کلونو په اوږدو کې د لومړنۍ څېړنې د دربوو شریکانو له لوري چې په رهبرۍ کې یې یو لیکوال هم موجود و، ترسره شوې ده. دا کړنه د یوه عملي او باتمرکزه کار د ترسره کېدو لپاره ترسره شوې چې په هغې کې په ډېر لوړ کیفیت سره د سپوږمکۍ انځورونه د وخت او ځای له دقیقې تجزیې سره یو ځای د څېړلو، تایید او د امکان په صورت کې په هغو سیمو کې څېړنه ترسره شوې چې هلته وضعه ډېره کړکېچنه وه، ولې ناممکنه نه وه. دا لومړی ځل و چې له دې کړنې (څیړنې) نه په ګټه اخیستنې سره په مشترک ډول د څو کلونو لپاره څو کسانو کار واخیست؛ ترڅو زراعتي محصول وڅېړي. د ځانګړي انځوري لاسلیک لرونکې پدیده له لرې څخه د سنجش لپاره ده چې د قانوني او غیرقانوني سوداګري او حمل او نقل توکو د څېړلو لپاره ځای پرځای شوې ده.

ددې کړنلارې یو له اړینو عناصرو څخه په دې برخه کې د مصاحبې یا خبرواترو جوړول دي، ترڅو د مال، ځای، ونډه او دندې له نظره تفکیک ته قایل شوو او په هغه څه چې خلک یې ترسره کوي، تمرکز پیدا کړو، نه په هغه څه چې دوی یې فکر کوي. دا د څیړنې په دې لومړي مرحله کې د مختلفو قطعاتو، چک پوینټونو او اجناسو د نسبتا بااهمیته طرحې او د معلوماتو د چمتوکولو او اجزاو د تصدیق لپاره اړین و. په داسې حال کې چې د نشه يي توکو په ونډې پورې اړوند روایات او برداشت او د نشه يي توکو د کابو کولو هڅې ارزښتمنې وې، په دې لومړنۍ مرحله کې هڅه شوې چې د مخاطبینو د پوهې او عمل له ادعاوو څخه ډډه وشي او په سرحد کې د کړنلارې ورځنیو واقعیتونو ته په کتو توتکو او مارکیټ ته پاملرنه وکړي.

د څېړنې دا مرحله د نشه يي توکو د اهمیت په اړه بحث کوي نه خپله په نشه يي توکو، په ځانګړي ډول په دې مرحله کې له هغو کسانو سره پر خبرو اترو تاکید شوی چې په نیمروز او ننګرهار ولایتونو کې په خپله د نشه يي توکو په تولید، سوداګري او همدارنګه د تریاکو، هرویینو او خاشخاشو په لېږدولو کې په مستقیم ډول دخیل دي. همدارنګه د نشه یي توکو د هغه سوداګري په اړه پوهاوی چې په یوه سیمه کې ترسره کېږي. د کړنلارې د پېژندلو د یوې وسیلې په توګه، کولی شي دا ډول څېړنه حساسه کړي او د ګواښونو، انکار، مبالغې او پرمختګ یو شمیر برخې د ښکېلو خلکو پواسطه په سوداګري کې راکمې کړي. دا د ځواب ویونکو هغه تمایل هم راکموي چې هر ډول ټولنیزې، اقتصادي، سیاسي او له چاپېریال پورې اړوند پېښې په مستقیم ډول د غیرقانوني نشه يي توکو تولید او سوداګرۍ ته منسوبې کړي.

پردې سربېره، دا هڅې ددې لپاره دي چې د نشه يي توکو په اړه له خلکو سره بحث وکړو او په هغه څه تمرکز وکړو کوم چې خلک يې ترسره کوي او همدارنګه له هغو کسانو سره مرکې او خبرې اترې وکړو چې د نشه يي توکو او هېروينو په کاروبار کې ښکېل دي؛ همدا راز د نشه يي توکو په کاروبار کې له ښکېلو دولتي چارواکو سره خبرې وکړو چې دا کار ډېر سخت هم دی. دا کارونه د مخاطبينو يوه اوږد وخت ته اړتيا لري او همدارنګه د دې اړتيا هم شته چې د څېړنې شريکان او ځواب ويونکي هم د ډاډ وړ يوې دورې ته په تمه پاتې شي. همدارنګه ددغو موادو د خپرولو لپاره د اطلاعاتو يوه حساس سيستم ته اړتيا ده ترڅو دا مواد عام او تر ټولو ورسېږي. نهايتاً، د څېړنې لومړۍ مرحلې به په افغانستان کې د ناقانونه اقتصاد په اړه د څېړنو د ترسره کولو شبکې رامنځته کړي؛ مګر له جګړې څخه په اغېزمنو سيمو کې يې د ورته کارونو لپاره د ميتودولوژۍ په جوړښت هم کار کړی دی، چېرې چې قوي او د تاييد وړ ډېټا ډېر ځله د لاسرسي وړ نه ده جوته شوې.

# مآخذ


Afghan Biographies. “Mullah Mohammed Rasul Akhund”, 30 November 2018, http://www.afghan-bios.info/index.php?option=com_afghanbios&id=3426&task=view&total=3357&start=1972&Itemid=2 (accessed 27 August 2020).

Afghanistan Institute for Strategic Studies. “Strategic Analysis of the Chabahar Port: Afghanistan-Iran-India Relations”, AISS-P-013-2018, Kabul 2018. https://www.slideshare.net/RobSentseBc/afghanistan-iran-india-relations-march-2018 (accessed 27 August 2020).

Aman, Fatemah. “Water Dispute Escalating between Iran and Afghanistan”, Atlantic Council, Issue Brief, August 2016, pages 3-4,

Barfield, Thomas. Afghanistan: A Cultural and Political History. Princeton, NJ: Princeton University Press, 2010.

BBC. “US Meth Lab Strikes in Afghanistan Killed at Least 30 Civilians, Says UN”, 9 October 2019. https://www.bbc.co.uk/news/world-asia-49984804 (accessed 27 August 2020).

Chouvy, Pierre Arnaud. “Opium: Uncovering the Politics of the Poppy”, London: IB.Taurus, 2009.

The Diplomat. “Afghanistan’s Forgotten Province”, 1 December 2010, https://thediplomat.com/2010/12/afghanistans-forgotten-province/ (accessed 27 August 2020).

Dudley, Dominic. “War of Words Heats Up between Iran and Afghanistan over Water Resources”, Forbes, 12 July 2017. https://www.forbes.com/sites/dominicdudley/2017/07/12/iran-afghan-water-dispute/#5f27b826203c (accessed 27 August 2020).

Dwyer, Johnny. “The US Quietly Released Afghanistan’s ‘Biggest Drug Kingpin’ From Prison. Did He Cut A Deal?”. The Intercept, 1 May 2018. https://theintercept.com/2018/05/01/haji-juma-khan-afghanistan-drug-trafficking-cia-dea/ (accessed 27 August 2020).

Farooq, Khesrew Omid. “Chabahar Port a Step Toward Connectivity for India and Afghanistan”, The Diplomat, 3 July 2019, https://thediplomat.com/2019/07/chabahar-port-a-step-toward-connectivity-for-india-and-afghanistan/ (accessed 27 August 2020).

Financial Tribune. “Iran Biggest Trade Partner of Afghanistan in 2017-18”, 8 April 2018. https://financialtribune.com/articles/economy-domestic-economy/84309/iran-biggest-trade-partner-of-afghanistan-in-2017-18 (accessed 27 August 2020).

Flowminder. “Final Population Mapping for Afghanistan 2017” Unpublished Report, page 18.

Foschini, Fabrizio. “Economy and Development: Bad Lieutenants in Nimroz”, 23 August 2011, https://www.afghanistan-analysts.org/bad-lieutenants-in-nimruz/ (accessed 27 August 2020).

Habibzada, Mohammed. “Taliban Rebels Impose Taxes on Media Outlets in Restive Ghazni”, Voice of America, 21 February 2018, https://www.voanews.com/extremism-watch/taliban-rebels-impose-taxes-media-outlets-restive-ghazni (accessed 27 August 2020).

Hernandez, Edward Joy. “Balochistan and Nationalism.” Report for Master of Arts, University of Texas, Austin, December 2012, page 16. https://repositories.lib.utexas.edu/bitstream/handle/2152/19906/hernandez_report_20129.pdf?sequence=1&isAllowed=y

Holland, Alisha. “Forbearance: Theory and Measurement in the Study of Enforcement Politics”, 2 October 2014, http://cpd.berkeley.edu/wp-content/uploads/2014/10/Holland_BerkeleyCP_10.02.14.pdf (accessed 27 August 2020).

Independent Conflict Research & Analysis (ICRA). “Water and Conflict: The Growing Challenge”, Discussion Paper, 2018.

Johnson, Casey Garret. “A Good Taliban, Bad Taliban Strategy for the US and Afghanistan?”, The Diplomat, 28 May 2016. https://thediplomat.com/2016/05/a-good-taliban-bad-taliban-strategy-for-the-us-and-afghanistan/ (accessed 27 August 2020).

Khaama. “NDS Special Force Storm Taliban Hideout, Prison And Drug Lab in Nimroz Province”, 14 March 2019, https://www.khaama.com/nds-special-force-storm-taliban-hideout-prison-and-drug-lab-in-nimroz-province-03483/

Larson, Anna. “Governance Structures in Nimroz”, AREU Case Study Series. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2010.

Mansfield, David. A State Built on Sand: How Opium Undermined Afghanistan. Oxford: Oxford University Press, 2016.

Mansfield, David. “Mules, Pickups and Container Traffic: Cross Border Production and Trade and How It Shapes the Political Economy of the Borderland of Nangarhar” Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2020.

Mansfield, David. “Understanding Control and Influence: What Opium Poppy and Tax Reveal about the Writ of the Afghan State”. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, August 2017.

Mansfield, David. “Denying Revenue or Wasting Money? Assessing the Impact of the Air Campaign Against ‘Drugs Labs’ in Afghanistan”. London School of Economics, International Drug Policy Unit, April 2019.

Mansfield, David. “The Sun Cannot Be Hidden by Two Fingers: Illicit Drugs and the Discussion on a Political Settlement in Afghanistan”. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, May 2019.

Mansfield, David. “Partner Consultation for Afghanistan Case Study”, Workshop report for GCRF Drugs and (Dis)order, November 2016.

Mansfield, David, and Alex Soderholm, “New Airstrikes Obscure A Dramatic Development In The Afghan Drugs Industry- The Proliferation Of Low Cost Methamphetamine”, London School of Economics blog, 28 May 2019, https://blogs.lse.ac.uk/usappblog/2019/05/28/new-us-airstrikes-obscure-a-dramatic-development-in-the-afghan-drugs-industry-the-proliferation-of-low-cost-methamphetamine/ (accessed 27 August 2020).

Mogelson, Luke. “The Scariest Little Corner of the World”, The New York Times Magazine, 12 October 2012. https://www.nytimes.com/2012/10/21/magazine/the-corner-where-afghanistan-iran-and-pakistan-meet.html (accessed 27 August 2020).

National Statistics and Information Authority, Islamic Republic of Afghanistan. “Afghan Statistical Year Book 2018-2019”, Issue No. 40: 230-36. July 2019.

Noorzai, Khalili, and Habibzada Mohammed, “Taliban Looking for New Means to Support Insurgency in Southern Afghanistan”, Voice of America, 7 January 2018, https://www.voanews.com/extremism-watch/taliban-looking-new-means-support-insurgency-southern-afghanistan; (accessed 27 August 2020).

Pakistan Business Council, “Afghanistan’s Transit Trade Patterns Pre and Post APTTA,” June 2015. https://www.pbc.org.pk/wp-content/uploads/AfghanistansTransitTradePatternsPrePostAPTTA.pdf

Patterson, Anna. “Understanding Markets in Afghanistan: A Study of the Market for Petroleum Fuels”, Kabul: Afghanistan Research Evaluation Unit, 2005.

Ramin, “Ministry in Quest of Funds for Completing Vital Dam Project”, Pajhwok, 29 November 2015. https://www.pajhwok.com/en/2015/11/29/ministry-quest-funds-completing-vital-dam-project (accessed 27 August 2020).

Rasmussen, Sune Engel. “On the Edge of Afghanistan.” Foreign Policy, 12 September 2017. https://foreignpolicy.com/2017/09/12/on-the-edge-of-afghanistan-taliban-iran-war-united-states/ (accessed 27 August 2020).

Rempfer, Kyle. “Airstrikes Against Taliban Drugs Labs Extend to Western Afghanistan”, Military Times. 10 April 2018. https://www.militarytimes.com/flashpoints/2018/04/10/airstrikes-against-taliban-drug-labs-extend-to-western-afghanistan/ (accessed 27 August 2020).

Risen, James. “Propping Up A Drugs Lord, Then Arresting Him,” New York Times. 10 December 2010. https://www.nytimes.com/2010/12/12/world/asia/12drugs.html (accessed 27 August 2020).

Rzehak, Lutz. “Remembering the Taliban” in The Taliban and the Crisis of Afghanistan, eds. Robert Crews and Amin Tarzi. Cambridge, MA: Harvard University Press, 2008.

Sawhney, Asha. “Chabahar Port: Unlocking Afghanistan’s Potential”, New Perspectives, April 2019, https://csis-prod.s3.amazonaws.com/s3fs-public/NewPerspectives_APRIL2019_Sawhney.pdf

SIGAR, “Counternarcotics: Lesson from the US Experience in Afghanistan”, June 2018. https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-18-52-LL.pdf

Stigler, Elca. “Transnational Networks and Migration from Herat to Iran”, Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2005.

Swedish Committee for Afghanistan. “Farming Systems of Nad e Ali District, Helmand Province.” In: Agricultural Survey of Afghanistan, Report 15, 1. Peshawar: Swedish Committee for Afghanistan, 1992.

Tim, Baba. “The Counterinsurgency Fight in Zaranj, Afghanistan, 2010-2012” 24 May 2019, https://thefreqmedia.com/2019/05/24/analysis/patbristol70/the-counterinsurgency-fight-in-zaranj-afghanistan-2010-2012/ (accessed 27 August 2020).

United Nations Assistance Mission Afghanistan and United Nations Human Rights, Office of the High Commissioner, “Afghanistan Protection of Civilians in Armed Conflict, Special Report: Airstrikes on Alleged Drug Processing Facilities, Farah 5 May 2019”, Kabul, October 2019.

United Nations Office of Drugs and Crime (UNODC). “Afghanistan Opium Survey”, Kabul: UNODC, 2003-18.

U.S. Department of Defense News Transcript, Department of Defense Press Briefing by General Nicholson in the Pentagon Briefing Room, December 2, 2016, https://www.defense.gov/Newsroom/Transcripts/Transcript/Article/1019029/department-of-defense-press-briefing-by-general-nicholson-in-the-pentagon-brief/

Wadsam. “Completion of Kamal Khan dam in Nimroz province”, 3 December 2018, https://wadsam.com/afghan-business-news/completion-of-kamal-khan-dam-in-nimroz-province-232/ (accessed 27 August 2020).

Whitney, John. “Geology, Water, and Wind in the Lower Helmand Basin, Southern Afghanistan”, Scientific Investigations Report 2006-5182, US Department of the Interior. US Geological Survey, 2006.

Zurutuza, Karlos. “Afghans Living Under the Shadow of Iranian Guns”, Al Jazeera, 15 October 2014. https://www.aljazeera.com/indepth/features/2014/10/afghanistan-shooting-nimroz-iran-taliban-2014101471028888751.html (accessed 27 August 2020).

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(بشکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډیرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکي ( مولف) | په دري ژبه | په پښتو ژبه | د څیړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سپتامبر ۲۰۲۰ | په افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون: موضوعي څېړنه | شکریه آزادمنش، احسان الله غفوری | √ | √ | جندر (جنسیت) | موضوعي څېړنه |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه: د پولو دواړو غاړو ته تولید او سوداګري او د نیمرزو پولې ته څېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې یې رول | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څیړنه |
| جولای ۲۰۲۰ | افغانستان کی له کاوید ۱۹ نه دجندر په هکله خبرداری | | | | XII: د کاوید ۱۹اغیزه پرهغو ښځو چې د کوکنارو له کرهنی سره تراو لری | جندر |
| جولای ۲۰۲۰ | د قاطرانو او نقلیه وسایطو تګ راتګ: دپولی هاخوا تولید او سوداګری او دننګرها د سیاسی اقتصاد جوړیښت | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی څیړنه |
| جون ۲۰۲۰ | کله چې اوبه وچیږي: کله چې د افغانستان په سویل لویدیځه دښته کې اوبه وچیږي او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کېږي، څه باید وشي؟ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | توضیحی پاڼه |
| می ۲۰۲۰ | د هلمند خوړه زون: یوه خیالي بریا | شهلا متین | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| می ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکي لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| اپریل ۲۰۲۰ | کله چې اوبه ختمیږي: د سویل لویدیځ افغانستان د دښتو ظهور (او حتمی زوال) او پرکېوالی ، کوکنارو او ثبات بې اغیز | دیوید منسفیلد | | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تلفیقی څریزه |
| اپریل ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکي لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تحلیلی څیړنه |
| مارچ ۲۰۲۰ | په افغانستان کې ټکنالوژي او بشري مرسته: په ناامنه شرایطو کېد معلوماتو راټولولو لپاره له ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیسته | داکتر رودریګو مینه | | | ټولنیز ملاتړ | تحلیلی څیړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مارچ ۲۰۲۰ | آیا د افغانستان دولت د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمینځ په شخړه کې په بریالي ډول مداخله کولای شي؟ | داکتر انتونیو جیستوزی | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| جنوری ۲۰۲۰ | مالیه: د دولت جوړولو لپاره اړین شرط، په افغانستان کې د مالیې سیستم ته یوه کتنه | داکتر سراج الدین ایثار | | | حکومتولي | د پالیسی نوټ |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کی د کوچیانو د میشتیدنی بهیرونه او پر شخړی در هغوی اغیزی | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۸ غبرګولې | لمر په دوو ګوتو نه پټیږي | ډویډ منسفلید | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څیړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسي د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسي د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څیړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمی د اوسیدونکو ترمنځ ښخړی | تحلیلی څیړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څیړنه :په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمها یا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څیړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کندیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |



drugs & (dis)order

ISBN 978-9936-641-62-4

نشه يي توکي او بې نظمۍ يا (نظم) د (Global Challenges Research Fund) څلور کلنه څېړنيزه پروژه ده چې په افغانستان، کولمبيا او ميانمار هيوادونو کې د نشه يي توکو له ناقانونه اقتصاد د سولې اقتصاد د تګ څرنګوالي په برخه کې اړين شواهد وړاندې کوي.

پ‌ه دې څېړنه کې وړاندې شوي نظريات د ليکوالانو دي او د نړيوالو ننګونو د څېړنې بودجې په سازمان، برېتانيا حکومت يا هم همکارو سازمانونو پورې تړاو نه لري.

Drugs & (dis)order 2020 ©

Twitter: @drugs_disorder

Website: www.drugs-and-disorder.org

دپښتی انځورونه: د اچين ولسوالی په مهمند دری کی د تالکو زيرمی.